


پښتو ته دوهم ادبي سوغات

دَ
عبدالقادر خان خټک
دیوان

قندهار

دَ عبدالقادر خان خټک
دیوان

چی دَ اعلیحضرت پښتون محمد ظاهر شاه په عصر کښ دَ ع،ش سردار محمد داؤد خان د قندهار ملکی او لښکری مشر په امر او پښتو پالَنَه، په قندهار کی په هغو مصارفو چه دَ دارالحکومګئ په واک دِی، له دوو قلمی نسخو څخه لمړئ پلا چاپ او خپور سو.

مدون او مصحح: عبدالحی حبیبی

دَ طلوُع افغان مدریر
قندهار: تله د ۱۳۱۷ کال
لمړی چاپ (۵۰۰) جلد

اهداء

دَ پښتو ژبی دَ ادب دا دوهم اثر، هم د څلمی ښاغلی اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پښتون ټولواک و لوَړ حضور ته وړاندی کیږِی، چه دَ دُوی عصر دَ پښتو او پښتونوالی دَ ژوندون او نهضت دوره دَه.

قندهار ۱۰ دَ تلی ۱۳۱۷
(محمد داؤد)

دَ مدون له خوا

دَ کتاب له ویونکوُ سَره یَو څو ویناوِی

لس نیم کاله دمخه چه زمونږ په وطن کی دَ انقلاب او ورانۍ اوربل وُ، ما ته دَ پښتو دَ یوه لوړ ادیب او شاعر، عبدالقادر خان خټک دَ خوشحال خان خټک دَ زوی یو نادر قلمی دیوان په لاس راغَی، هغه وخت خو زما په زړه کی لا هم نه را گرزیده چه یَو وخت دِ زه دَ پښتو دَ ادب، دَ دغه گرانبها اثر په طبع او نشر کامیاب سم.

وروسته چی دَ وطن پر افق دَ نجات لمر را وختی، او ورځ په ورځ دَ وطن له نورو چارو سره علم او ادب هم ښه رونق وموند، نو هر کله ما غوښته، چه دَ پښتو دا ورکیِ مرغلَرِی و خپلو ورُونو ته وسپارم، پنځه کاله دمخه خوشبختانه دَ دغه دیوان یَوه بله بشپړه نسخه هم ما په قندهار کی وموندله، دا نسخه تر هغی پخوانۍ نسخې خوشخطه او کامله او صحیحه وه. په ډیر شوق می دواړه نسخې سَره مقابله کړې، او یوه صحیحه او بشپړه نسخه می له دواړو څخه نقل کړه.

دا قیمتی اثر ما ته دغسی پروت وُ، او دا ارمان می په زړه کښ وُ، چه کله به دغه امانت، پښتنو ته ورسَوَم؟ او دَ خپل زیار او منبو د خوږه میوه به وخورم! ځکه چه دا کتاب تر اوسه هیچیری ندَی چاپ شوَی، او ډیر نادر دَی، نو به دَ پښتو ژبی مینانو هم هر کله ما ته دَ دغه دَ طبع او نشر تشویق را کاوه، او تل به ئې هیله کوَله.

دَ اعلیحضرت پښتون ټولواک محمد ظاهر شاه، دوره خو دَ پښتنو او دَ پښتو دَ نهضت او لوړتیا دوره دَه، په دغه مبارک عصر کښ مونږ پښتانه ډیرو خپلو زړو ارمانو ته رسیدلی یُو، او دَ پښتو ژبی روزَنه او پالَنه هم په ښه ډَول کیږِی!..

څو میاشتی لا نه دی تیری شوِی، چه مونږ دَ قندهار دَ ښاغلی او ځلمی ملکی او عسکری مشر سردار محمد داؤد خان په پښتو پالَنه، دَ پښتو دَ پلار خوشحال خان خټک ضخیم کلیات بشپړ طبع او خپور کَی، چه دَ هغه کتاب له تصحیح او تدوین او طبع څخه فارغ شوم، نو دَ خوشحال خان د نومیالی زوی عبدالقادر خان دیوان چه دا څو کاله سم شوی او تصحیح کړی را څخه پروت وُ، دَ هغه ښاغلی پښتو پالوُنکی مشر حضور ته وړاندی شو، دوی چه دَ پښتو او پښتونوالی سَره دَ زړه مینه لَرِی، ژر ئې دَ دغه کتاب دَ طبع امر هم وفرمایه، او زما دغه زوړ ارمان الحمدللّٰه تر سَره سو.

نو دغه زمونږ دَ پښتو دَ ادب دوهم سوغات دَی، چه اوس ئې پښتنو ورُونو ته سره دَ یوې مفصلی مقدمې وړاندِی کوُو، او ټینگه هیله لرو، چه ژر تر ژره دغسی ډیر قیمتی سوغاتونه نور هم خپلو پښتنو ته وړاندِی کړُو، او دَ پښتنوالی په رونړه دنیا کښ د پښتو ژبی او ادب ته یَو کوچنوټی خدمتگی دَ خپلو پښتنو او پښتو غوښتونکوُ ښاغلو مشرانو دَ پالَنِی په سیوری کښ وکړای شو، که خدای کوَل!

(قندهار نوی ښار، ۲۵ دَ وږی ۱۳۱۷)
دَ دې کتاب مدون وا مصحح او ناشر:
عبدالحی حبیبی دَ طلوع افغان مدیر

توضیح

لمړۍ نسخه د دې کتاب اصل ده، متأسفانه تاریخ نلَری، دوهمه نسخه چه دَ کتاب تصحیح او بشپړ توب له هغې څخه شوَی دَی دَ لیکلو تاریخ ئې داسی دی: (روز جمعه بتاریخ ۲۳ شهر شوال ۱۱۸۲ هـ). په دې کتاب کښې چه هر بیت یا بدلی یا قصیدې یا رباعی او منظومې ته داسی O نخښنه لیکلې وه، دغه ټول هغه زوائد دی چی په اصلی نسخه کی نه وه، او له دغه دوهمی نسخې څخه پکښې زیات شوی، او په یوه کوچنۍ دائره سره نخښنه او ټاکلې شوِی دِی.

فهرست

دَ پښتنو پیاوړی ادیب عبدالقادر خان خټک

پیژندنه

عبدالقادر خان دَ خوشحال خان زوی دَ شهباز خان لمسی، دَ یحییٰ خان کړوسَی، دَ ملک اکوړي کوسَی دَی، دَ پښتو ژبې یَو پیاوړی شاعر او نامتو لیکوُنکی او ویُونکی دی چې دَ خټکو دَ مشرانو له لوړی کورنی څخه را وتلَی، او پښتو ژبې ته ئې ښه او لوړ لوړ خدمتونه کړِی دِی!

عبدالقادر خان، دَ پښتو دَ پلار خوشحال خان خټک یَو مشهور او نومیالَی زوی دَی چه پخپله کورنۍ او اولس کښې ئې دَ خانۍ او مشرتوب ښه مقام درلود.

دَ عبدالقادر خان دَ تولد او وفات کلونه موږ ته ندِی ښکاره، دَ ده دَ پلار خوشحال خان له ویناوُ څخه څرگندیږِی، چه دَی د خپل پلار په ژوندون ور سره یو ځای[1]، او هر کله پلار له ده څخه خوښ وُ.[2]

دَ ده عمر

عبدالقادر خان دَ خوشحال خان د مړینی په کال (۱۱۰۰هـ=۱٦۹۱ع) هم ژوندَی وُ او دَ خپل پلار پر مرگ ئې مرسیه ویلې او ژړا ئې کړې دَه، مگر دَ دغی مرثئې څخه ښکاره دَه، چه دَی د پلار پر مرگ حاضر نه وُ، لکه چی وایی:

پـه ارمان دَ ملاقات له موږه ولاړې　　　ځموږ ستا د لیدو ژمنه په عقبا ده

تر ۱۱۱٤هـ کاله پوری عبدالقادر خان یقیناً ژوندی وُ، ځکه په دغه کال دَه یَوَه بدله ویلې ده، چه دا بیت له هغې څخه دَی:

سن زر سل دَ جدایۍ ځورلس دَ پاسه　　　دا غزل مي په بیاض باندِی رقم کړ

په ۱۱۱۲هـ کال کی ده دَ خپل کتاب یوسف او زلیخا نظم پای ته رسَولی دَي، د دې کتاب په پای کښې خپل زوی ته نصیحت کَوی، او دَ سپین ږیرتوب حال بیانَوِی چه ویښته می سپین او زوړ شوم:

په سن راغلم تر پنځوسه　　　په غفلت کی یم تر اوسه
ویښته سپین خاطر می تور شو　　　بد خصلت می کله نور شو
دَ ځوانۍ بهار خپور شو　　　رنگ دَ باغ دَ گلو نور شو
پژمرده دَ ځوانۍ باغ شو　　　دَ هر گل فراق می داغ شو

له دې شمیره که موږ استنباط وکړو، نو چه په ۱۱۱۲هـ کال عبدالقادر خان دَ ۵۰ کالو وُ البته دَ ده د تولد کا به ۱۰٦۲هـ وِی، چه د خپل پلار پر ٤۰ کال زوکړَی دَی. دَ عبدالقادر خان دَ عمر دَ پای ورځی ندِی ښکاره، مگر دَ ده له کلامه موږ لاندینی استنباط کوَلای سو؛ دَی دَ یوې بدلی په پای کی وایئِ:

هر کاره به بهادر شاه چیری خبر کا　　　حال عبدالقادره مه وایه سپړلی

له دغه بیته اوځاریږِی، چی دَی د بهادر شاه په عصر کښې ژوندَی وُ، بهادر شاه معظم دَ اورنگزیب عالمگیر مشر زوی وُ،

---

(۱) دَ خوشحال خان خټک کلیات ص ۹۵۱ دَ قندهار طبع.

(۲) دَ خوشحال خان دَ کورنۍ احوال او وقایع مو دَ ده دَ کلیاتو په مقدمه کی مفصل لیکلی دِی، دلته ئې مکرر نه لیکُو، محترم ویونکی دِ هغه ته رجوع وکړِی.

چه دَ پلار تر مړنی وروُسته په ۱۱۱۸هـ کی پاچا شوی او په ۱۱۲۳هـ کښ وفات شوَی دَی.

نو تر ۱۱۱۸هـ پوری دَ عبدالقادر خان ژوندُون یقینی او ورُوسته ښکاره ندَی، تر دې زیات کوم تحقیق دَ ده دَ عمر په خصوص کی دَ ده له کلامه نه کیږی، او نه چا ضبط کړَی دَی.

دَ وطن بیلتون

دَ خوشحال خان دَ کورنۍ سرو، اکثرو دَ وطن خواهۍ او آزادۍ غوښتلو په جرم، دَ وطن بیلتون گاللَی، او دَ مغولو پاچهانو سَره دَ خپلواکۍ دَ ساتَنِی دپاره په میړانه جنگیدلی دِی، نو ځکه ډیر له دوی څخه دَ مغولو له خوا له خپلی مینی څخه بیل شوِی، او دَ هند په مختلفو ځایو کی یا بندیان یا نفی وَه.

عبدالقادر خان هم په دغه ډله کی دَ عمر ډیره برخه دَ هندوستان په ښارو کی تیره کړې او دَ خپله گرانه وطنه بیل وُ. له کلامه ئې ښکاره کیږی چی په هندی ژبو هم څه نه څه پوهیدَی، او دَ هندوستان په دنیا کښ هر کله دَ خپل وطن په بوی غوړیدَی، او د ده مړاوَی زړه چه دَ بیلتون اور سوَی وُ، دَ وطن نری نسیم پر وجد او نشاط او نځار راوستَی:

باد ئې بوی عبدالقادره سحر راوړ　　　　شگفته لکه غنچه په دغه باد شوم

یا:

دَ اشنا له لوریه خط را لرَه راغَی　　　　بیا می اور په زړه تازه دَ اشتیاق شه

عبدالقادر خان زموږ پښتون ښاغلی ادیب دَ هندوستان په نا اشنا دنیا کی فقط درې ملگری درلوده:

چی پرې غم علطَوم درې می محرم دی　　　　یو قلم، دوهم کتاب، دریم اشعار خپل

پښتون ادیب خو پخپله خوږه ژبه شعرونه وَیَل، او دَ پښتو ادبیاتو ته ئې رونق ورکاوه، مگر افسوس چه دَ بیلتانه په مځکه کی څوک دَ ده په ژبه نه پوهیده، او پښتون ملگری ئې غوښتَی:

دَ سخن خوبی همه لَرم موجوده　　　　زه عبدالقادر محتاج دَ سخندان یم

دَ وطن مینی او شوق هر کله دَ ده خوږمن زړه ور ناقراره کاوه، دَی تل د مینی دَ لیدو لیوال وُ، او له لیری ئې دَ زړه له کومی سلامُونه د وطن پر یارانو نثارَوَل:

گنُدِی وِی چه سَرَه بیا په یَوَه ځای شو　　　　په هغو زموږ سلام چه په وطن دی

معاصرین

عبدالقادر خان په هغه مځکه کی زوکړی، او دَ ختکو په هغه ادبستان کی لوی شوَی وُ ، چی دَ ده شا و خوا خپلوان ټوله ادیبان او شاعران وه، دَ ده پلار خو دَ پښتو شعر پلار دَی، ورونه ئې لکه اشرفخان هجری او صدر خان او گوهر خان او اسکندر خان، او نور وریرونه او د کورنۍ سری ئې لکه افضل خان او کاظم خان شیدا، او علی خان ټول دَ پښتو ژبی نومیالی شاعران او ویُونکی دی چه دا ټوله دَ عبدالقادر خان معصرین او خپلوان یا دَ خوشحال خان دَ ادبی مکتب فیض میندُونکی وه، او عبدالقادر خان په دغه ادبی کورنۍ کی روزَل شوی دی. علاوه پر دغه په هغه وخت کښ شاوخوا نور پښتانه ادیبان هم وه، چی یَو له معاصرینو څخه دَ عبدالقادر خان مرحوم عبدالرحمن بابا وُ، دَ رحمان بابا ادبی شهرت تر خوشحال خان لږ ندَی، دَی هم د مغولی اورنگزیب په عصر کښ ژوندَی وُ.[1]

---

(۱) وگوری د پادری هیوز مقدمه دَ کلید افغانی طبع ۱۸۹۳ع پخپله رحمان بابا وایی:

و دارا او اورنگزیب وته حیران یم　　　　چه ئې څه چاری واقع شولې تر میانه

عبدالقادر خان دَ ده سَره شعری او ادبی مسابقې لَرِی، دَ یوې بدلی په پای دَ رحمان بابا په ځواب کی وائی:

زه خټک دَ یار په غم تازه تازه شوم   غوریه خیل رحمان که شو ور ځنی سترِی

بل دَ عبدالقادر خان له روحانی لار ښوونکو او معاصرینو څخه شیخ سعدی لاهوری دَ شیخ آدم بنوری شاگرد دَی، چه دَ ده مرشد وُ، او ما ارویدلِی دِی چی په طریقت کی ئې عبدالقادر خان خلیفه هم وُ، د دې کتاب په ۲۲٦ مخ کی عبدالقادر خان دَ خپل مرشد دَ وفات تاریخ په ۱۱۰٦هـ کال ویلی دی.

په دغه ډَول نو عبدالقادر خان په طریقت کی په درې مرتبې و حضرت مجدد ته رسیږِی، چه شیخ بنوری ئې شاگرد وُ.

نور د دې پردیس ادیب ژوندُون اکثر په پردیسی او بیلتون کښ تیر شوَی دَی، ځکه نو دَ ده سوانح هم ښه ښکاره او څرگند ندی.

دَ خوشحال خان په ادبی مکتب کی دَ عبدالقادر خان مقام:

دَ پښتو ژبی دَ شاعریَ او ادب په تاریخ کښ خوشحال خان د هغه مکتب مؤسس او ستِه اینبوؤنکی دی، چی موږ ئې دَ ده په نوم نومړی کوؤ، دَ پښتنو دَ ادبیاتو له پِلَټَنِی څخه موږ ته ښکاره کیږِی، چی دَ دې ژبی دَ لیک او لوست او شعر او ادب، څو مختلف مکتبونه دِی، چی د هر مکتب ډَول او دَ لیک او ویَلُو طرز او سبک هم ظاهراً هم معناً بیل وُ، لاندی ئې لنډ بحث ولوَلَی.

۱. دَ پښتو دَ لیک او ادب لمړی مکتب زما په عقیده دَ اخند درویزه ننگهاری مکتب دَی، که څه هم اخند صاحب پخپله دَ دې مکتب مؤسس ندَی، او تر ده دمخه څه سابقین لَرِی[۱] مگر هغه لوی خدمت چه ده د دې مکتب سبک ته کړی دَی، نو حق لَرِی چه دَ ده په نوم یاد شی د دې مکتب سبک داسی وُ:

(الف): نثر دَ نظم په ډول او لحاظ دَ قافئې په نثر کښ، مگر دَ علم عروض رعایت لږ وُ یا نه وُ. (ب): مضمون دَ شعر اکثر دینی او تبلیغی یا روحانی او عرفانی وُ، چه څه نه څه د تصوف روح په کښ وُ، او له اسلامی علومو څخه لکه فقه، تفسیر، حدیث استنباط کیدی او ډیر ځله رد دَ ځنو ملحدینو وُ، چه په هغه وخت کی دَ تاریک پیر (پیر روښان) دَ افراطی تصوف تر جنډیَ لاندی راوتلی، او دَ خیرالبیان[۲] په کتاب ئې عمل کاوه دَ اخوند درویزه د سبک ملگری اخوند قاسم د فوائدالشریعه خاوند، پاپنخیل شنواری[۳] او بابو جان چه تور کافر وُ او مسلمان شوی وُ[٤] او نور دَ مرحوم اخوند زامن او کورنیَ وه، دَ تاریک پیر ملگری میرزا خان انصاری[٥] او نور وه.

---

(۱) لکه شیخ مالی یوسفزی.

(۲) مخزن الاسلام د اخوند درویزه وگوری.

(۳) د مسټر راورټی د پښتو گرامر مقدمه د کلکتې طبع ۱۸۵٦ ع.

(٤) جی، ایچ راورټی.

(٥) دَ اخوند درویزه له بیانه څخه ښکاره کیږی، چی بایزید بن عبدالله چی په پیر روښان مشهور وُ، پلار ئې اصلاً قندهارَی وُ، او دَی به دَ کانیِ کوړم په اورمړو کښ اوسیدی. دَ هندوستان او بخارا او تورکستان سفرونه ئې کړی وه، او یَوَه فلسفی رویه ئې درلوده چی دَ تصوف دَ حلول خوا ته نژدې وه، زما په خیال چی پیر تاریک دَ هغی ډلی دَ فلسفې او نیم مذهبی افکارو څخه اخیستنه کړې وه، چی دَ مصر د الفاطمی کورنیَ پاچهان وه، او په ایران کښ دَ باطنیه او اسماعیلی او قرامطه په نوم مشهور وه، ډیرو مؤرخینو او ابو ریحان بیرونی دَ کتاب الهند خاوند په ٤۲٤هـ کښ د قرامطه ؤ غلبه پر ملتان هم لیکلې دَه چه وروسته نو دَ زین الخبار گردیزی، او ابن اثیر او ابن خلدون په قول دغه ملاحده سلطان محمود غزنوی له ملتانه ورک کړه، دَ دوی غلبه پر ملتان یوازی نه وه، بلکه دَ ناصر خسرو بدخشانی له تألیفاتو څخه ښکاره ده چه دَ دوی اثر تر بدخشانه او ترکستانه رسیدلَی وُ، او هر ځای ئې په غرو کی پټ مراکز درلوده چه دَ الموت کلا او دَ حسن صباح تحریکونه تړوله تاریخونو ضبط کړیدی.

۲. دوهم مشهور مکتب دَ خوشحال دَی، چی دوی عروضی شعر په پښتو کښې ډیر کړی دَی، دَ خوشحال خان دَ مکتب شاګردان ټوله ساده ویُونکِی دِی، کلام ئې ګرانښت او تنقید نلَرِی، او دَ خپلو معاصرینو پارسی شاعرانو سَره څنګ پر څنګ ځِی. دا مکتب بیله دَ خوشحال خان د کورنئ نور ډیر ملګری لَرِی، لکه رحمان، ارزانی خویشکی، واصل، عبدالعظیم، قاسم علی افریدی، عبدالرحیم هوتک، شمس الدین کاکړ، پیر محمد کاکړ او نور...[۱]

دَ دوی کلام له عشق، او اخلاقو او څه نه څه له تصوف او عرفانه ډک دَی، دَ عروض او قافئې او د فصاحت او بلاغت دَ اصولُو بشپړ مراعات کَوِی.

۳. دریم مکتب دَ حمید مهمند سرِبنی ماشوخیل دَی، چی دَی هم دَ مغولو په عصر کی ژوندی وُ، په ۱۱۳۷هـ کال ئې شاه ګدای لیکلی دی[۲]، دَ حمید دَ مکتب شاګردان یا ملګری کاظم خان شیدا، دَ خوشحال خان کړوسی دَ اشرف خان لمسَی دَ افضل خان زوی دی او په قندهار کی میرزا حنان[۳] دَ ده دَ مکتب او سبک پیرو دَی، نورُو پښتو شاعرانو هم دَ ده دَ سبک اثر قبول کړَی دَی، مګر لږ لږ.

دَ ماشوخیل حمید بابا دَ شعر سبک ظاهراً هغه عروضی شعر دَی، مګر دَ پارسی شعر له هندی سبک سَره ډیر نژدیوالَی لَرِی، دَه ته موږ د پښتو بیدل یا صائب ویَلای شو، دَی په تشبیه او استعاره او تلازم کښې پوره نازکخیال دَی او لکه بیدل دغسی نادر تشبیهونه او تلازمات لَرِی، لکه په پارسی ادب کښې چی هندی سبک دَ بخارا او ایران له سبک څخه بیل دی، په ښښتو کی هم دَ حمید سبک له نورُو څخه امتیاز لَرِی. ځکه نو پښتانه شاعران دَی موشګاف حمید بولی.[٤]

اوس چی تاسی ته لنډ دَ پښتو ادب دَ مشهورو ادبی مکتبو بحث وسو، نو به وګورو چه عبدالقادر خان پخپل ادبی مکتب کښې کوم مقام لَرِی؟ او دَ نورو څخه ئې څه اخیستی دی، او دَ ده د کلام ښیګړی او خصوصی مزایا څه دِی؟

دَ خوشحال خان په کورنئ کی دَ ده دوه زامن په ادب او شعر کی تر نورُو ډیر لوړ را وتلی دِی، چی کله کله دَ وینا په ښیګړو کښې له پلاره سَره سیالی نه، بلکه تر ده لوړتوب هم کَوِی.

دا دوه دَ ادب ښکلی ګلان او د پښتو دَ شعر دَ بڼ خوشنوا خاچوټی (بلبلان) اشرف خان هجری او عبدالقادر خان دی، دَ هجری دَ یو څو بدلو څخه چه مستر راورټی نشر کړی دِی، داسی ښکاره کیږِی ، چه د شعر په فن کښې لوی لاس لَری، او دَ ده کلام متین او خوږ او ساده او برجسته دی، که ما دَ ده دیوان لیدلَی وای، نو به می دَ ده کلام د عبدالقادر خان سَره پرتله کړی وای، افسوس چه دَ پښتو ادب دا نایاب اثر ورک دَی، او فقط د څو تنو خارجی قدر دانانو په لاس کښېوتلَی دَی، خوښ یُو چی دَ عبدالقادر خان مرغلَرِی تر خاورُو نَدِی لاندی شوی، او موږ ئې اوس پښتنو ته وړاندی کوُو.

زما په عقیده دَ خوشحال خان به مکتب کی عبدالقادر خان تر ټولُو لَمړی دَی، دَ ده د کلام مزایا دا دِی:

دَ عبدالقادر خان دَ وینا ښیګړی

۱. دَ عبدالقادر کلام ساده دَی، له تعقید او درُوندوالِی څخه تش دَی، دَ هر راز تخیل پر ادا مقتدر دَی، ګران مضامین په ساده ډَول وَیَلای شِی، په خوږوالی او سلاست کښې مثیل نلَرِی، تمثیلات ئې طبیعی او مثبت دی، په تخیل کښې ډیر وَ ماوراء

---

(۱) وګوری دَ پښتو شعر تاریخچه.

(۲) د پښتو شعر تاریخچه لیک د حبیبی.

(۳) د پښتو شعر تاریخچه لیک د حبیبی.

(٤) لکه چی مرزا حنان قندهاری وایی:

بل حمید موشکاف دَ خیال په شعر — څه به وایم ناسفته دُر ئې پیَیل

الطبیعه ته پرواز نکَوِی، دَ حس او تعقل تر دائرې نه وَزِی، دا هغه دَ سهل ممتنع مزیت دَی چی دَ خوشحال خان له کلامه څخه ده اخیستی، او ډیر ئې پوخ او رنگین کړَی دَی. د دې بدلی متانت او سلاست او طبیعی سبک وگوری:

په وَیَل دَ کوم بې رحم ځیگر ورځې چی دا هسی ډیر پس رایشې بیا ژر ځې
دَ عاشق دَ سترگو غر نه حجابیږی ولی هسی شان مخ نغښتی په میزر ځې
دَ لوئیِ په مقام به هاله کښینې که دَ ورکړی دَ مړانی په وزر ځې
دَ هوسیو سترگی توری دَ باز سرې دی خونریزی تر تورُو سترگو کالا زر ځی
تصدیع مکړه کشتن گاه وته پر سر ځِی که په وژلو دَ بیدل عبدالقادر ځې

حقیقت او ابتکار:

۲. دَ عبدالقادر خان په کلام کښ ډیر ځله ابتکار او دَ تخیل بداعت لیدَل کیږی چه د نورُو په کلام کی لږ دی.

په شعر او شاعری کښ خو نوې موضوع میندل، او نوی فکر ایجادَوَل ډیر مهم دَی، دَ استادیٔ معیار، او دَ کلام دَ پوخوالی نخښه خو هم دغه دَه، زموږ عبدالقادر خان په دې خوا کښ هم ډیر بډای دَی، دلته به ئې دَ یوه لنډ مثال په لیکنَه اکتفا وکړُو:

شعراء ډیر په تلاښ کښ دِی، چه دَ محبوب و مخی ته دَ تقدیم وَړ متاع وومی، هر څوک غواړی، چی نوې تحفه تقدیم کړی، په دې تلاښ کښ شعراوُ ډیر نوی متاعونه میندلی او ښتی مضمون آفرینیٔ ئې کړِی دِی، ځان او زړه خو هغه لمړنی متاعونه دِی، چه په دې محضر کی وړاندی کیږِی، یَو شاعر دَ یار په کوڅه کی زړه به لاس گرزیدَی مگر د تقدیم موقع ئې نه و میندلَی، له پریشانیٔ څخه زړه ځنی ورک شو:

دل بدستم بود می گشتم بگرد کوی دوست   از پریشانی نمیدانم کجا انداختم؟

دَ بل بیچاره څخه هم دَ بیلتون په تیاره کښ، هغه متاع ورک دَی، چی دَه به یار ته وړاندی کاوه نو نارې وهی:

در شبستان غمت دل زکفم گم گردید   ای چراغت بکف از رنگ حنا زود بیا (واقف)

خواجه حافظ شیرازی هم تر ځان بله گرانبها متاع نه وینی، چی دَ یار په پښو کی ئې نثار کړی، مگر افسوس چه دا متاع هم په هغه لوړ حضور کښ دومره قیمت نلری:

نثار خاک رهت نقد جانمن هر چند   که نیست نقد روان را بر تو مقداری

سر بازی هم دَ مینی سَره تړلې دَه، که څه هم هر مَیَن سر نه بایلی، او په دې میدان کی نه دریږِی:

به خاکپای عزیز تو سر نگردانم   وگر زدست فراقت بسر بگردانی (حافظ)

سعدی په دې لار کښ یَو پل دمخه ږدِی، سر و ځان هم د تقدیم وَړ نه گڼِی:

من چه در پای تو ریزم که پسند تو بود؟   سر و جان را نتوان گفت که مقداری هست

په دې دَول شاعرانو ډیر فکرونه کړی، او دَ تخیل اسان ئې پر دې ډگر ځغلَولِی دِی، دَ سرو ځان متاع ئې دومره واره وړاندی کړَی دَی، چی اوس بالکل فرسوده او زوړ دَی، زما په عقیده خو دغه تحفه په مینه کښ یو غیر طبیعی تحفه ده، ځکه چی دَ ذات حب او دَ ځان گرانښت په انسانانو کی یَو فطری کشش او جذبه دَه، او دغه غریزه په انسان کښ مختلف ډَولونه او تظاهرات لَرِی، عشق څو دَ فنا مقام ته نه وِی رسیدلی تِوله دَ دغه فطرت، مختلف اَشکال دِی، څو وصل او فنا نه وِی مینده شوې، نو دَ بیلتون او فراق پر دنیا دَ حب ذات په دائره کښ سر بازی هم شاعرانه بلند پروازی او مافوق الطبیعه تخیل

دَی، ځکه چه ځان وِی، حب ئې سته، چی حب دَ شِی وِی، نو ئې قربانوَل او واری کَول هم نه وِی.

(دَ فنا او وصال مقام بیل دی، زموږ شعراء خو تل د بیلتون له ویره نارې او کوکاری وهی) نو که وویل شی، چه د شاعرانو جانبازی او سر بایلَنه کورټ یَوَه شاعرانه دعوٰی ده، بې ځایه به نه وِی، له دغه جهته که یَو ویونکی او شاعر دَ تخیل په دنیا کی یَو داسی متاع ومومی، چه دَ هغه وړاندې کوَل دَ میَن مخی ته دَ ده مقدور، او په عین حال کښ فطری او طبیعی وِی، نو دا به دَ شاعرئ دَ تخیل کمال او حقیقت او لوړ توب وی!

ژړا دَ انسان له طبیعی مظاهرو څخه ده، چه دَ نفسیاتو دَ مخصوصو عواملو نتیجه ده، عبدالقادر خان غوښته، چه دَ خپل مَیَن حضور ته داسی تحفه وړاندی کړی، چه چا نه وِی تقدیم کړې، دَ ده شاعرانه بدیع تخیل او دَ ابتکار طبیعت وگرزیدَی، دَ خپلی ژړا او سرو اوښکو له طبیعی بهیدو څخه ئې کار واخیست، په لَمن کښ ئې د اوُښکو سره غمی سَره ټول کړه، ولاړ په ډیر احترام ئې دَ مَیَن مخی ته وړاندی کړه او وې ویَل:

سرې سرې اُوښی دِ پر مخ عبدالقادره! و خپل یار ته دَ یاقوتو مهمانی ده

وگورَی په څه سلاست او سادگی، یو نوَی او بدیع تخیل، دَ الفاظو په قالب کښ توی شوی دی! چه دَ طبیعت په لمَن کښ یَو ابتکار دَی، او دَ شاعرئ په دنیا کښ دَ یاقوتو مهمانی یَوه نوې میلمستیا ده، چه تر اوسه څوک بې عبدالقادر خانه دَ مَیَن پر داسی میلمستیا ندی مؤفق شوی!...

اجتماعی افکار او اخلاق

٣. عبدالقادر خان دَ اجتماعی ژوندُون دَ ښیگړو په بیان کښ هم ډیر مقتدر دَی، هغه اخلاق چی په ټولَنی ژوند کښ سړی ورته اړ دی، په صراحت سرَه ئې ښئی، او له هری خوا هغه ښیگړی بیانَوِی، چه په ژوندُون کښ برَی او ظفر پوری موقوف دی!

زیار او منښود دَ انسان دَ بری یَو لوی عامل دَی، پوهانو او ادیبانو په ډَول ډَول دا کوښښ تأکید کړَی دَی حضرت جامی وائی:

هر چند فلک گرم عداوت گردد   دوری برسد که رنج راحت گردد
رو قطرهٔ چند از عرق سعی بریز   شاید عسرت بدل بعشرت گردد

صائب وائی:

اینکه روزی بی تردد میرسد افسانه ایست   پنجهٔ کوشش کلید رزق را دندانه ایست

عبدالقادر خان په یوه ښکاره او بدیهی مثال دا مسئله داسی ثابتَوِی:

ژرنده هاله څه حاصل کاندی چه گرزی   یَو زمان قراری مکړه له طلبه!

دَ اجتماع په دنیا کښ، سعادت دَ هغه ملت نصیب دَی، چه یَو د بله ئې افراد، ضرر نه سره رسَوِی، بې دغه اساسه دَ اجتماع وجود هم مشکل دَی، ژان ژاک روسو او نور اجتماعی پوهان، دَ اجتماع تړون social contract ستِه هم پر دغه ایږدی چه ''تر هغه ځایه آذاد ئې چه بل چا ته مضر نسې'' عبدالقادر خان په دې لاندینی بیت کی د اجتماع رواداری او پیرزویَنه تر دې اندازې غواړی، چی دَ خپلی گټی دَپاره هیڅکله دَ چا بدی او تاوان نه غواړِی، لکه چی وائی:

چی سبب ئې دَ دوزخ ځما کشتن وِی   بیا دِ نه مومم دا هسی شهادت!

په دې بیت کی هم دا دَ اجتماع اس اساس او دَ اسلام مهم تعلیم داسی تصویر شویدی:

په دا دوه حرفه ادا مسلمانی دَه   هر چه نه پسندې په ځان په چا مه پسنده

عبدالقادر خان یوازی دَ روغی د میدان میړه ندَی، بلکه دَی دَ خپل پلار په ډَول یو توریالَی ادیب دَی چه په ډیرو جګړو کښ ئې دَ پلار سره ملګری کړې ده، دَی په دنیا کی دَ حیات فلسفه، او دَ بری لار هم دَ توری زور بولِی، په نوې دنیا کښ هم دَ فرانسه مشهور اجتماعی میړه رسو Rousseou او دَ ارتقا دَ نظرې دَ خاوند ډاروین فلسفه پر دغه وَلاړه دَه، چه دَ ژوندُون حق قوی لَرِی، او ضعیف مضمحل کیږِی، دَ انګریزی ژبی یو بلیغ متل دَی: might is right یعنی ''قوت حق دَی''.

دا فکر دَ اوسنیِ دنیا دَ سیاست او اخلاقو او اجتماع سَتِه دَه، عبدالقادر دا دَ حیات فلسفه او دَ بری لار داسی ښئی:

چه دَ توری مخ ئې سور کړ په میدان کی　　　هم هغه سرخ رویی یوسی له نبرده

عبدالقادر خان په ژوندون کښ دَ لوړ همت او د پښتونوالی دَ ننګی تر دې حده پوری پر خوا دی:

مرګ له تندی په مذهب ځما بهتر دی　　　نه ژوندون دَ دون همتو په اوبو

یا دا:

سخت دَی دَ نیمګړیو طبیبانو ناز تر مرګه　　　مرګ ته غاړی کښیږده دارو مکوَه بیماره

سیاست او مشرتوب

عبدالقادر خان دَ قام د خانیِ لوَړ مقام لیدلَی، او دَ داسی پلار په لَمن کی پاللَی شوَی دَی، چه دَ خپل عصر یَو آزادی خواه مشر وُ، نو دَی په سیاست او دَ مشرتوب په اصولو هم ښه پوهیږِی، او هر کله دَ مغولو دَ حاکمانو پر ظالمانه سیاست سخت تنقیدونه کَوِی.

دَ عبدالقادر خان په نظر کی مشرتوب او پاچهی صرف دَ قوم خدمت او دَ اولس دَپاره زیار او دَ ښیګړو منبود دَی:

ځوانمرد هغه دَی چه لکه شمع　　　دَ ځان په سولو مجلس کا جمع

دَ بل دَپاره که په خندا وِی　　　په مخ ئې درومی باران دَ دمع

په دې رباعی کی دَ مشرتوب او قیادت بدیع تصویر وګورَی، چه دَ مشر فرایض او وظائف ئې څنګه په صراحت ویلِی دِی، نو دَ ده په نظر کی حقیقی دَ قوم خواخوږی او میړه هغه دَی، چه خپل ټوله مفاد او ګټه تر قوم قربان کړی او ځان هم په دغه لار کی بایلِی!

عبدالقادر خان په اجتماع کښ دَ ظلم بد نتائج په داسی اوځارو مثالونه ښه را ښئِی:

چی می اوس کړې په مظلومو رډی رډی　　　غافل مشه دَ دیو سترګو دَ وتلو

بل ځای تر دې لا ښه او څرګند وائی:

دَ ظالم دَ سر د تاج لالونه ندی　　　په تندی ئې له دوزخه اخګرووری

دَ خانیِ او مشرتوب اصول دَ عبدالقادر خان په نظر کی دا دِی:

دَ هر خان چی نه ډوډیِ وی نه توره　　　ښه ځواب ئې دربان وکا چی خان نسته

دَ قدرت پر وخت زړه دَ چا زهیَروَل، هم دَ میړه کار ندَی، عبدالقادر خان د دې نتائج داسِی وائی:

چه د زړه تر کمر پریوزی ریزمریز شی　　　خدای دِ پرې نه باسی څوک لدې کمره

په پښتنواله کښ میړه او ښاعلی هغه دَی، چه دَ قدرت پر وخت عفو او بخښنه ولَرِی:

چه غلیم ئې تښتیده له ځوانمردیِ　　　دی ئې عفو په هنګام دَ دسترس کړه

ښندنه او سخاوت هم دَ مشرتوب یَو لوی رکن دَی:

دَ لوییِ په مقام به هاله کښینې　　　که دَ وَرکړی دَ مړانی په وزر ځې

دا وه دَ عبدالقادر خان ځنی اجتماعی او اخلاقی افکار چه موږ لنډ ولیکَل، دَ ده په دیوان کښ ډیر اجتماعی او اخلاقی

درسونه سته، چی ویونکیِ به ئې پخبله هموومی.

تصوف

عبدالقادر خان دَ تصوف او عرفان په خوا کښ نه یوازی علماً لاس لَرِی، بلکه دَی عملاً هم په دغه پاکه دنیا کی ننوتَلی دَی، یعنی یوازی عالم ندی بلکه سالک هم دَی. دَه په عرفان او تصوف او طریقت کښ د شیخ سعدی لاهوری لاس نیوَی کړی[۱] او د حضرت مجدد له کانونه ئې ډیر روحانی او عرفانی فیوض لاس ته راوړی دی چه موږ به لاندی لنډه اشاره ورته وکړُو:

دَ جمال نندارہ: عارف دَ عرفان او پیژندگلویَ په مقاماتو کی دومره لوړیږی چه په پای کی دَ قدرت دَ جمال نندارې شاوخوا په هر څه کی وینی، او دَ هغه ازلی نور بریښ او ځلند توب له هری ذرې څخه ورته راوزی، ځکه نو عرفا ټوله جهان ته دَ مینی په سترګه ګوری ولی چه ټوله نړیَ دَ هغه جمال مظهر ګڼی، چه دَ هری ذرې زړه ئې په روڼا روڼ دَی، شیخ اوحدی مراغی وائی:

خلقی نشان دوست طلب میکنند و باز — از دوست غافل اند پچندین نشان که هست

شیخ سعدی دَ شیراز دا عرفانی لویه مسئله داسی بیانَوِی:

گویند نظر به خوبرویان — نهی است نه این نظر کی ماراست
در روی تو سر ضع بیچون — چون آب در آبگنه پیداست
چشم چپ خویشتن برآرم — تا دیده نه بیندت بجز راست

عبدالقادر خان هم دا مسئله چی دَ عرفان هسک مقام دَی، او هر څوک په آسانی نسِی ور رسیدلای، په داسی سلاست او صراحت وائی چی د ده دَ عرفان لوړ مقام ځنی څرګندیږی:

دلبر مخ راته ښَی په هر آئین کښ — ګه په تور کښ جلوه ګر شی ګه په سپین کښ
ګر په زلفو کښ ځای وکا زړه را کاږی — ګه په سترګو په رخسار او په جبین کښ
کله کله په ترسا کښ مخ څرګند کا — دَ صغان په دود ئې وران کاندی په دین کښ
په څراغ کی تجلا وکا پتنګ ته — بلبلانو ته ښکاره شی په نسرین کښ
نور او نار ئې د جمال جلا اثر دی — قهر مهر ئې په تریخ او په شیرین کښ
په هر څه کښ ګوره یار عبدالقادره — که دِ نشته شک ګمان پخپل یقین کښ

شیخ سعدی شیرازی دا دَ جمال د نندارې مَیَن توب په خورا ښه پیرایه ادا کړی دَی چه ډیر عارفانه دَی او وائی:

بجهان خرم ازانم که جهان خرم ازوست — عاشقم بر همه عالم که همه عالم ازوست
بجلاوت بخورم زهر که شاید ساقیست — بارادت بکشم درد که درمانم ازوست

عبدالقادر خان پر دغه لار له بلی خوا راځی، دَی وائی چی حب دَ ذات په انسان کښ له دې جهته فطری دَی، چه دَ ذات خاوند او مالک خو جانان دَی، او مَنَی ئې له دې جهته خوښ دَی، چه پسرلی پسې راتلُونکی دَی:

زه چه هسی پخپل ځان باندی مَیَن یم — دَ جانان دَی په جانان باندِی مَیَن یم
دَ خزان میوه بهار، دَ بهار دَی دَی — تر بهاره په خزان باندِی مَیَن یم

(۱) وګوری دَ دې مقدمې، دَ عبدالقادر خان دَ معاصرینو تفصیل.

په دې ډول دَ عبدالقادر خان تخیل او تمثیل طبیعی دَی، ځکه چه حب ذات دَ انسان په خټه اخښلَی دَی، او شاعرانه مبالغه نه پکښې ځایږي اما په تعلیل کښې ئې عبدالقادر خان ابتکار کړَی دَی.

حیرت: حیرت دَ عرفان لوړ مقام دَی، هر څومره چې عارف لوړیږي، حیرت ئې ډیریږی، ابن فارض مضری له ډیری مینی څخه په حیرت کښې ډوب وُ: (زدنی بفرط الحب فیک تحیراً)

خواجه حافظ د حیرت په مقام کښې له صومعې څخه میکدې ته ولاړ، چې ګُندې د عرفان یَوَه بله وړانګه ورته وبريښي:

سر ز حیرت بدر میکدها بر کردم چون شناسای تو در صومعه یک پیر نبود

مگر دَ حیرت په سیند کی ډوب سو و بس:

نشوی واقف یک نکته ز اسرار وجود گر تو سر گشته شوی دائرهٔ دوران را

خوشحال خان خټک هم دَ حیرت په بیدیا کی ورک دَی، لکه چې وائی:

چه و تورو خاورو هسی حسن ورکا زه حیران پاتو په صنع دَ خالق یم

عبدالقادر خان دغه مسئله په یَوَه بیت کښې په خورا واضح او روښانه ډَول داسی بیانَوِی، چه حیرت دَ معرفت سَره سم دَی، هر څو ئې چه معرفت ډیریږی، هغونی حیرت زیاتیږی:

تحیر په موافق د معرفت دی څو ئې شناخت هومره ئې زیاته حیرانی ده

راز او اسرار: دَ عرفان په دنیا کښې ځنی پټ رازونه او اسرار سته، چه عارف ئې له ښکاره کوَلو څخه معذور دَی، هغه څوک چه په څه وپوهیده، بیا ئې بړغ نه را وَخوت، حافظ وائی:

مصلحت نیست که از پرده برون افتد راز ورنه در مجلس رندان خبری نیست که نیست

شیخ شهاب الدین عمر بن محمد سهروردی (٥٣٩–٦٣٢هـ) چه دَ اسلام د لویو عارفانو څخه دَی وایې: چه څوک د حضرت محبوب مخی ته لار پیدا کړی، بیا نسی را گرزیدای او نه څه وَیَلای سی، (مارجع من رجع الامن الطریق و ما وصل الیه احدُ فرجع)[1] شیخ سعدی شیراز دا دَ عرفان او تصوف مقام ته داسی راځې:

و گر سالکی محرم راز گشت ببندند بروی در باز گشت

کس را درین بزم ساغر دهند که دار وی بیهوشیش سر دهند

په دې ډَول هغه څوک چه په څه و پوهیده بیا ئې حال را نغَی:

کانرا که خبر شد خبرش باز نیاید

عبدالقادر خان چه دَ عرفان دَ مقاماتو یَو پوه سیاح او گرزاند دَی په یَوه بیت کښې دا ټوله اسرار بیانَوِی او دَ راز دَ دنیا څخه عارفانه وَیَل کَوِی:

نندارچیانو به ئې شرحه دَ مخ وکړه تحیر ورته آواز دَ لا تقل کا

رشتیا: دَ عرفان پر لار و صداقت او رشتینی مینی ته عارف تر هر څه ډیر اړ دَی، مَیَن دَ وصال کېږه وَړه او گرانه لار دَ صدق په وزر طی کَولای شی او صدق معشوق هم عاشق گرزَوِی:

دَ عشق په کار کښې چه څوک صادق شی دَ یار د مهر هاله لایق شی

دوئی دَ دواړو له منځه ووزی عاشق معشوق شی معشوق عاشق شی

---

(١) عوارف المعارف دَ سهروردی.

صنایع او بدایع

دَ عبدالقادر خان دَ کلام لمړی مزیت سادگی او سلاست دَی، دَی په هر ځای کښ دغه ښیگړه ساتی، او په لطافت او عذوبت ښه مضمون آفرینی کَوِی، او د شعر او ادب د َصنائعو او بدائعو په ادا کښ هم استاد دَی، یعنی په عین سادگی کښ خپل کلام دَ بلاغت دَ بدایعو په غمیو هم ښکلی کوی، دَ صنعت دَپاره کلام نه مغلق کَوِی، او نه درانه او پیچیده مضامین سَره غونډوی په دې بیتو کښ ئې دَ طباق صنعت څه ښه ادا کړَی دَی:

چی ئې تللم په خندا خندا دیدن ته　　　　اوس ئې درومم په ژړا ژړا مزار ته

یا دا:

هر سحر سترگی دَ گل په اوښیو ډکی　　　　پدا باغ کښ بې ژړلو خندا نشته

په دې دوو لاندی بیتونو کښ تجنیس تام دَی.

سل زخمه که وخوری ترې به یَو ځاځکی پرینوزی　　　　هسی رنگه وچه دَ صورت کا مینه وینه

خوب به ئې بدل په بیداری خوښی په ویر شی　　　　هر چه ئې په زړه کښ دَ دلبرو مینه وینه

په دغه ډَول دَ ده کلام له ډېرو بدائعو ډک دَی، د ۳٦ مخ په دریمه بدله ، او د ٥٦ مخ په آخرینۍ بدله کښ صنعت دَ لزوم مالایلزم او تکرار دَ قافئې راغلی دَی، علاوه پر دې عبدالقادر خان یَوه اوُږده نصیحت نامه دَ تجنیس په صنعت کښ ویلې دَه، چی دَ سر یَو څو بیتونه ئې موږ د دې کتاب په ۱۵۵مخ کښ راوړی دی له دغه ښکاره ده، چی ده دَ بلاغت پر صنائعو پوره اقتدار درلود، او دَ شعر ټوله اقسام لکه غزل، قصیده، مثنوی، مخمس، مربع، رباعی او نور ئې ویلی دِی.

حس طلب:

په شاعری کښ دَ ویُونکی دَ کمال او دَ شعر دَ پوخوالی یَوَه ښکاره نخښه هم دغه دَه، چه په حسن طلب پوه وی، دَ پاړسو شعر مشهور نقاد سبلی نغمانی دَ خواجه حافظ دَ کلام یَوَه مخصوصه ښیگړه دغه گڼی.[1]

مثلاً خواجه خپل محبوب په دې انداز ځان ته را غواړی:

پروانه و شمع و گل و بلبل همه جمع اند　　　　ای دوست بیا رحم به تنهائی ما کن

لسانی شیرازی بیا په دې ډَول محبوب را غواړی:

بیا که گریه من آنقدر زمین نگذاشت　　　　که از فراق تو خاکې بسر توان کردن

بیدل چه دَ شعر او ادب دَ میدان بریالَی دَی، دَ محبوب په غوښتَنه کښ نوې زمینه ځان ته مومی او داسی مضمون پیدا کَوِی:

رنگ و بو جمع است در هر جا چمن دارد بهار　　　　ما همه پیش تو ایم ای جمله ما با ما بیا

عبدالقادر خان دَ تخیل په دنیا کښ یَوه دَ عیش او عشرت دنیا تصویر کَوِی، باران اوری، نری نسیم دَ سنبل ښاخلې ښورَوِی، دَ عیش او مسرت ټوله عوامل په گلستان کښ سَره ټولَوِی، وروسته نو محبوب ته په داسی ژبه دَ راتگ بِلِغ کَوِی، چه دَ ادب او د مینی احترام هم پکښې دی، امر نه کَوِی، بلکه خپل دَ اشتیاق او انتظار اندازه مصوره کَوِی، چه دا ډَول حسن طلب نو ډېر مؤثر او مفید، او دَ شاعرۍ کمال دَی:

---

(۱)　شعر العجم ج ٥.

بارانووریږی، څڅواکی څاڅی | نسیم را والوت سنبل پرې ناڅی
اسباب دَ عیش واړه موجود دی | ساقی ته ګورُو چی دَی را پاڅی

شعر دَ عبدالقادر خان په نظر کښ

ارسطو دَ یونان نومیالی فیلسوف شاعری دَ فطرت محاکات او دَ طبیعت پیښې ګڼی[1] دَ فرانسه مشهور نقاد کوسین ویلیِ دی، چه د فطرت د محاسنو او ښکلو نخښو دَ ترجمانۍ او تصویر ذریعه شعر دَی، چه موږ دَ تخیل په قوت بیرته هغه طبیعی محاسن په شاعری سرَه تصویر او مجسم کوو[2] دَ انګلستان یَوه ډیر پیاوړی ادیب ورډ سوتهۀ په دې لنډه وینا دَ شاعرۍ تعریف ښه کړَی دَی: چه شاعری دَ انسان د فطرت مرقع دَه.[3]

عربو پر دې فن ښه نوم ایښَی دی، چی دَ شاعریت کلمه ئې ټوله خواوِی په ځان کښ را جمع کَوِی، او پر دغه کلمه دَ شعر ټوله تعریفونه صادق دِی، په نوې اصطلاح چه دَ شاعرۍ لوی ټوک فنی طبیعت Artistic Nature ګڼل شوی دَی، دَ شاعریت کلمه هم پوره پر دغه باندی حاوی دَه، دَ عربو یَو پوَه محقق ابن سلام شعر هغه صنعت او ثقافت بولی، چی سترګی، غوږ، لاس، ژبه او دَ انسان ټوله حسیات او ژور دَ زړه مشاعر ئې زیږوِی[4] او دَ علی جرجانی په عقیده ئې نقد ژور فکر، ښه کتنه، او ټینګه پلټنه، او اَرته پوهَنه غواړی.[5] له دغو توضیحاتو څخه ښه ښکاره شوه، چی دَ انسان فطرت او دَ زړه منځ، دَ شعر چینه دَه، هغه وَیَل چه دَ زړه څخه را ووزِی، ډیر قیمت لَرِی، او هغه شاعری چی احساسات او عواطف ئې محرک وِی، ډیر هیجان او درُوند اثر بخښی!

ډیر اشعار او دَ صنعت په ګینه ښکلی نظمونه سته، چه د هیجان او تأثر روح هیڅ نلَرِی، او ډیر ساده او بې تکلفه ویناوِی دِی، چه دَ سړی زړه ښورَوِی! او اُوښکی ئې بهوِی!...

دا ولی؟ سبب ئې فقط دغه دَی، چه لمړنی له زړه څخه را وتلی، او ویونکی خپل ټپی او په وینو لژند زړه پخپلو خبرو کښ پټ کړَی وِی، مګر اوستری خبری کورټ په تقلید وِی، دَ زړه او عاطفې هیڅ کار نه وِی ور سرَه.

دَ شیراز شیخ سعدی دا مسئله ښه روښانه کوِی، هغه وخت چه وائی:

هر دل که پریشان شود از نالۀ بلبل | در دامنش آویز که با وی اثری هست

عبدالقادر خان چه په زړه خوږمن یَو سړی دَی، دَ ده شاعری هم دَ زړه ږغ او دَ عواطفو او احساس ترجمانی دَه، په دې یَوَه بیت کښ دَی دَ خپلی شاعرۍ تصویر په څه دردناک او مؤثر ډَول کَوِی:

رنګینه شعر می مه ګڼه خبری! | دا روان څما دَ زړه دَ وینو رود دی

نو عبدالقادر خان چه شعر وایی، له زړه څخه ئې وایی، که لیک کَوِی، دَ زړه په وینو ئې کَوِی، دَی پخپل کلام احساس او عاطفه او دَ زړه درد ننَباسِی، او هغه فکر او ذوق پکښ پټوِی، چه دَ زړه په وینو اخښلی شوی وِی!

ځکه نو موږ ده ته یَو حساس او عاطفه لرُونکَی شاعر وَیلای سو، نه تش مقلد او پیښه ګر!

---

(١) وګوری د ارسطو شعریات.
(٢) دَ ډوکټور محی الدین روح تنقید.
(٣) روح تنقید.
(٤) طبقات الشعرا، دَ ابن سلام.
(٥) دَ علی بن عبدالعزیز جرجانی الوساطه ص ١٦٢.

دَ عبدالقادر خان آثار او تألیفونه

عبدالقادر خان لکه خپل نومیالَی او توریالی پلار دَ پښتو ژبې لوی مؤلف او لیکونکَی او نامتو ادیب او شاعر دَی، دَی علاوه پر نظم په نثر کښې هم پیاوړی او غښتلی لاس لَرِی، دلته به موږ لنډ دَ ده آثار او تالیفونه وَښیوُ:

١. د اَشعارو دیوان

دغه دیوان چې اوس تاسې ته وړاندې کیږِی، دَ ده دَ غزلیاتو او نورو اشعارو مجموعه دَه، چه تقریباً درې نیم زره بیتونه ته رسیږِی، او دَ عشقی، عرفانی، اخلاقی، اجتماعی ویناوُ څخه ډک دَی، غزلیات او رباعیات ئې مردف دی دَ پای ټوک متفرقات دی.

٢. گلدسته

په دغه نامه عبدالقادر خان دَ شیخ سعدی شیرازی گلستان کټ مټ په پښتو ترجمه کړَی دَی، په دې کتاب کښې دَه دَ خپلې قریحې قوت او جلا ښه ښکاره کړې او په خورا ادبی قدرت ئې ترجمه کړَی دَی، لکه دَ حضرت سعدی گلستان چې په پاړسو کې فصیح او بلیغ دَی، دغسې هم د عبدالقادر خان پښتو ترجمه په هغه ډَول ادبی مزایا لَرِی، ټوله منظومې ئې په نظم او په خوږه ژبه ترجمه کړِی دِی! دَ دې کتاب یَوه برخه مسټر راورټی Raverty انگلیس په گلشن روه کی چاپ کړې دهِ.[1]

٣. نصیحت نامه په تجنیس

دا نصیحت نامه یَو خوږ او سلیس مثنوی دَی، چې ټوله دَ تجنیس په صنعت وَیَل شوی او عبدالقادر خپله استادی او دَ شعر کمال پکښې ښکاره کړَی دَی، افسوس چه د دې کتاب فقط دَ سر یَو څو بیتونه موږ ته را رسیدلِی دِی، چې د دې کتاب په ١٥٥مخ به ئې وگورَی نور کتب ورک دَی.

٤. څلویښت حدیث

دا یَو کوچنی کتاب دَی، تر ٥٠٠ بیته پوری رسیږِی، ورُوسته تر حمد او ثنا د حضرت رسول ﷺ څلویښت صحیح حدیثونه ئې په پښتو مثنوی ترجمه کړِی دِی دا کتاب ما لیدلَی دَی، دا څو بیتونه ئې دَ نمونې په ډَول لیکَم:

ځکه ما څلویښت حدیثه په پښتو ژبه بیان کړه	پخپل ځان می گرانی کښیښود پښتنو ته می آسان کړه
هوښیارانو دِی ویَلی هر چه دوې خبری ضم کا	هغه شخص به یَو څاڅکی دَ ځگر دَ وینو کم کا
مؤمنانو ته بایده دی چه دا حدیث په یاد کا	گنهگار عبدالقادر دِ په اخلاص په دعا یاد کا

٥. ادم خان او درخانۍ

دَ پښتو په ملی داستانو کښې دا قصه خورا شهرت لَرِی، د دې ملی قصې پهلوانان دواړه یوسف زی دِی. آدم خان دَ حسن خان زوی، او درخو (درخانۍ) دَ طاؤس خان لور وه، دوی دَ مغولی اکبر پاچا په عصر کی (٩٦٣-١٠١٤هـ) ژوندی وه[2] دا دواړه مَیَن خورا سوزناکه قصه لَرِی، حماسی، عشقی نارې پکښې دِی، دَ خوښی او ویر جذبات یعنی دَ کومیډی comedy او تراژدی tragedy مخصوص ځایونه او مواقع لَرِی، دا قصه عبدالقَادر خان لیکلې دَه، مگر ما ته نده معلومه چې نثر وه که نظم، ځنی نیم منظوم مثالُونه له دغی قصې څخه مسټر راورټی دَ خپل پښتو گرامر په مثالو کښې را نقل کړِی دِی.[3]

دغسی هم مؤرخ الفنستن پخپل کتاب دَ کابل شجره An Account of Kabul کښې د دغی قصې ذکر کړَی دَی، مگر

---

(١) طبع هدَ هرټفرډ ١٨٦٠ع.

(٢) دَ پښتو دَ شعر تاریخچه وگورَی په طلوع افغان کښې.

(٣) طبع د کلکتې ١٨٥٦ ع.

افسوس چی دا کتاب هم ورک دَی.

٦. یوسف او زلیخا

دَ یوسف او زلیخا قصه هم عبدالقادر خان تقریباً په څلور زره بیته په پښتو نظم کړې ده، په دې کتاب کی دَ ده ژبه خورا خوږه دَه او دَ کلام اعجاز ئې ښه ښکاره کړَی دَی، دغه کتاب دَ پښتو ادب له لمړیو او ښو آثارو څخه گڼل کیږي، د دې کتاب په سر کی داسی وایی:

دا قصه اول تازی وه	په تازی ئې آغازی وه
په فارسی کړه فارسیانو	نظم، نثر، سخندانو
ما هم بیله تر حصه کړه	په پښتو می دا قصه کړه
هر پښتون چه پر ناظر شی	په لوستو ئې خوږ خاطر شيء
له معنا ئې خاطر ښاد که	موږ دِ هم په دعا یاد که
په خفیف بحر ویلی	کل وقت ځنی وتلی
لکه بحر صفا صاف دی	هر گوهر پکښ شفاف دی
چه خفیف بحر شیرین که	هغه کس سحر مبین که
ما شیرین بحر خفیف کړ	بې ځوابه می حریف کړ

دا کتاب ده په ۱۱۱۲هـ کښ پای ته رسولَی دَی لکه چی وایی:

سن دَ هجر غین و قاف وُ	اته کم دَ پاسه کاف وُ
چی تمام شو دا کتاب	په پښتو شو انتخاب

مسټر راورټی انگلیس په گلشن روه کښ دَ دغه کتاب یَوه برخه هم چاپ کړې ده د دغه کتاب قلمی مصوری او مطلا خوشخطی نسخې کله کله لیدلِ کیږي، او بیل هم چاپ شوَی دَی.

علاوه پر دغه کتابونو عبدالقادر خان نور پښتو قیمتی آثار هم لیکلِی دِي، چه اوس متأسفانه ورک دی، مسټر راورټی دَ "انتخاب شعر پښتو" په کتاب کی وایی، چه ده ٦۰ جلده کتابونه تألیف کړی دِي، مگر اوس موږ ته تر دغو ٦ زیات ندی معلوم، گنُدی وروستنۍ پلټنی او تحقیقات دغه ورکی مرغلَری او قیمتی غمی ومومی، او دَ پښتو ژبی دا گرانبها آثار له ورکتوبه وساتل شِي.

خاتمه

اوس موږ دَ دې مرحوم ادیب دغومره پیژندَنه ستاسی سَره وکړه، او دَ ده دَ شعر دیوان مو هم در وړاندِی کَی، هیله سته، چه دَ پښتنو نور تحقیقات او پلَټنی به دَ ده له سوانحو او ادبی خدمتونو څخه دَ پټی پیځوَل واخلِی، او پښتانه به دغه نومیالی ادیب تر دغه لا ښه معرفی کړی، زموږ خو دغومره دَلاسه کیده چی و مو کړه.

استدراک

دَ عبدالقادر خان په سوانحو کښ دَ کابل لیدَنه او سفر هم سته، له دې رباعی څخه ښکاره کیږي، چه کابل ئې هم لیدلَی دَی:

له خپله بخته وَ چا ته زار کړو　　　دَ څرخ ناسازی وَ چا ته شمار کړو
ډک دَی دَ کښلیو دَ کابل ښهر　　　هومره څه نشته چه یَو ترې یار کړو

(قندهار، نوَی ښار ۳ دَ زمری ۱۳۱۷)
عبدالحی حبیبی

(١)

بَدَلِی

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم

(الف)

ساقی پاځه پیاله راکړه پانې بید کا
دَ بهار دَ راتلو باغ وته نوید کا

ستا په میو کښ نشا دَ یکرنګۍ دَه
چه تر فهم مي یکرنګ سیه سفید کا

دَ رقیب خاطر به ولی لکه یخ شِي
که یار مخ راته ښکاره لکه خورشید کا

سیاه چشمانو څخه بوی دَ وفا نشته
له دي بابه به څوک څه ورته امید کا

چه په عشق سره ژوندی وی هغه نه مری
خدای توانیږی که ځما عمر جاوید کا

زړه ئي درست له ما نه یووړ لا ئي ګوره
چه لا څو سحر دمؤُنه مکر و شید کا

دا ځل ډیر ور ځنی ښاد عبدالقادر شو[1]
چه به بیا په ښایسته وُ اعتمید کا

دا خویونه که دانا سړی اختیار کا
په دنیا په دین به جوړ پري کاروبار کا

عبادت دَ حق په صدق په اخلاص کا
تل له خپله نفسه جنګ کوی کار زار کا

په فقراوُ سخاوت کا بې منته
په حاجت کښ استغنا له دنیا دار کا

د دوستانو تل پند نصیحت وایی
له دښمن سره په حلم زیست روزګار کا

له تمامو خلقو زیست په انصاف کاندی
په رشتیا ویل حاصل خپل اعتبار کا

شفقت مهربانی کا په کوچنیو
دَ لویانو په خدمت حاصل وقار کا

جاهلانو سره زیست په خاموشی کا
که هر څو په بد ویَل ئي زړه آزار کا

همیشه عبدالقادر غُندی آزار وړی
چه نه څوک آزاروی نه له چا زار کا

چه ئي ستا خوږږي خبری زړه صاف نکا
دَ طهور شراب هغو وته لاف نکا

خدای پخپله ستا صفت دی بیان کړی
نشته شی چه مدح ستا دَ اوصاف نکا

چه ئي ستا په شریعت قدم ثابت کړ
له صراطه دِ هغه سړی خاف نکا

چه خلاف دِ له سنت کا ځای ئي اور دَی
که له فرضَ او له واجبو خلاف نکا

خدای به خپَل ګنه ګار عفو ستا په روی کا
ولی ستا ګنه ګاران به معاف نکا

په طواف ئي مفتخر عبدالقادر کړه!
خوار شی څوک چه تر روضه ئي طواف نکا

---

۱. دا ځل ډیر عبدالقادر ځنی سودمن شو.

څوک چه مینه په دنیا لا په عقبا کا — نپوهیږی سراسر واړه خطا کا
که دَ وصل له لذته ئې خبر شی — دَ بهښت و نعمتونو ته به شا کا
دَ زاهد هِله[1] دَ حور او دَ قصور ده — عاشقان ئې و دیدن ته تمنا کا
چه اعلی وی په اعلی به ئې نظر وی — چه دانا وی همگی چاری ادنا کا
دَ خزان دوک ئې لیدلی دی په سترگو — چه بلبله په گلزار راشی غوغا کا
چه ئې شا په شا په کټ کښې ناستې[2] نشِی — دا فلک ئې په هِواد ځله[3] جدا کا
چه سبا به له مجلسه جدا کیږی — شمع ځکه درسته شپه دَ سوز ژړا کا
چه دَ وصل په دولت دی سَره جمع — زمانه به ئې جدا به واویلا کا
هر چه یار کا، هم هغه دَ ده غلیم شی
څه به نور عبدالقادر یاری له چا کا

خدای به ژر پریشان یاران سره یَو ځای کا — بد خواهان به سر وَهی هم به های های کا
پجهان کښې نوی نوی بازیَ کیږی — لا یَوه تمامه نه بله برپای کا
دَ بهار د گلو گښت کوَلَی نه شم — خپلی اوښی راته مځکه گل ولای[4] کا
تَل به وار د رقیب جوړ را باندِی نه وِی — ځموږ وار به هم پرې ساز شی که ئې خدای کا
دا دنیا راته ښکاره قمار خانه شوه — هر څو ډیر که وگټی آخر ئې بای کا
بزرگی په وزر نده په ښه خوی دَه — بوم به کله په وزرُو ځان همای کا
زخمی شوی دی هر لور عبدالقادره
څوک اوُه اوُه، ځنی آه آه، ځنی وای وای کا

که هر څو وربادی غاو رقیب غماز کا — عاشق کله غوږ دَ دیو په آواز کا
په جهان کښې چه بدخوی او گنده بوی وی — زمانه ئې ململ پوشه لکه پیاز کا
ناز ته مخ بویه نازک لطیف تر گله — هر مخ کله هونبره مخ لری چی ناز کا
هر چه نه نیسی نظر له کښلیه مخ — بویه دا چه ځان غمونو وته ساز کا
باد را والوت مخالف نا خدای بیهوښ شو — گوره سر به په کوم لوری دا جهاز کا
چه ئې نه د میو سود نه ئې دَ سیوری — دا فلک ئې لکه سرو سرفراز کا
له بې نیازه بې نیازی عبدالقادره
همیش غواړه چی له غیرو دِ بې نیاز کا

---

۱. ځله.
۲. نماستی.
۳. ځبله.
٤. گل لا لای.

هر گور ډیره نادانی بورا بلل کا
چه خزان ور پسې شته مینه په گل کا

دا څراغ به بَل تر کومه وی په باد کښ
یَوه ورځ به ئې صرصر دَ فنا گل کا

په سبا ئې په زشتی بدل ښایست شي
شب څراغ چه په شپه هونبره تجمل کا

خفی شرک لکه جلی ورته ښکاریږي[1]
عارفان کله نظر په جز په کل کا

په شبنم سره دَ گل غوټۍ غوړیږي
دَ بخیل غوټه لا سخته نم دَمل کا

نندارچیانو به ئې شرحه دَ مخ وکړه
تحیر ورته آواز دَ لاتقل کا

ستا قلم عبدالقادره مشک افشان شو
چه ډیر ډیر صفت دَ زلفو د کاکل کا

په خزان کښ که نظر په گلو وه کا
ښایسته به پخپل حسن زړه ښه نه کا

دَ جهان وُرکول کل په عاریت دي
عاقلان به تعلق پرې پوری څه کا

دَ فلک آسیا په رود څما دَ سترگو
چه دَ یار په فراق دورمی گرزیده کا

یو ساعت ئې خوشحالی اندوه وی عمر
آشنائی دې هیڅوک نکاندی که ښه کا

چه په اصل بوټی تریخ وی خوږ به نه شي
دَ اوبو په ځای که توی شهد اوره کا

پل ئې ځکه په جهان کښ مونده نشی
عاشق تله دَ یار په لورې په لیمه کا

بوی دَ مشکو دَ عنبر په جهان خور[2] شي
مشاطه ئې چه خواره دَ سر ویښته کا

له غمونو ځکه خلاص عبدالقادر شو
چه پخپله بخره خوښ شو حرص نه کا

که دَ خوږو په دعا فرشتې آمین کا
ژر به جمع پریشان رب العالمین کا

دَ وصال په دولت ناستَ غافل مشه
جدائی و واصلانو ته کمین کا

ترق به وچوی له غمونو که نومید شی
دَ ښادیو په امید ښادی غمگین کا

دَ خندا طالب دِ تل په ورټ ورټ ژاړی
چه وژاړی خندا هاله یاسمین کا

دَ قصاب له چاړې خوف دَ لاغر نشته
په رمه کښ تل پوښتَنه دَ سمین کا

قوت خو هونبره چه قوت ځنی حاصل شی
که په ټوک ئې دَ اوربشو که غنمین کا

جهان څه چه اسمانوُنه به گډ وَډ شی
که دَ تللیو حال ښکاره ورته زمین کا

دَ خوږ زړه دارُو په دا عبدالقادر کا
چه د خوږو په دعا فرینښتې آمین کا

---

۱. ور څرگندیږی.

۲. خپور.

عشق دَ کل بلاوُ سر دَی خدای دِ څوک پر اخته نکا
همگی دَ غم لښکر دَی خدای دِ څوک پر اخته نکا
له وطنه سړی ورک کا و عالم وته ئې سپک کا
دا همه دَ ده اثر دی خدای دِ څوک پر اخته نکا
پایمال مال و منال کا بد ئې رنگ بد ئې احوال کا
خوار کا تا که دِ توانگر دی خدای دِ څوک پر اخته نکا
نه ترې مرِی نه ترې رغیږي که دارُو کا لا خوږیږی
تر ناسور ئې رنځ بتر دی خدای دِ څوک پر اخته نکا
هم تیره دَی هم تاریک دی تر ویښته نه لا باریک دی
گویا جسر دَ سقر دی خدای دِ څوک پر اخته نکا
سوزنده لکه آتش دَی تر آتشه لا سرکش دی
په ظاهر که منور دی خدای دِ څوک پر اخته نکا
چه عاشق عبدالقادر شو حال ئې کل ورته ظاهر شو
دا وَیل کا ترې خبر دی خدای دِ څوک پر اخته نکا

هر عالم چه تن پرست شی کامرانی کا
دَی به څه رنگه دَ دین نگهبانی کا؟
چه له خدایه ویره کا عالم هغه وِی
که دَ تخت دَ پاسه ناست وی سلطانی کا
موافق چه ئې عمل له علمه نه وِی
تر جاهل به عالم زیاته پښیمانی کا
دَ عالِم فساد فساد دَ درست عالم وی
شیطان کله هونبره ډیره ویرانی کا
دَ هغه عالم صحبت لکه دارُو دَی
چه پیدا درکښ خویوُنه انسانی کا
اول علم بیا عمل دریم اخلاص دی
دا درې خویه مرد عالم ربانی کا
چه بې علمه شیخی کا مریدان نیسی
پیر مرید کارونه واړه شیطانی کا
نمونځ روژه به ئې په ځان باندی تاوان شی
چه په حکم ئې دَ نفس نفسانی کا
بل ته وائی دنیا پریږده بې وفا دَه
دَی ئې سعی شپه او ورځ په ودانی کا
نصیحت کا چه عیبت تر زنا سخت دی
په وَیل دَ غیبتونو ځان رانی کا
په عمل دَ گیلان سپی ور ځنی ښه وِی
په خوله ځان عبدالقادر گیلانی کا

دلربا که را ښکاره کښلَی جمال کا
له خاطره مینه[1] محو غیر خیال کا
کفایت په عاشقی کښ نه ځائیږی
محبت بنده زاده دَ پاچا سیال کا
دَ وصال په وخت خبره لوی حجاب شی
عشق عاشق گهی گویا گهی ئې لال کا
په بورجل ئې دَ کال غم را باندِی تیر شو
انتظار یوه گړی په سړی کال کا
که ظاهر له نوره خلقه مشغولا کړم
زړه مي تَل دَ یار له غمه اشتغال کا
سپین ویښته دَ بدنامیَ به وسمه تور کا
چه آواز دَ صفا روُیو دَ وصال کا
زه او یار په صورت دوه په معنی یَو یوُ
څوک چی دَی خوشحالَوِی ما به خوشحال کا
مځکه تخت آسمان ئې تاج ستوری گوهر شِی
چه په سر ئې دا دَ مینی همای بال کا
دَ دوران له انقلابه لا بقا شِی
اعتماد به دانا څه پدا اقبال کا

---

[1] . می به محو.

دَ گور مړَه به په ژړا په نارو گډ شِي
که ښکاره عبدالقادر ورته احوال کا

نشته په جهان کښِ څوک پدا قد و بالا
څه عجب صورت دَی تبارک و تعالیٰ
هيڅ سودا ونشوه ځنی تش لاسُونه ولاړم
وير دَی[۱] پدا ښهر کښِ لايق دَ خريد لا[۲]
کله به خپل يارو ته بلی و نعم وکړی
که تل به ئې جواب کو پسوال کښِ لم يالا
هر چه دا سوال کا چه به کړم په کښليو مينه
بويه چه يَو ځل دَ ناموس مينه کا تالا
ډير په شيوه درومې خدای دِ ژغوره له نظره
زيات تر نورُو کښليو خيال دماغ دی دَ تالا
واړه ښايسته که لکه گل دَ يوه باغ دی
لا ځما دلبره پکښِ شان لری والا
دا ځه ويَل ندِی چه عبدالقادر ئې وائی
پيَيلی ئې دَ نظم په تار دی لؤلؤ لا لا

چه دنيا ورته ښکاره شوه بې وفا
و دنيا ته به مخ نکا بې قفا
په اصحابو به پريوانه وه بې حده
په کفارُو به وه زوز[۳] که ښه وَی دا
چه ئې مخ وِی دَ دنيا و ټولُول ته
خپل پردِی ور ځنی تل وی شاپشا
دښمنی ئې دَه بهتره تر يارئَ
په ياری کښِ يار خراب کا تر يوحا[٤]
دواړه لاس ئې دَ خپل يار په وينُو سره وی
نادانانوُ ته ښکاريږِی په حنا
که له چا سره ياری کاندِی تر سَره
لغه پسه باندی ته هم شه شيدا
دَ سليمان تخت چی په باد ته آخر باد شو
په قارون په ژوندوُن وشوه تماشا
په سکندر او په دارا ئې وکړې چاری
په شداد او په نمرود ئې وکړې لا
دَ هغه چه طمع نه وه چه به خوار شو
په دنيا کښِ هسی مست وُ بې پروا
په ژوندوُن ئې خواروزار حيران پريشان شول
امته دار دی د تکړ[٥] سبا بيگا
چه له کبره ئې سَم نه ويَل و چا ته
اوس کږې خبری اَروی له هر چا
چه وينښتو ئې تاب ورکړَی و سنبل ته
دَ سنبلو په دود ځای ئې شو صحرا
چه به خواپخوا پراته وه له مهرويو
اوس پراته له تورو خاورو خوا په خوا
حال ئې درست عبدالقادر وته ښکاره شو
ځکه هسی ندامت کا له دنيا

---

۱. ډير دی.

۲. کالا.

۳. په يوه نسخه کښِ زوړ او په بله کښِ زوژ راغلی دَی، غالباً به ځوز وی.

٤. نمر، آفتاب.

٥. په يوه نسخه کښِ تکړ په بله کی بکړ دَی.

چه پخپله خوله بیان دَ خپل هنر کا
د خپیسهٔ په دود هر کوره بد چر کا[۱]

خپل گوهر لکه صدف ساتلَی بویه
زمانه که ئې پاره پاره ځگر کا

امتحان دَ مرد نامرد په حادثه شِي
اور نیکی بدی ظاهره دَ اکر کا

عاقبت به وینی وژاړی چه خاندِی
دَ ښیښې قلقل ښادمنو ته خبر کا

دون همت لکه خس بیا پریوزی په مځکه
که گردباد ئې دَ دولت په فلک بر کا

چه فنا خپله هستی کا په سرَه اور کښ
شمع هاله نور له نوره منور کا

چه منت ور سره مل وی تر دامن دی
که به شونډِی دَ حیات په اوُبو تر کا

دَ بوریا نخښی په تن دَ مسکینانوُ
لا ښایست تر منقش جامو دَ زر کا

په دې بزم کښ چه مَی دَ مراد وچښی
په آخر د ناکامیِ پیاله ورکا

دَ دنیا خوښیِ که واړه ورته کښیږدَی
دروغجن دی که پر غم دَ اشنا ورکا

چه پوخت دَ تلو راتلو کا چیغارُونه
دَ هِواد یاران را یاد زاړِی اکثر کا

دَ غم جنو په کوڅه مه ځه خوشحاله!
صاف ساعت به دِ دَ عیش مکدر کا

ته لا هسی باد پیمې عبدالقادره
دم پدم دِ عمر باد غندی گذر کا

طول امل چه پدنیا عیش و انند کا
پدا هاړ کښ دَ اورو په طمع پند[۲] کا

لږ راحت به ئې په ډیر محنت بدل شِي
چه مرگ مخ ورته دَ نمر په دود څرگند کا

کبرجن چه قهقه خاندِی پښا درومی
پمعنی کښ پخپل ځان پوری ریشخند کا

څو دَ عشق په تیغ واژه شم غریزیږم
قیمت زیات واخلی گنی چه ئې بند بند کا

نیکخواهان دَ پند وَیلو صرفه نکا
نیک بختان بویه چه غوږ دَ دوی په پند کا

رخصت مه اخله په غلا را ځنی درومه
کله څوک دَ ځان وژلو کار پسند کا

چه مې ولیده بشر ستا
کمترین غلام شو نمر ستا

گل له شرمه خولې پریږدی
چه په مخ شِي برابر ستا

دَ بادشاه په بادشاهیِ
خندا کاندِی قلندر ستا

گل، شبنم، سبا، بلبلی
ثنا وائې هر سحر ستا

تر عنبرو په ما ښې دِی
دَ پله خاوری سمنبر ستا

خود له خوده ښایسته یې
حاجت نشته دَ زیور ستا

دَ هر شی تسبیح به اروې
که غوږوُنه نه دِی کر ستا

---

۱. هر گوره ښه څرگا.

۲. دا بدل په یوه دیوان کښ نسته، په بل کښ مقطع نلَری، دَ لمړی بیت دوهمه مسریَ ئې هم ښه نه لگیږی، مگر دَ پند پر ځای که خوند سې دَ دوهم بیته سرَه سَمیږِی.

یار په هر لوری جلوه کا خو بینا نه دِی بصر ستا
تل دا خواست عبدالقادر کا
چه که خاوری شِی دَ وَر ستا

کنبلَی مخ ئې میاشت خجله کړه نمر هم لا قد ئې سرو کړه سرکوزه عرعر هم لا
سرو لبانؤ ئې قیمت دَ لعلو کم کړ سپینو غاښو ئې بې آب کړ گوهر هم لا
چه تنها ئې همیشه په سر آخلم دَ عشق بار می گردن خم کړ کمر هم لا
نه یواځی پصورت جدائی خوار کړم پدا اور دننه سوځی ځگر هم لا
چه نگهت دَ یار دَ زلفو نسیم راوړ مشک خوشبوی په هغه بوی شول عنبر هم لا
په لمانځه کښ دَ یار ورَځی را په یاد شوې دَ زړه آه می محراب وسو منبر هم لا
څو دِ زړه عبدالقادر سرَه جفا کړه
ستا جفا به وړی په سر په بصر هم لا

که گذر دَ یار په چم وکړې صبا وَوایه ځمورِ پیغام په دلربا
څو قطرې ځمورِ په یاد په مځکه توی کړه چه په بزم دَ عشرت اخلې صهبا
ستا دَ زلفو بوی نسیم په چمن راوړ له مستیٔ شو دَ غنچو قمیص قبا
په ژړا می دَ ښو خارُونه توی شول په لیمه می قدم ږده بې محابا
لکه گل په بوی تر نورُو گلو ښه شِی ښه خصلت زیاتَوِی حسن دَ خوبا
نصیحت په عاشقانؤ اثر نکا نه دَ پیر نه دَ استاد نه دَ بابا
تل تر تلو به ژوندی وی لکه خضر که پخوله ورکا دلبره لام و با
چه ئې یار له غیږه ځی دَ مرگ ساعت وِی دریغه مه وَی دَ وصال دَ شپې سبا
تر سایه ئې دَ جنت خوښیِ مومی دَ خپل یار قامت و ما ته شو طوبیٰ
لدې ملکه په عزت واته بهتر دی ساکنان ئې حرمت نکا دَ غربا
که رشتینَی حب لرې عبدالقادره
بې ریباره به در درومی محبوبا

(ب)

دا د عامی مستجا به کړې مجیبَ چه وصال می بیا روزی شِی له حبیبَ
ستا له فکره خالی نه یم خالی مشم اې تر فکر ځما زړه وته قریبَ
دَ عشق بار دَ لیونتوب په زور اخیست شی په قوت دَ عقل ور نشی لبیبَ

لاس پلاس مراد و نورُو وته ورکا
چه په ما باندِی وار راشی وایی شیبَ[۱]
هم تر ما پوری سرکوزی هم یار رد کړې
مخ دِ تور په دواړه لوری شه رقیبَ
ستا پقدر نا آشنا کله پوهیږِی
دَ حرمت امید لچا کوې غریبَا!
په قسمت ئې دَ پتنگ دَ اور لمبې کړې
ته ورځه په گلو گرزه عندلیبَ
بې نصیبه به دِ هیڅ په لاس کښینوزی
بیهوده څه له حرص کړې بې نصیبَ
چه په سترگو ئې پردې دَ حسد پریوزی
امتیاز دَ یوسف نکاندی له ذیبَ
چه ئې کانده و هر چا ته بد ښکاریږِی
دَ ځوانیَ کارونه نه ښائی له شیبَ
له بدذات سرَه یاری عبدالقادره
په معنی کښِ دښمنی دَه له نجیبَ

بیا په مخ ونیو دلربای نقاب
افتح یا مفتح الابواب
گل شگفته شو په هر لور دَ بهار
الصبوح الصبوح یا احباب
ریز ساقی می باقی در جام
را، ببانگ رف و نی و چنگ و رباب
چه تا قدم په خاورُو کښیښنو فلک
قال یا لیت رب کنت تراب
چه جدا شوَی مَین راشی، بکن
سببې یا مسبب الاسباب
اور می قبول دَی جدائی دِ نه وِی
هجر محبوب رأس کل عذاب
ذل من طمع، عز من قنع
ځکه قانع شده اولواالالباب
بې خدایه ویره شرک خفی است
و هوالقاهر و هو الوهاب
ربه عمل می دَی هم دَ بدیَ
تُب علیَّ فانک التواب
ته، رحیمی و کریمی و غفور
زه که هر څو نه ځم به راه صواب
عبدالقادر چه دا غزل کړِ بیان
څوک بې کاندِی په پښتو کښِ ځواب

که هر څو په ورځ و شپه کاندِی طلب
ور به نشِی تر مطلوبه بې ادب
تر بې سینَ په قرآن که نظر وکړې
دَ ادب صفت دَی کړَی پکښِ رب
ادب څه دَی نیک و بد گڼل له خدایه
مستقیم په شریعت په روز و شب
سببُونه حجابونه شول دَ وړاندِی
مسبب نشِی لیده پدا سبب
چه له شنې ونی نه سرې لمبې پیدا کا
که له سرو لمبو بهار کا څه عجب؟
دواړه لب به ئې هغه عاشقان کښِلُ که
چه له یاره سر و مال نلَرِی لب
ساقی څه خو طربناکی اُوبه راکړه
لوټ غمونو کړِ ځما دَ زړه طرب
چه اثر دَ بې خودیَ ترې پیدا کیږِی
تل برجنه اوسه ونه دَ عنب

۱. شِ به یعنی خواهد شد.

له خوږو می دواړه شونډې سبا نښتی چه می وزبیښل په خوب کښ دَ یار لب
زړه پیاله عبدالقادره وینی می کړه
دَ اشنا په یاد ئې نوشه لبالب

که خبر شې دَ رندانو له مشربَ نور به تیر شې تر څلور واړه مذهبَ
څوک دِ طمع دَ ادب لمانه نکا څه غرض دَ لیونیوُ له ادبَ
دا همه سبب ځما دَ بدبختۍ دَی چه دا هسی آزرده شې بې سببَ
چه ترخه وَیَل دِ هونبره ډیر خواړه دی دَ خوږو به دِ څه خوند وِی شکر لبَ؟
په هجران کښ ناقرار په وصال سوځی دَ عاشق دِ څه نصیب کړ ځما ربَ
چه لقب ئې دَ سړی را باندِی کښیښنو زیارت گاه شوم دَ فرښتو له دې لقبَ
دَ نمر وصل مونده ستا په دلالت شِی لا به کله طلوُع کرې ځما کوکبَ
ژرنده هاله څه حاصل کاندِی چه گرزِی یَو زمان قراری مکړه له طلبَ
یو ساعت دَ آشنا غم عبدالقادره
بهتر دَی دَ تمام عمر تر طربَ

حاصل کړه مقصدوُنه دَ دنیا له هَره بابَ آخر به په ارمان ورځنی ځې سینه کبابَ
دا خرابه هیڅ امیر وزیر ودانه نکړه سعی دَ هغې ودانۍ کړه خانه خرابَ
دَ ډیروُ تروُ وَچاودې زهرې په ډیر طلب کښ تنده ما ته نشوه دَ هیچا لدې شرابَ
دَ سر وینښته دِ سپین شو، سپین دِ نشو د زړه توری نمر په تندی راغَی ته لا ویښ نه ئې له خوابَ
کانړی دِی نه زړوُنه چه نرمی ور څخه نه وِی گیتۍ[1] دِی نه سترگی چه بې نمه وِی بې آبَ
حرام دِی که حلال دِی خو دِ بویه چه اموال دی هیڅ ویره دِ نشِی له عذابه له حسابَ
مست دَ دنیا کله بې اجله هوښیارېږی مستی دَ دنیا بده دَه تر بنگ و تر شرابَ
خاوری خپل وجود کړه څو لا نه بې خاوری شَوی زده کړه که دِ نه زده دا خصلت له بوترابَ
پروت عبدالقادر دَی دَ غفلت په توره شپه کښ
کله به را خیژې دَ توفیق کښلې آفتابَ؟

درسته شپه ژړا فریاد سترگی بی خوبَ واړه دا کاروُنه ستا دِی مَیَن توبَ
چه می نَو له سترگو نه ځِی زړه می چَوِی مکړه خدای دَ زخمی زخم بې زهوبَ
ډک خمونه تشَوم دَ عشق دَ میو لا تشنه سینه می هیڅ نده خړوبَ
و منصور ته دَ دار سر بورجل دَ یار شو عاشقان دِ نکا ډار دَ عشق له چوبَ
چه دَ عشق له اوره تښتی عاشق ندَی دَ خپل ځان په سولو سی دَ پتنگ سوبَ

---

۱. د دې کلمې تلفظ دَ قندهار په خوا کښ گاتۍ دَه، یعنی کوچنۍ ډبره، جغله.

ناز پرور دِ خبر دار له قدره ندَی　　خو هم ما لَره راځه دَ عشق آشوبَ
چه له درده ځان ساتی دوا ته ځغلِی
له هغو عبدالقادره توبَ توبَ

(ت)

هیڅ له کبره نظر نکا ندِی وخوار تَ　　ښایسته په معنی زر، درومی زردار تَ
خوش روئي له خوشخوئیٔ سره زیب کا　　وَوایه هغه دلبر دل آزار تَ
خط دَ خپلی پیشانیٔ پکښ ولولم　　چه نظر وکړم دَ کښلیو و عذار تَ
په امید ئې دَ وصال لکه خلیل ځم　　په خندا په خوشحالی په هوس نار تَ
ما په خوب کښ میاشت لیده په گریوانه کښ　　معبر وې یار به در یَشی کنار تَ
چه په نشت دَ دنیا خوښ په شته دلگیر وی　　دَ هغه فقیری ښائی اعتبار تَ
دا څو ورځی غنیمعت دَ گل دیدن دی　　ولی نه راځی بلبل و نو بهار تَ
چه ئې تلَلم په خندا خندا دیدن ته　　اوس ئې درومم په ژړا ژړا مزار تَ
لک او کروړ که پسې خرڅ عبدالقادر کا
هم تیر عمر به را نه شی په بیارتَ

په یَوه نظر چه وکړی ساقی ماتَ　　هغه دم می صد ساله توبه شی ماتَ
دَ فراق لمبو می[1] نه لړمؤن وسو　　آرزوئی می شی هر گوره ستا ومأتَ
عاشقی می مادرزاد خوی و خصلت دی　　دا خصلت می خدای ورک مکړه تر مماتَ
روح په مثل دَ آدم قالب حوا دَی　　فر رندان ئې شول څوک پلار ته څوک ماما[2]تَ
چه عیسیٰ دَ تعلق له بارَ خلاص شو　　دَ تجرید په پرو ورغَی سما تَ
عاقبت به مجاز واړه حقیقت شِی　　اشارت دَی جو فروش گندم نما تَ
پکښ بند په دواړُو پښو عبدالقادر شو
خلاص دِ نشی ستا دَ مینی له حماتَ

ما چه فهم وکړ د دې دَور په بربست　　شکست ئې په درستی کښ دَی درستی ئې په شکست
هیڅوک هوښیار نشته دَ دنیا پخرابات کښ　　څوک مستی په مَی کا څوک دَ یار په شونډو مست
سل ځل پیاله دَ صافو ورکړه ترې به واوړی　　هر چه ئې پیاله دَ درد نصیب وِی په الست

---

۱. لمبو دننه.

۲. مما.

پاځی ستا په ناسته غم اندوه ځما له دله
جگی جگی تل کړه دا برخاست او دا نشست
څه نسبت دَ مینی چه فرشته به ئې په سپی کا
خاندی و رقیب ته یار هه ځما په قسمت
هر چه معنوی فقر ئې بیا مونده له حقه
لا به محبت دَ زړه په نیست لَری تر هستَ
لوی هلک به واړه اخر تا ته وجار وزی
ځان که لکه مځکه کړې عبدالقادره پستَ

چه بدل په عبادت نکړې عادت
بیا به نه مومې لذت دَ عبادت
چه سبب ئې دَ دوزخ ځما کشتن وِی
بیا دِ نه موم دا هسی شهادت
په نکرځو دَ ناز پښې د لیلی سرې دِی
هوسۍ درومی دَ مجنون په عیادت
سیادت به دَ طاؤس نه دَ همای وُ
که مونده شوی په چورۍ سیادت
دَ استاد په سعی کله ذکا مومی
چه مفطور وِی هغه څوک په بلادت
چه هیڅوک می نه پوښتَنه نه ماتم کا
هغه مرگ دلې هورې دَی سعادت[1]

نمر وته نه گورم گورم زه و خپل نگارتَ
گل ته نظر نکړم نظر کړم هغه رسخارتَ
لِیری له ما مځه ځی چه ځې اروا له تَنه
ومرم که و نه مرم که یَودم شې له ما بیارتَ
باغ وته می بولی نه می بولی دَ یار کوی ته
کوی ته به ئې درومم نه به درومم و گلزارتَ
ډیر خلق می ولید و می نه لید ستا په څیر یَو
چین ماچین ته لاړم نه چه چین ماچین تا تارتَ
و به چوی له غمه زنهار ووایه مه وایه
راغی خبر را نغی طبیب و خپل بیمارتَ
نور به یاری نکړم کړم اخته په غم یارانوُ
هیڅ ئې را پرې نښول غم ئې پرینښو وَ ما خوارتَ
رایشه چه راشِی تللَی جان عبدالقادر ته
هر څو تللَی جان که تن ته نه راځی په بیارتَ

په اذل چه ئې دَ بدوُ دی سرشت
خواه ناخواه به هغه کاکا رُونه زشت
په هر چا باندِی شوه خپل لاره آسانه
څوک په لور دَ کعبې ځی څوک دَ کنشت
په خندا په هوس تله شِی وَ دوږخ ته
په ژرا په غم په لوری دَ بهښت
ښه وینا په وخت دَ لَو پاخه دهقان وې
"هر کس بدرود آخر هر آنچه کشت"
زاهدان چه بهښت غواړی و عارف ته
دُوی غلیدلِی هلکان دی دَ دربشت[2]
پریشانی پر همیشه تاثِیر کوینه
ځما ستا دَ زلفو یَو دَی سرنوشت
دَ مقصود په لوری څه عبدالقادره
که په رَو دَ نقشبند ځې که دَ چشت

۱. مقطع نه لری.
۲. یو ډول لوبه.

مخ که واړَوِی دلبر ځما وَ لورتَ   نور به شا کړم دَ فانی دنیا و کورتَ
همیشه دَ جدایئ پدریاب ډُوب یَم   دَ لیدو په هیله سر کړم کله پورتَ
دَ زړه زور دَ صورت توان می هسی کم شو   چه فریاد له کمزورئ نکړم په زورتَ
غمخواره به ځما څرنګ عمخواری کا   چه احوال دَ عشق وایه نشِی غمخورتَ
لاله زار به همه واړه قبرستان شِی   که دَ یار دَ مینی داغ یوسم و ګورتَ
توری زلفی ئې دَ مخ په تاو تاویږی   وینبته تاو شی چه نزدې ئې کا وَاورتَ
حد دَ چا دَی چه ئې لاس پر خساره بږدی   کله ګوتی څوک وروړه شِی وسَره اورتَ[1]
چه دایم تر رنجو توری بې رنجو وِی   په حیرت یم ستا دا تورُو سترګو تورتَ
چه منکر ته یار ستایې عبدالقادره
په معنی دَ نمر صفت کوې و کورتَ

بیا می نوې مینه ورغله وَ دل تَ   ګویا سرې لمبې می پریوتې کوګل تَ
چه دا هسی شان په سرو لمبو کښ اوسِی   پخپل زړه پوری حیران یم ستا وربل تَ
سترګی سرې لاسوُنه سرې جامې ګلګونی   ګوره بیا درومی دا چا و قتلوَل تَ
کوم کم بخت سړی پښیمان کړې چه رانغلې   تا ویَل چه زه به در شمهَ بورجل تَ
چا چه یَو ځله لیدلَی هغه مخ وِی   سترګی وخوری که به وګوری و بل تَ
دَ راتلو زیری دِ باد په چمن وکړ   سترګی وَخَتې دَ ګلو ستا لیدَل تَ
دا اورو په ژړا لا کلوُنه وا شِی   کله ګوری ښایسته دَ چا ژړَل تَ
لا خندا ئې درسته کړې نه وِی خورشی   څه فایده ده دَ لاله و غوړیدل تَ
چه وَ مخ وته ئې ګورم نندارہ می   هر ګز نه پریږدِی دَ سترګو ځبل تَ
مګر ګل به همیشه په باغ کښ اوسی   چه په خواره سترګه ګل ګوری بلبل تَ
ډمی تار ئې دَ زلفین و ما راکړه[2]   چه ئې کښیږدم دَ کفن و اندرول تَ
وایه وایه دا بیان عبدالقادره
دواړه غوږه می نیولِی ستا وَیَل تَ

بل کړه دَ اخلاص به غوړ څراغ دَ عبادت   موم دَ عصیان ویلی کړه په اور دَ ندامت
سترګی کړه اوره باران دَ اوُښیو ځنی درومه[3]   ګنُدِی دِ میوه کاندِی نهال دَ محبت
هسی رنګه ومره چه خپل ځان له خلقه خلاص کړې   نه ئې چه سبب شِی دَ خلاصئ ستا رحلت
غم دَ نورُو اخله په چا مړده خپل غموُنه   پاته به دِ نوم شِی په جهان دَ فتوت

۱. څوک وروړه شی و سره سکورتَ.
۲. کټ مټ ولیکَل سو.
۳. اوره.

تخم ئې یَو ځل دَ کمینئ په خاورُو پټ کړه
هاله به زرغون شِي دَ لوئیٔ زراعت
خوښ پخپله بخره شه حسد له هیچا مکړه
هر چا ته رسیږِي خپله بخره خپل قسمت
موړ به هرګز نشِي دَ حرص د کاختیٔ وَږی
هیڅکله به وږَی نشِي موړ دَ قناعت
ناست په اور کښ ښه یې نه دَ بدُو په مجلس کښ
اور دَ صورت سوځی[1] سوځی دین دَ بد خصلت
سوځی دَ حسد په اور وجود دَ حاسدانوُ
خوښ ګرزِي محسود له دغه اوره فراغت
ستا تدبیر دوږخ دَی جنت کار سپارل تقدیر ته
خلاص شه له دوږخه ځان داخل کړه په جنت
پاڅه ساقی راکړه پیاله له میو ډکه
یار، دَ سیند کنار، وخت دَ بهار دَی غنیمت
ستا پیاله چه وڅښم وَیل کړم له خط و خاله
ښه غزل انشا کړم دَ دلبرُو په صفت
یار می باده خور شو څرنګ زه ځنی انکار کړم
شرط دَی دَ یاریٔ ځموږ پدین موافقت
ستا په تله می باغ دَ سعادت پژمرده کیږی
وکړه دَ رحمت نسیمه! بیا مراجعت
هر چه له چا اورې غوږ کاږه کړه ترې تیریَږه
مکوَه عبدالقادره چا سَرَه حجت!

خپلی مینی لیونَی کړم و عالم تَ
اوس به څه له چا مانه کوَم[2] قلم تَ
چه قلم دَ جدایئ ځما واهه شو
په ژړا می سترګی سرې کړې و شبنم تَ
چه دَ نمر اتلس مخه شِي په کښته
مخلوقات به ګوری ستا فضل و کرم تَ
زه ملنګ په دوهه پروت دوهه مې خوښه
دَ دوهې دَ لوګی خوند دَی و ملنګ تَ
هر امت چه دَ رسول پیروی نکا
سرنګون به بیا ور درومی جهنم تَ
زه ''قادر'' ئې بې آتشه په اور وسوم
لږ دَرب دَ پاره وَوایه صنم تَ

(ج)

نن ئې بیا کښیښو په سر باندِی دستار کج
لکه مست هاتی په لار کَوِی رفتار کج
مخ به چیری راته سَم کړی په یاری کښ
له همیش به ئې لری راته نګار کج
فلک تا غندِی ډیر سَم کړه ته وروستی یې
له غروره به تل ځو درومې په لار کج
دانا وران کارُونه جوړ په دانایی[3] کا
په تعجیل سَره نادان کاندِی سَم کار کج
په راستی کښ چه مونده رستګاری شِي
سکه زنهار و چا ته مه وایه ګفتار کج

---

۱. سوی.
۲. وایم.
۳. دانا، وران کارُونه ساز په تأنی کا.

هر چه سَم ځِی په روزګار کښ غم ئې نشته　　همیش غشی مومی تاو دَا ستا کار کج
سبره هیڅ په ټیټو ونو لوئې مکړه　　ستا به هم کانده قامت کاندی روزګار کج
که فلک ورسره کوږ شِی غم ئې نشته
مکړه خدای عبدالقاد سره خپل یار کج

(خ)

چه ئې سپیٔ کړه دَ دنیا له ځانه چخَ　　هم هغه کاندِی ځان خلاص دَ دیو له اخَ
چه وَیَل دَ عرفان کا اثر ئې نه وِی　　ابلیسک دَی ځنی تښته په فرسخَ
په خفیه ذکر ئې ژر مری خفه کړه　　که شیطان دِ په خاطر کا منګل شخَ[1]
دَ فراق لمبو وهَلَی را نژدې شه　　چه سینه دِ کړم په مثل دَ سینې یخَ
ستا دیدن رمق را پاتو دَی پرې پایم　　جګی جګی یاره ناست اوس را څخَ
د توبې دریاب ئې تا وته پیدا کړ
سپین کړه ځان عبدالقادره له وسخَ

(د)

که دَ نورُو توانګری په سیم وزر دَه　　دَ عاشق دَه په سپین زړه په چهره زردَ
لکه ترَی له سرِو اوبو خط مومی　　مشتاق لا مومی لذت دَ یار له دردَ
په سپین مخ دِ ویښته ندی تور لوګی دی　　چه وتلَی دَی ځما له آه سردَ
چه دَ توری مخ ئې سور کړ پمیدان کښ　　هم هغه سرخ روئی یوسِی له نبردَ
بل ګناه ئې بې مردیٔ نه ښکاریږِی　　چه نامرد سرَی کینه کاندِی له مردَ
که په شاه باندِی په کیش په سمور تیر شُو　　ګدای هم په ګنَد کښ روغ وَوت له بردَ
په نامرد مشک و عنبر لونې فلکه　　آلوده لرې دَ مرد چهره له ګردَ
خپل نصیب کړ په تا خار عبدالقادره
یار که هر څو حسن زیات لَرِی تر وردَ

نا آشنا تر آشنا ښه ئې نن اوکاندَ　　لدې پسه زړه له چا سَره مه خاندَ
که ئې لوی دَ زړه په وینُو لکه ګل کړې　　هم هغه به په زړه درکاندِی شنه تاندَ
چه ترې سر ئې ځان لوګی کړې قربانیږې　　دَ جفا په اور دِ سوځی لکه سپاندَ

---

۱. ښخ.

خپل پردِی ته ځای دَ طمع پاته نشو　　خدای دِ نکا څوک پخپل چارُو درماندَ
دَ عزت[١] ترخو ته ځان نیولَی نشې　　په خوړو پسې دَ مچ غُندی گرزاندَ
بې اجله به ئې خلاص له درده نشې　　دَ بدخوی سیاره[٢] په چا مشه هراندَ
دَ ستم په ښکر دِ غوځ[٣] عبدالقادر کړ
په ظاهر صورت سړَی په خوی یې داندَ[٤]

زه دِ تل وینم وزان دَ سحر بادَ!　　په مقدم دِ شی سینه دَ عمجن ښادَ
چه ئې لاس دَ دلاسا په تندی کښیږدې　　قراری دَ بیمارو شی له فریادَ
نه تنها فیض نثار کړې په گلونو　　لا خارُونه امیدوار دِی ستا له دادَ
په ښه بوی دَ باغ گلونه معطر کړې　　په نفس کړې دَ غنچې غوټی[٥] کشادَ
ستا په راغله دَ باغ ونی زر ریزی کا　　سبر ته دَ بار له باره کړې آزادَ
پرورش دَ بهره منڈو بوټو وکړې　　بې بهرې بوټی وکاږې له بنیادَ
چه تر منځ دَ قاصددانُو لارِی بند شِی　　پیغام یار ته دَ یار راوړې له هِوادَ[٦]
و یعقوب ته دِ خبر دَ یوسف راوړ　　نامراد دِ هم آغوش کړ له[٧] مرادَ
دَ وصال په زیری هسک عبدالقادر کړه
پرې یستلیَ دَی هجران له لادَ بادَ[٨]

صاحب دَ ولایت نمک له هندَ　　د دې دواړُو یې ساز شوَی ځما جندَ
دَ کوثر دَ اوُبو آب دِ مخ لرینه　　دَ مشتاقوُ ځنی نه ماتیږِی تندَ
په دا دوه حرفه ادا مسلمانی دَه　　هر چه نه پسندې په ځان په چا مه پسندَ
هر پیوند ئې دَ ذلت قطعیت[٩] کاندی　　پادشاهی تر تا قربان دَ عزت گندَ
چه ئې اوس په ټولَولُو نه مړیږې　　هم دا خپل دولت به وکا پټا شندَ

---

١. که عزت، عزلت شی ښه نه وِی.

٢. یعنی سالنډی.

٣. خوړ.

٤. x.

٥. غوټه.

٦. هیواد.

٧. نامرادَ هم آغوش کړې له مرادَ.

٨. له آدبادَ.

٩. قلعیت.

د زاهد له صومعو عبدالقادره
وَوزه مراد دَ خپل خاطر غواړه له رندَ

اې په زنی ناشپاتی په شونډُو قندَ
په قامت تر سبروَنی لا بلندَ
خوش خرامَ گل اندامَ عنبر مویَ
خود نمایَ خود ستایَ خود پسندَ
که زاهد دَی که عابد ترې نه خلاصیږِی
خلقې دِ کړې په تورُو زلفو بندَ
منور دِ کړِ عالم دَ مخ له نوره
لکه نمر په تمامی عالم څرگندَ
ستا په تَش نظر می رنځ دَ زړه ورکیږِی
یَو ځل وگوره و ما ته سترگی برندَ
په هجران به دِ تر کومه خوار و زار یم
په وصال می بهره مند کړه بهره مندَ
هر قدم په فهم ږده عبدالقادره
دَ عشق لار کوهی کوهی ده کندَ کندَ

(ږ)

چه مې ولیده دَ یار سره اغیار گډ
په فریاد شوم په ژړا شوم په جیغار گډ
آئینه دَ زړه صفا له خاکساریَ شِی
هم په دا له تورُو خاورُو شه خاکسار گډ
عندلیب دَ زړه له تاوه نارې وکړې
چه ئې ولیده له گله سره خار گډ
هر یو گل می په زړه خار غندِی څرخیږی
چه بې تا شم کله کله په گلزار گډ
ستا په زلفو کښ می زړه هر گور پریشان شو
مسلمان دِ نکا خدای په هندوبار گډ
نادانی نادان همیش لَرِی په عیش کښ
هوښیاری دَ غم په سیند کاندِی هوښیار گډ
چه آخر ځنی واته په ډیر ارمان دِی
نه به شِی عبدالقادر په دا بهار گډ

(ر)

مزین ئې کا یَو څو په افسر سر
بیا ئې مات کا دَ دوران غضنفر فر
اورنگ زیب به څه خلاصی ور ځنی مومی
دا مزری دارا شکن دَی سکندر در
ځکه نوم ئې دَ ذهب ور باندِی کښیښو
چه دَ باد غنُدی هر دم کا گذر زر
نن په څو له تورُو خاورُو سره پروت دی
چه ئې ډک وُ همیشه په دلبر بر
برایه می آشنا ولیده په خوب کښ
په ژړا می کړِ په اُوښیو بستر تر
که په اصل واړه یَو دی په دا څه شُو؟
په قیمت سره سم نه دی گوهر هر
په معنی کښ بشر نه دَی پړانگ لیوه دی
چه دَ ده دَ لاسه مومی بشر شر

هر سړی پخپل مقدار خریداری کا   ځنی آس ځنی ټټوان ځنی خرخر
په ښکنځل ئې سرفراز عبدالقادر کړه
دَ ژوندُون له باغه خوره دَ سمنبر بر

که هر څو لعل آبدار لری دلبر   نشو هیڅکله پرې یخ دَ چا ځگر
دَ هغو شهلا نرگسو له فراقه   همیشه می تر نرگسو ځی گوهر
هر یَو گل ئې دَ ښایست دَ باغ منظور وِی   ولی لا ئې په سمن لگی نظر[۱]
راشه وگوره ځما زیبا صنم ته   که به گورې په یَو ځای هلال قمر
سر و سر دَ خجالت په مځکه کښیښو   چه سر هسک کړ په بستان دَ یار عرعر
دَ ژوندُون چینه یادیږی په تیاره کښ   ما ته خدای راکړه چینه[۲] تر څنگ دَ نمر
چه سنبل ئې باد پریشان په نسترن کا   په غروب شِی دَ عاشق دَ بخت اختر
چه غنچه ئې شگفته په تبسم شِی   له گوهرو ئې جهان شِی منور
که له ډیره رشکه وچوی حد ئې څه دی   چه له ملا سره ئې مو وهی کمر
که ئې نوش عبدالقادر دَ شکر مَی کا
پرې به شِی دَ مرگ تلخی شهد و شکر

بربر راشه ځما دَ سترگو تورَ   خدای می مکړه دَ زړه مینه لتا نورَ
ځما ستا له مینی هر څوک[۳] خبردار دی   څه به ویره کړې له شرمه له پیغورَ
عاشقان له تهمتونُو نه خلاصیږی   همیشه باندِی غوغاوِی لور د لورَ
سپی که هر څو غپا ډیره کا مزری ته   مزری هیڅ نکا پروا دَ ده له شورَ
که نمځن[٤] وَیَل دِ نکیږِی و ماته   کله کله راته کړه خبره سپورَ
چه رقیب وته ښکنځل کوې زه سوځم   جگی جگی بې له ما نه مه زورَ
مستغنی ئې دَ جهان له بادشاهۍ کړم   دَ همای تر سیوری بهَ دَه ستا سیورَ
څو دِ توری سترگی توری خاوری ندِی
تل پر مخ عبدالقادره دَ یار گورَ

---

۱. هر یَو گل مي دَ ښایست دَ باغ منظور دَی   ولی لا می په سمن لگی نظر
۲. ما ته خدای کړه دا چینه.
۳. ډیر عالم خبر شو.
٤. په دواړو نسخو کښ دغسی دَی.

مخ په هر لوری جلوه کَوِی دَ یار[۱] البصروا البصروا اولوالا بصار
بې محابا راکره کښېږده قدم لیس في الدار غیرنا دیار
په بد صحبت دَ نبی زوی شه خراب اتقوا من مجالس الاشرار
په ورکَول دَ سر وصال مونده شي ابشروا یا معاشر التجار
طعن و پیغور و ما ته مکړه شیخه! انا عاصی و ربنا غفار
که رقیب ووینې له یاره سره قل اعوذبرب لیل و نهار
دَ ځواب څوک دی چه آواز وکاندی لمن الملک واحد القهار
رب ښه یار عبدالقادر ته ورکړ
وقنا ربنا عذاب النار

نه به ستا دَ ښایست[۲] تَل وِی هسی دَور نه به زړه وِی دَ عاشق مدام په ځور
چه دا دواړه بقا نه لرِی تیریږِی بیهوده هومره ستم کړې هومره جور
زړه دِ سخت دَی په سختۍ تر سخت کانړی که درست تن دِ مصفا دِی تر بلور
بې جوهره ښایست نه لَری هیڅ قدر دَ شاهانو په لاس باز کښېنی نه میور
چه په بد نظر نظر وکړې اُوبه شم څه حاجت دَی په ما خوار دَ هومره زور
مخ له یاره جار یستل خندل رقیب ته واه واه واه عجب یاری دَه عجب طور
هسی یار عبدالقادر په بخره بیا مونده
چه صورت ئې دَ سړِی، خصلت دَ بور[۳]

اې چه دَ ښایست په باغ کښې گل لرې بې شمارَ هیڅ به دِ کم نشِی یَو څو گل ور ځنی مارَ
شونډِی ئې مهره زلفی ښامار ترې جار وتلی بویه سربازان چه مهره اخلی له ښامارَ
ځما و ستا تر منځ د ځما ستا وینا نه بویه نشی په یاری کښې به همار او تمارَ[٤]
سخت دَی دَ نیمگړیو طبیبانُو ناز تر مرگه مرگ ته غاړه کښېږده دارُو مه کوَه بیمارَ
پاس په بام وَلاړه دَ غمزې ناوک په گرت[٥] کښې زړه به دِ زخمی کا، په دا لاری مه ځه یارَ[٦]

۱. مخ په هر نور جلوه گر دَی دَ یار.
۲. حسن.
۳. یعنی پلنگ.
٤. هندی دی یعنی ماته او تاته.
۵. دَ لمر توری په پیښې دَ گوتی منځ ته وائی.
٦. دا بدله مقطع نلَرِی.

زړه می هر گور وُ له هجرانه افګار
شکر حق را که باز آمد یار
سر و سر کوز له انفعاله کاندِی
چون خرامد بسوی باغ نګار
څوک به لاله دَ یار دَ مخ کا مخی
آن سیه دل کجا و آن رخسار
په موافق دَ محبت شِی عتاب
مشو از جور یار خود آزار
متحیر ئې په لیدو دَ جمال
همه خوبان چو صورت دیوار
خو اتصال دِ دَ عاشق شِی نصیب
خواه در باغ و خواه بر سردار
باغ و شاهد ښه ښه یاران موجود
خیز ساقی شراب ناب بیار
ګوره بیا کله رایشی هغه وخت
که نهم لب بلب شکربار
نور دَ زړه مراد عبدالقادره پرېږده
ګر بیا بی مراد دل این بار

یار هغه چه ګهی مهر کا ګاه قهر
کله کله نوش دارُو شِی، کله زهر
ګاه باران شِی دَ ژوندُون اوبه کا نَوِی
ګهی اور شِی سرې لمبې کا تمام ښهر
که دا هسی یار مونده شِی پطلب کښ
سستی مکړه هم ئې پټ غواړه هم جهر
شپه او ورَځ آه و فریاد سوز و ګداز کړه
له هجرانه روان کړه د سترګو نهر [1]
و عاشق ته دَ یار غم هر ګور ارزان شِی
که مونده شِی په تمام هوس دَ دهر
ګوره څو عالم به ورك څوک به خراب کا
لور په لور دَ فتنو سیند وَواهه لهر
دَ زړه باز به دِ هاله دَ فکر ښکار کا
که بیدار وِی په وروستی په وړومبی پهر [2]
که هر څو عاقل هوښیار خو لیونَی شِی
چه به خوب کښ ور ښکارېږی پریچهر
په ارمان په حسرت لاړل له جهانه
که پرویز وُ که دارا که منوچهر [3]

(ړ)

چه ئې زړه ځما سورَی دَ عشق په تیر کړ
تر هغه سوری می مخ دَ اشنا ځیر کړ
ستا دَ مخ آفتاب پر وخوت پرې رڼا شوه
چه ئې ستا په تورو زلفو کښ شبګیر کړ
له هوسه په خندا خندا په شا ولاړ
سخندانوُ چه ګل ستا دَ مخ نظیر کړ
چه ئې زړه دَ یار په وصل کښ خوشحال وُ
یَو په سله تر هغه هجران زهیر کړ

---

۱. دا غزل په یَوه نسخه کښ نسته، په دې نسخه کی دا مسرئ ناقصه ده.
۲. په منقول عنها نسخه کی نسته.
۳. په منقول عنها نسخه کی مقطع نلَرِی.

له دې اوره سوزان اور دَ بیلتانه دی څکه ځان هندو وسولُو وته خیر کړ
له هجرانه به څه ډار عبدالقادر کا
چه ئې خیال دَ یار د مخ په زړه تصویر کړ

ښېرِ دِ بیا هجرانه ډیر عالم به غم کړ کور په کور دِ په دې ملک نوَی ماتم کړ
چه څو کاله می[1] ټول کړی په خواری وُ هم هغه عیش دِ بدل پغم په دم کړ
له پیچونی[2] دِ دَ غم سپاره ښکاره شول دَ هوس لښکر دِ درست برهم درهم کړ
تور لوګی دَ آه له هَره ځایه خیژی رڼا ورځ دِ پعالم باندِی تور تم کړ
لکه تا کړه دَ امید غنچه سېر تویه خزان کله په ګلونُو دا ستم کړ
بلبلان ئې له فراقه په نارو شول له دې غمه دِ دَ سبر ګردن خم کړ
سن زر سل دَ جدایئ څورلس دَ پاسه دا غزل مې په بیاض باندِی رقم کړ
نور به څه عبدالقادر له چا خندا کا
تا سېر کال دَ اشنایئ قدم کم کړ

(ز)

خو خبر نه دِی وګړی له دې رازَ ګڼه بیل حقیقت نه دَی له مجازَ
عارفان چه له خودیه ځان خالی کا تسبیح اَروی دَ شپیلئ[3] له آوازَ
که په عشق کښې نسب شرط دَ محبت وَی دَ محمود مینه به نه وه له ایازَ
امتیاز ئې تر منځ حسن را پیدا کا کنه فرق دَ بد خویئ نشِی له نازَ
چه ئې ونغښته لَمن له خار و خسه سبرونه شوه په باغ کښې سر فرازَ
چه آغاز دَ چاری ښه انجام ئې ښه شی دانا ځکه تل په بیم دَی له آغازَ
زه پدا و خپل مَین ته پیښکښې نه وړم چه کمی دَ هیڅ څیز نلَری بې نیازَ
ستا به ساز بې سوزه هیڅ سَره و نشِی اې ځما دله تمام له سوز و سازَ
سیند خونی، باد مخالف، شپه توره تمه ګوره چرته به شې سر ځما جهازَ
لوَړه تنده رنځ زحمت نوری خواریَ همګی واړه آسانه دِی تر آزَ
چه خپل یار عبدالقادر ته په نیت ښه وِی
نور ئې کومه اندیښنه دَه له غمازَ

---

۱. ئې.
۲. دا کلمه که په نون وِی په معنی دَ ډیر ګوچنی او ذره وشمه شی راځی، او که په میم وی (پیچونی) یعنی لوړتیا، بلندی.
۳. شپیلیه.

(س)

ته ور درومه خپل هوا کوَه هوس　　ترهغه چه دِ پخوا کړِ یَو په لس
له ازله غم ځما دَ زړه نصیب دی　　چه خلاصی می ځنی نِشی یَو نفس
گله تا دِ خدای تازه لَری پیا غ کښ　　اور په بخره دَ اغزَیوُ دَی دَ خس
ما ژوندَون دَ محبت له اوره بیا موند　　ځکه سوځم په اختیار لکه ققنس
چه خپل زړه را ځنی ځی نیوی ئې نشم　　ستا په زړه به څرنگ مومم دسترس
ساقی زه دَ صافو میو لایق نه یم　　هزار شکر که دارو کړې دَ بکس[1]
په سرو شونډو ئې تور خال دَی چه ښکاریږی　　که دا نښتی دَی په شهد وکښ مگس
که وصال عبدالقادره دَ یار غواړې
یَو قدم په دنیا کښیږده بل په نَس

(ش)

خیال ئې چه په زړه کښ دَ رخسار ساتم همیش　　ننه په کوگل کښ گویا نار ساتم همیش
بحر په کښتیَ کښ نه ځائیږی سیند دَ اُوښیو　　څو به زه په سترگو کښ حصار ساتم همیش
ستا چه خوشحالی کیږی، ځما په خواریدلو　　پسله دې به ځان تر خوارو خوار ساتم همیش
عیش منغض شِی په ورتله ځما دَ خلقُو　　ځکه له عالمه ځان کنار ساتم همیش
ډیر را باندِی خوږ دی په بَل چا می پیرځو نشی　　پَټ ننه په زړه کښ ستا آزار ساتم همیش
خوښ ئې په آواز یم چه فریاد عبدالقاد کا
ځکه ئې دا هسی شان افگار ساتم همیش

(ښ)

دلبر مخ راته ښئِی به هر آئین کښ　　که په تور کښ جلوه گر شِی که په سپین کښ
گه په زلفو کښ ځای وکا زړه را کاږِی　　گه په سترگو په رخسار او په جبین کښ
کله کله په ترسا کښ مخ څرگند کا　　دَ صنعان په دود ئې وران کاندی په دین کښ
په څراغ کښ تجلا وکا پتنگ ته　　بلبلانُو ته ښکاره شِی په نسرین کښ
نور او نار ئې دَ جمال جلال اثر دَی　　قهر مهر ئې په تریخ او په شیرین کښ

---

۱. راحت زاخیلی لیکی، چه بکس یعنی خورا لَږ او نه څه، خوشحال خان وائی:
نورُو حریفانو ډکی ډکی پیالې نوش کړې　　ښه چه دَ خوشحال پیاله ئې ډکه په بکس کړه. له موقعه سَره درُد هم جوړیږی!

که اثر ئې دَ لبانو پکښ نه وِی
نه به وُ هونبره خواږه په انگبین کښ

یَوه خدایه عشق یَو څرنگه لوی شی دی
چه ئې ځای نِشی په چرخ او په زمین کښ

گنج همیش په ویرانه کښ ښخاوه شِی
امانت ئې ځکه کښیښو په کمین کښ

په هر څه کښ گوره یار عبدالقادره
که دِ نشته شک گمان پخپل یقین کښ

(ط)

چه صادر شو ستا له لوریه په ما خوار خط
له خاطره ئې اندوه کړ تار په تار خط

معطر له خوشبویۍ اهل دَ مجلس شُو
چه می واکړه لفافه دَ عنبر بار خط

په تحقیق چه نیم دیدن ور لَره یُو سِی
له هِواده چه یار وکاندِی په یار خط

سبزه نه ده چه په مزکه زرغونه شوه
دا دَ خپلوُ راتلو را ستاوه بهار خط

حسن خط دَ ویزارۍ و مخ ته ورکړ
چه ښکاره شو به عذارُو دَ نگار خط

هیڅ زنگی به ئې په هیڅ رومی ونکا
لکه کاندِی په سپین مخ باندی ناتار خط

ستا دَ شونډُو مهره څوک واخلی دلبره
چه ترې پریوت چاپیره لکه تور مار خط

دَ ښایست آفتاب ئې پټ شُو لیدی نشی
چه ئې پاڅیده په مخ لکه غبار خط

دَ ده کبر ستا اندوه ئې له زړه کم کړ
منت کړ عبداقادره په تا بار خط

(ظ)

که هر څو نصیحت ښه وایې واعظَ
بهتر دَی چه ما ته نه وایې واعظَ

عاشقان په عشق کښ کله نور څه اَروِی[1]
و کښو ته وعظ څه وایې واعظَ

نصیحت و لیونی ته لیونتوب دَی
که پاخه وایې اومه وایې واعظَ

په خاطر باندِی می سخت ترکاڼی لگی
پند که نرم تر اوبه وایې واعظَ

لا تر ما په زړه کښ ته باندِی مَین یې
مذمت دَ عشق په خوله وایې واعظَ

په خلوت کښ په خلاف دَواړُو کار کړې
هر چه ته په منبر ښه وایې واعظَ

ستا وَیَل را باندِی ځکه اثر نکا
چه ته نکړې هر چه ته وایې واعظَ

تر گنډیر دِی لا ترخه عبدالقادر ته
که هر څو ورته خواږه وایې واعظَ

---

۱. عاشقان بې عشقه کله نور څه اَروِی.

بې ما ځوک ځما له یاره مومی حظ — ړانده کله له گلزاره مومی حظ
دَ یار مخ دَی منور دَ خدای له نوره — کافر کله له دیداره مومی حظ
فقیرانُو ته ښکاریږِی سرې سکروټې — دنیا دار که له دیناره مومی حظ
طالبان دَ دنیا سپی، دنیا مرداره — سپی هر کله په مرداره مومی حظ
نس مگس ریاضت، اور، ور ځنې تښتِی — زړه پتنگ، پتنگ له ناره مومی حظ
په مجنون دَ هلکانُو کانِی گل دی — ځو ئې ولی هونبره واره مومی حظ
دَ آزار قدر دَ نورُو ځخه نشته — عاشقان دِ له آزاره مومی حظ
خاص الخاص عبدالقادره پرې پوهیږِی
عام به څه ستا له اشعاره مومی حظ

(غ)

یَو ځل بیا هغه نگار ولیدی دریغَ — هوسیٔ سترگی گلرخسار ولیدی دریغَ
چه قرار ور ځنی لاړ له ډیره غمه — بیا هغه خاطر قرار ولیدی دریغَ
دَ پسرلی گلؤنه وا په باغ او راغ شوی — دَ بلبلؤ پرې چیغار ولیدی دریغَ
په خندا خندا راتلی تنِیَ شلیدلی — له مستیَ ئې خپور دستار ولیدی دریغَ
چه له ډیره کبره سَم نه ځی په لارِی — هغه ترک کوږ رفتار ولیدی دریغَ
چه په تله ئې نور ځما له سترگو یووړ — ښایسته نور الابصار ولیدی دریغَ
دَ بیلتون ئې اندیښنې له منځه ولاړِی — یار له یار سره کنار ولیدی دریغَ
په عاشق باندِی ئې مهر رنگا رنگ کړِی — تر نظر ئې رقیب خوار ولیدی دریغَ
چه په هجر کښِ ئې حلق ځما تریخ کړ — په دوو شونډُو شکر بار ولیدی دریغَ
پاس په زړه باندی می میشت دَ غم لښکر دی — دا لښکر می تار په تار ولیدی دریغَ
دا آرزو عبدالقادر لَری په زړه کښِ
چه دَ مرگ پخوا خپل یار ولیدی دریغَ

چه آخر به ځنی درومی سینه داغ — بیهوده باغوان نازیږِی په دا باغ
چه داخل دِی دَ دنیا په خرابات کښِ — په وار وار به واړه څښِی دَ مرگ ایاغ
تش ساتل دَ ده نصیب نور به ئې یوسی — په دنیا دنیا دار ولی کا دماغ
دَ بلبلؤ غنُدِی گښت په گلو نکا — په مرادره باندِی ناست وِی لکه زاغ
په طلب ئې بادشاه گرزِی گدای بیا موند — که آرام که آسایش دَی که فراغ
په لحد کښِ به دَ شمع رڼا نه وِی — مگر یوسې در سره دَ آه څراغ
سرې سرې اُوښی دَ مجنون دِی څڅیدلی — ریژیدلی لاله گل ندی په راغ

دَ نیستیٔ په لاری ځه عبدالقادره
گنُدِی بیا مومې دَ یار دَور سراغ

یَو ځل بیا هغه نگار ولیدی دریغَ
هوسیٔ سترگی گلرخسار ولیدی دریغَ
چه قرار ور ځنی لاړ له ډیره غمه
بیا هغه خاطر قرار ولیدی دریغَ
دَ پسرلی گلوُنه وا په باغ او راغ شوی
دَ بلبلوُ پرې چیغار ولیدی دریغَ
په خندا خندا راتلی تنہیٔ شلیدلی
له مستیٔ ئې خپور دستار ولیدی دریغَ
چه له هډیره کبر سَم نه ځي په لارِی
هغه ترک کورِ رفتار ولیدی دریغَ
چه په تله ئې نور ځما له سترگو یووړ
ښایسته نور الابصار ولیدی دریغَ
دَ بیلتون ئې اندیښنې له منځه ولاړی
یار له یار سره کنار ولیدی دریغَ
په عاشق باندی ئې مهر رنکارنگ کړی
تر نظر ئې رقیب خوار ولیدی دریغَ
چه په هجر کښې ئې حلق ځما تریخ کړ
په دوو شوندوُ شکر بار ولیدی دریغَ
پاس په زړه باندی میشت دَ غم لښکر دی
دا لښکر می تار په تار ولیدی دریغَ
دا آرزو عبدالقادر لَری په زړه کښې
چه د مرگ پخوا خپل یار ولیدی دریغَ

چه آخر به ځنی درومی سینه داغ
بیهوده باغوان نازیږی په دا باغ
چه داخل دی دَ دنیا به خرابات کښې
به وار وار به واړه څښی دَ مرگ ایاغ
تش ساتل دَ ده نصیب نور به ئې یوسی
په دنیا دنیادار ولی کا دماغ
دَ بلبلوُ غُندِی گښت په گلو نکا
په مرداره باندِی ناست وِی لکه زاغ
په طلب ئې بادشاه گرزِی گدای بیا موند
که آرام که آسایش دَی که فراغ
په لحد کښې به دَ شمع رڼا نه وِی
مگر یوسې در سره دَ آه څراغ
سرې سرې اُوښی دَ مجنون دِی څڅیدلی
ریژیدلی لاله گل ندی په راغ
دَ نیستیٔ په لاری ځه عبدالقادره
گنِدی بیا مومې دَ یار دَور سراغ

(ف)

دروغجن وعده خلاف
نه دي کا دَ مردیٔ لاف
شاهدی لِی دَ دروغُو
پخپل ځان باندِی خلاف
نه یَو درنگ دَ یار په کوی کښې
نه سل کاله اعتکاف
دَ کعبې تر طوافونو
ښه دَی لا دَ زړه طواف
زړه په مثل آئینه دی
تن په مثل دَ غلاف

هاله مخ پکښې لیده شی — چه ئې مخ لَرِی تَل صاف
اسمان خونه دَ فقیر دَه — نالی مځکه نمر لحاف
قوت ئې خپل خون جگر وِی — منت نه وړي دَ اجلاف
رگ ئې تار تن ئې رباب وِی — بږَغ ئې تَل دَ یار اوصاف
تل انصاف ورکَوِی بل ته — له چا نه غواړی انصاف
چه په ښه خصلت شریف وِی — هم هغه گڼه اشراف
په نسب چه خوی ئې بد وِی — نسب کله دَی معاف
یَویَو ناف دَی چه نافه شِی — نافه کله شِی هر ناف
ستا قسمت عبدالقادره — نون پیوند نوه له کاف[1]

هاله وشه حرص مکړه
که مؤمن یې په حاقاف

چه قانع په یَوه څاڅکی شِی صدف — قیمتی گوهر ئې ځي په هر طرف
که عزت غواړې قانع پخپل قسمت شه — ورکړه کړه که بزرگی غواړې شرف
بندَول دَ دنیا بند دَ جهنم دَی — آزاده وُ ځکه کښیښوله په کف
دَ دنیا خلق می ولیده په سترگو — یَو ئې جمعَ په حرص کا، بَل تلف
چه ژوندُون همیشه نشته پدا څه شو — په حشمت که سلیمان شې یا آصف
چه سړی څربښت په علم په حکمت شی — دَ څارویو څریدل وِی په علف
که ځوانمرد یې بل آزار مکړه په گلُو — ځان دَ ښو دَ بدُو تیرته کړه هدف

تل له خدایه ترس کوَه عبدالقادره
حق خائف ته دِ وَیَلِی لَاتَخَف!

(ق)

سر او مال می شو تالا په تور د عشق — لا می ندی لاړ له سَره شور دَ عشق
بهایی دَ عاشقانوُ په پیغور دَه — ما منَلَی په تندِی پیغور دَ عشق
دَ ایاز تَلِی محمود کښیښول په سترگو — نندارہ کړه گوره زور و شور دَ عشق[2]
څو دَ یار دَ قامت خیال ئې مستی نشِی — په نور څه به نشِی هسک نسکور دَ عشق
له اوله ئې دَ شمع لړمون وسو — له غه پسه پتنگ وسو اور دَ عشق

---

۱. دا مسریَ حل غواړی، کټ مټ ولیکله شوه، په وروسته بیت کښې ح،ق حق دَی.

۲. زور د شور.

پە کوگل کښې می زړە ندَی کە باور کړې | دَ صورت پە خاورُو پټ دَی سکور دَ عشق
پیادە پښې ابلی[۱] تە دَ یار پە لوری | دَ مجنون غنُدِی بە نە وِی سور دَ عشق
کە دا ځل لە عشقە خلاص عبدالقادر شِی
نوم بە وانخلی پە ژبە نور دَ عشق

لە صادقە مخالف دَی منافق | منافق لە منافقە موافق
لیونی و بیدردانُو تە ښکاریږِی | د عاشق قدر پە چا دَی پە عاشق
دَ عذرا عذار ئې عقل ځنی یووړ | کە مجنون شو عذر عشق وُ دَ وامق
شکر نن ئې مِیِن نوم را باندِی کښېښ | کە هر څو ددې نامە نە وم لایق
فوقیت پە پاس ناستې نە حاصلیږی | کلە خس پە مرغلرُو وِی فائق
چە بە ستا لە ورە ځم دَ سر پە ویرە | زە بە چیری پە ځان نوم بږدم دَ آبق
کە طالب یې دَ وصال عبدالقادرە
لمړَی لیری کړە لە دلە علائق

(ک)

خدای دِ راولە ځما یارە ملوک! | بې تا خلاص نە یم یَو دم لە دردە دوکَ
دَ زخمی زخم ئې ورځ پە ورځ خویږی | ستا شیتیٔ وە شیتیٔ عین دَ پړانگ نوکَ
محبت ئې هسی رنگ پە یَوَە رنگ کا | چە هیڅ فرق دَ مالک نشِی لە مملوکَ
پر یو تلی ئې ورځی تحت الثراتە | تر اسمان دَە لا بلندە دَ زړە څوکَ
خدای دِ لاس دَ هغە لیندی دواړە پریکا | چە شیدا بلبل ئې وَویشت پە مشوک
دَ کشمشو پە لذت بە څە پوهیږِی | چە ئې خولە وِی عادت شوې لە املوکَ
چە ئې نە وِی حال احوال دَ سالکانُو | څە فایدە چە قیل و قال کا لە سلوکَ
لکە څوک چە پە ویشتل دَ گلو خوښ شِی | هسی خوښ شِی مشتاقان دَ یار لە سُوکَ
چە بې درد دِ خبر دار لە دردە نشِی
پە زور مە کوَە عبدالقادرە کوکَ

۱. مخفف دی د تلَە یا تلَی.

(گ)

چه په سترګوُ څراغ وَوينِي پتنګ
څو وَ نه مرِی ژوندُونه وِی په تنګ

دَ وصال په طمع ژر تر سره تير شِي
بې جانانه ورته کال ښکاريږِی درنګ

مرجونړا چه غواصی کا په درياب کښ
يا سر بايلِی يا ګوهر راوړی په چنګ

نام و ننګ به آواره دَ يار په درد کا[١]
هر عاشق چه څه حيا لَرِی څه ننګ

هغه يار بې رنګه ډير لَری رنګوُنه
عاشقانُو ته جلوه کا په رنګ رنګ

له يَوه غمه لا خلاص نه وِی بَل راوړِی
نن می زړه کاوه له سرګو سَره جنګ

په دنيا کښ اولياوُ ځان مخفی کړ
په خشکه کښ کله ځای شِی دَ نهنګ

په اَړخونو ئې لک شوی غشی ښه دِی
نه چه کښيښِی بد کاران دَ چا تر څنګ

دَ لويانوُ په مدد که چيری تير شې
غاښی سخت لرې دَ وړاندِی ټټولنګ

دَ يار ياد لکه صيقل زره پرې صفا که
آئينې دِ دَ خاطر ونيوه زنګ

شاه ګدای په اجل واړه برابر شِی
چه له تنه ځان دَ تلو وکا آهنګ

چه آخر احوال دَ واړُو سره يَو وِی
څه ناستې په تورُو خاورُو څه اَورنګ

ډير ئې تا غُندِی ځار کړِی تر خپل سر دِی
دا دنيا لکه مجوغنه ته يې سنګ

څه ئې پاتو شِی دَ ورُوستو څه به غم کا
فراغت په وخت دَ کوچ درومی ملنګ

شهسواران عبدالقادره تر تا تير شول
ته هم اوس کړه پسِی ټينګ دَ يابُو تنګ

ته که خپله څهره نلَرې بدرنګَ
آئينه په کوُم ګناه وهې له سنګَ

چه سبا ئې دَ ښايست بازار خپريږِی[٢]
شمع ولی مخ پُټی کا له پتنګَ

دَ بلبلُو آوازُونو دَ ګل حسن
مستغنی کړم نوبهار له راګه رنګَ

بيا طالع را سره روغه کا پوهيږم
يَو زمان چه را سره نه وِی[٣] بې جنګَ

چه ئې رشک په سيوره کړم چه ورسره وِی
ترو به څو ګورم اغيار دَ يار له څنګَ

هر چه کړې کوَه يَو دم را ځنی مه ځه[٤]
ګوره اوس به چرخ څه پيښ کا له درنګَ

لاس کچکول مسله مزکه درته بس وِی
که کچکول مسله نه لرې ملنګَ

ليونی ليونی وائی ليونی ته
ليونی دَ دنيا خونه نه کړه ړنګَ

په تاريکه لار باريکه په کمر کښ
فهم کړه عبدالقادره له ګړنګَ

---

١. نام و ننګ به صدقه دَ يار تر سر کا.

٢. خوريږی.

٣. نه بې.

٤. نصيحت ګڼه يَو دم.

(ل)

سحر دا آواز مې غوږ یوست له بلبلَ
ستا خندا په ژړا کښې یستلم ګلَ

تر مستئ ئې لا لزت دَ خمار ډېر دَی
ستا دَ سترګو مستی بده دَه ترملَ

ښایسته دَ زمانې دنیا پرست وِی
په کوڅه کښ ئې پَل مه کښیږده بې پولَ

په چغلی مې ستا په یار مینه زیاتیږِی
څو دِ زړه هونبره چغلی کوَه چغلَ

ساقی مَی چه راکوې په قهقه خانده!
زده کړه دا دَ صراحئ له قلقلَ

دَ لیدونیو په نظر کښ تفاوت وِی
او که نه وِی جز جدا ندی له ګلَ

په پریشانۇ اندیښنو خاطر پریشان شئِ
جمعیت مومی خاطر له توکلَ

چه ستا مخ ورته حاضر وِی ګل به ګوری
دَ هغه سترګی دِ خدای نکا بې ګلَ

دَ مجلس روښنائی ته ئې ته دِ ناست یې
کوم نقصان دَی که صبا کړه ډیوه ګلَ

دا دنیا په مثال پُل دَ آخرت دیَ
تیر شه ژر عبدالقادره له دې پلَ

هیڅ خبر ندی له حاله له احوال
غم ښادی مومی سړی له خپله خیالَ

دَ محنت په تصور ملال غمجن شِی
دَ راحت په فکر مست ګرزی خوشحالَ

بندیوان په بند بندی په خوب کښ وینی
چه بادشاه دَ ولایت یم بې زوالَ

تفرج کوَم په باغ او په بستان کښ
هم بالینه مې دلبر پری مثالَ

بادشاه پاس په تخت اوده وینی په خوب کښ
چه بندی یم په زندان کښ په څو کالَ

وږَی تږِی خوار خسته په بند کښ پروت یم
کم قوته، بې حجته، بې مجالَ

هغه خوښ په هغه خوب کښ دا دلګیر وِی
دَ ویښوالی حال ئې هیر بې قیل و قالَ

دا غافل عالم همه په خوب اُوده دی
په قیامت به شِی واقف له خپله حالَ

دا دنیا په مثال شپه ورځ آخرت دی
نیک او بد به ځبله بیل شی بې اشکالَ

دَ نسب دَ قبیلې پرسش به نه وِی
هر سړَی به پوښتیده شِی له اعمالَ

چه عمل ئې د نیکئ وِی خوښ به اوسی
دَ بدکار خلاصی به نه وِی له نکالَ

عارفانُو ځکه هسی ورته شا کړه
چه هوس دَ دنیا ندِی بې وبالَ

له هغې ښادئ چه ژر له سړِی درومی
په سل زر بخری غم ښه دَی ځما لالَ

دَ دنیا مینه په زړه کښ لوی جنجال دَی
خلاص کړِ ځان عبدالقادر له دې جنجالَ

پە گلونو آواز ورو کوَه بلبلَ! پریشانیږِی ستا لە شوره لە غلغلَ
عقل هوښ عزیز تر هر څه ښندل نشی[1] ته یو څه رنگه ډیر گران یې دَ مل ملَ[2]
خدای دِ نکا چیری څرخ به دِ پە پښنو شِي قدم ورو ږده دَ رابیلو پە گل گلَ
وَ مطرب تە مینا وایي وایه وایه دا معنی ئې پیدا کیږِی لە قل قلَ
صدقه ئې هم تر پَل عبدالقادر شه
څه قدرت لَرِی چە وایِی لە دلدلَ

دریغه دریغه یَو ځل ولیدلَی یار خپل چە ښکاره می کړی وده وته اسرار خپل
نشته څوک چە دلاسې کا دَ غمجنو څوک به څه و بل یَوه تە وائی زار خپل
سرې سرې اوُښی می لە مخه پە لمنَ ځِی دَ یار غمه راشه گوره لاله زار خپل
چە پرې غم غلطَوم درې می محرم دِی یَو قلم، دوهم کتاب، دریم اشعار خپل
له خزانه به څه ویره څه به ډار کا چا چە توی کړ دَ خزان پخوا بهار خپل
پە هر لوری چە می بیایی پسی دروموم ما پە لاس دَ عشق ورکړَی دَی مهار خپل
کە څوک نوم دَ لباسی ږدِی پە ما ښائی چە می وران نکړ پە یار پسی روزگار خپل
څو دِ زړه هونبره ستم جور و جفا کړه ما بخښلَی دَی و تا وته آزار خپل
لە غلیمه دِ نه غم نه دِ وسواس کا هر چە وسپاری و خدای تە کاروبار خپل
مستعد دَ نظر تە نه یې غافله! دلبر کله دریغ کَوِی لە چا دیدار خپل
کل اندوه بە پسی شا عبدالقادر کا
مخامخ کە ورته ودَری نگار خپل

پە دنیا کښ کمال نشته بې زوالَ دَ زوال اندوه کوَه صاحب کمالَ[3]
د هجران لە غمه تریخ لکه بیلتون وُ[4] ما هرگز لذت بیا نه موند لە وصالَ
نمر لە تا نه منور شو دا لە نمره څوک بە میاشت کا ستا لە مخه سَره سیالَ
ستا پە تلَلؤُ می اروا درومی لە تنه یَو زمان را ځنی مځه دَ یار خیالَ
چە پە هجر ئې ړُوند نشوم پە وصال کښ یار تە غټ نه شم کتَی، لە انفعالَ
هغه چا چە ینبَی داغ ځما پە زړه وُ هم هغه وربانْدِی کنبیښنو لە دسمالَ
کە گذر ځما دَ یار پە کوڅه وکړې دا پیغام پرې باندِی وَوایه شمالَ
زه کە یَو ساعت بې تا نه یم بې غمه تا دِ خدای همیشه خوښ لرِی خوشحالَ

---

١. عقل هوښ عزیز هر څه پر ښندل نشی.
٢. دَ تل ملَ.
٣. جمالَ.
٤. دَ هجران لە غمه تریخ راته وصال شوُ.

ډېر مَيَن په ډېر ارمان په وبا بېل شوه خدای دِ را موله بیا دَ غواص[۱] کالَ
تر هر حرف ئې بوی دَ مښکو دَ عنبر ځي
چه ثنا عبدالقادر کا ستا له خالَ

تر نباتو لا خواږه دِی ستا ترخه وَيل ډېر دَ پير تر دعا به دِی ستا دَ خولې ښيرې ښکنځَل
دَ واعظ په نصيحت می مينه لا په يار زياتيږِی سرې لمبې دِی نه ډيوه دَه، چه به مړيږِی په پوکل
گوره اوس به ئې تر درنگه دَ عاشق په وينُو سره کا په دا څه شو که ئې نن دَ خيال نمريه واغوستَل
کله گل دَی دَ رابيلُو چه دا هسی رنگ ځليږِی وايی وچولی ښکاريږِی تر پريشان پريشان وربل
په لَمن کښې ئې گلوُنه دَ بهار له سيله راوړه په تارُونو ئې ځما دَ زړه هارُونه وپييل
نه يواځی ځما راز اوُښو يا رنگ دَ مخ رسوا کړ آه می لا دَ زړه رازُونه وَ عالم ته ښکارَول
په زيری کښې به ئې سر عبدالقادر ورته پيښکښ کا
که څوک هسی زيری راوړی چه نن يار درته لوړَل

ښه شول چه ښه نشول هر چه بد دی له ازلَ[۲] بد به ستا و بدو ته بد وايې لم يزلَ!
هر چه په نسبت ځما و ما وته ترخه دِی بل وته هغه ترخه خواږه دِی تر عسلَ
کفر که ايمان دَی و عارف وته يکسان دی واروه که پوهيږِې دا وينا ځما مجملَ
ستا فعل هرگز ندَی خالی له حکمتونُو ته هغه حکيم يې چه دِ کار دَی بې خللَ
واړه موجودات ستا په هستی باندِی دليل دی هم دِ په توحيد باندِی تر ما شی تر جملَ
هر څه ته چه گورې ستا جمال به پکښې وينی تا ئې چه په زړه دَ معرفت ډيوه کړه بلَ
هر څه ته نيژدې يې په قدرت تر هر څه خيره ذات او په صفات کښې له همه خيرونو بيلَ
تا ته رسيدل د تا په فضل و عنايت دی کله رسيدلی دِی څوک تا وته په ځلَ
کله سيلاب اَوړی دَ خځلو په بندوُنو ستا تقدير درياب ځما تدبير لکه خځلَ
هر چه په آخر له هغه کاره پښيمانيږِې
مکړه هغه کار عبدالقادره له اولَ

چه دا هسی ځي له باغه په شتاب گل په بستر دَ راحت ځکه نکا خواب گل
دَ نسيم له تيزگامیِ معلوميږِی چه به ږدِی قدم دَ تلَلوُ په رکاب گل
چه زلفين په عذارُو خم په خم کا تر هر خم لاندِی ئې راشِی دَ آفتاب گل
پسی شا ئې لړ و ډېر دَ خوبیِ لاف وُ روبرو کړ ستا رخسارُو لا جواب گل
چه ښکاره ورته سپين مخ لکه خورشيد کا هغه دم ورته پيښکښ کا دَ مخ آب گل

---

۱. ۱۰۹۷هـ

۲. دا بدله له يوه نسخې څخه را نقل شوه په بله کښې نشته.

نورُو پټ دَ سينې داغ لاله ښکاره کړ   که نه کوم د دې باغ ندی دلکباب گل
گُنُدِي عطر ئې کا ښکلی په ځان پوری   هم پدا امید ځان وسو د گلاب گل
دَ ريژون ويره کوَه عبدالقادره
ورځ په ورځ پژمرده کيږی دَ شباب گل

(م)

که غموُنه د دې خپل زړگی ښکاره کړم   لوی هلک به همه واړه په ناره کړم
دا ځل هسی هجران ندِی پما کړِی   چه به نوری آشنايئ دوباره کړم
دَ حسرت دَ اور بَخَرِی را ښکاريږی   چه دَ شاه دَ تاج دَ لالو نندارہ کړم
که پاره پاره ځما دَ زړه په شان دِی   تسلې دَ زړه په گل دَ هزاره کړم
که وصال موموم دَ يار په بې ننگی کښ   نام و ننگ به همه واړه آواره کړم
که صبا دَ يار له چمه نگهت راوړی   گريبان به لکه گل هسی پاره کړم
ساز ناساز دَ عالم اَروم غوږ کاڼه کړم
محبت عبدالقادره بيچاره کړم

چه ځوک بد را سره کا ورسَره ښه يَم   هم پدا دَ ښو دَ بدُو تور ليمه يم
له هغو مې ځه اندوه چه په خوی اور دی   پخپل خوی کښ سوړ او نرم تر اوُبه يم
چه و ما ته ځما عيب پيښکښ راوړِی   د دې هسی يار له خدايه په غوښته يم
فريښتې دِ غم ځما دَ عصيان نکا   که مفسد يم که ظالم يم بيا دَ ده يم
نوُر ځما دَی، نار ځما دَ نورُو ځه دی   دَ پتنگو غُندِی خير دَ ځان په سوه يم
په ايرو ئې مخ سپيره شِی چه نفاق کا   آئينه غُندِی مخ سپينه تور په زړه يم
چيری نه وِی چه به بل مخ وته گوری   په هجران کښ خوښ دَ سترگو په واته يم
له نور چا کله گِله عبدالقادر کړم
زه خوار کړَی خپلُو سترگو يم خپل زړه يَم

در پسې مې خيژِی دم   له ما مه درومه يَو دم
زه مرده ته مې عيسٰی يې   ژوندی کيږَم ستا په دم
دَ هجران غمونو خوښ کړم   تر وجوده په عدم
چه دارُو هر گز نشِی   بد زحمت دَی دَ ندم
ښه آدم تر فريښتو به دَی   تردد بد دَی بد آدم
دَ بيدارُو په نصيب شو   ښه دولت دَ صبحدم

خاوری شه عبدالقادره!
که پرې کښېږدې یار قدم

که هر څو دَ بېلتانه له غمه وایم
خپل ژوندُون مې دروغجن ندِی چې پایم
په قد کوږ په تن ضعیف گونښه نیولې
په مثال لکه ابرو دَ دلربا یم
لوی هلک مې واړه یو ځبله ښَینِه
ستا په مینه لکه میاشت انگشت نما یم
دَ پله خاوری مې په قدر تر عنبر دِی
هم پدا چه ستا دَ تَلُو خاکِ پایم
چه حریف دَ خوشحالیه بې وفا دَی
له اندوه سره دایم رفیق پدا یم
دَ خوښیِ نامحرم دِ نه را درومی
نن شپه زه دَ یار له غمه خواپخوا یم
چه ئې واخیسته پرده دَ گل له مخه
منت بار دَ احسانونُو دَ صبا یم
توری سترگی توری زلفی ئې بلا دِی
اخته کړَی زه هم تا په دا بلا یم
هیڅ تشبیه تمثیل ئې نشته په جهان کښ
نه پوهیږم چه یار څرنگه وستا یم
ستا په حسن سوگند خورم پخپله مینه
چه تر ځان عبدالقادر مَیَن په تا یم

یار مې تله دَ باغ په لور کاندِی پوهیږم
گل به حسن ځنی پور کاندِی پوهیږم
دَ صبا اثر ئې شته دَی په قدم کښ
نغښتی گل به دَ باغ خپور کاندِی پوهیږم
چه په دا حسن جمال له کوره وَوزِی
ډېر به وران ور پسی کور کاندِی پوهیږم
چه تور مخی رقیبان تر مخ شا گرزِی
دَ یار زړه به له ما تور کاندی پوهیږم
چه رقیب ئې مخ ته گوری زه هم گورم
دا کتَل مې به شوکور کاندی پوهیږم
هر چه غوږ وِی دَ دنیا په شیرازیُو
زمانه به هغه سپور کاندی پوهیږم
کله زړه عبدالقادر په رضا ورکړ:
ښایسته په زړُونو زور کاندِی پوهیږم

کله زه له بیگانه عالمه زار کړم
زه هم خپل آشنا له خپله لاسه خوار کړم
دَ هر چا خبری وړم دَ ده له مخه
په عالم کښ ئې بې قدره بې وقار کړم
چه په څنبل دَ خپلُو وینو سرخ رو گرزم[۱]
څه منت به دَ دونانو دَ دنیا کړم
چه په وازه خوله مونده شِی مه ئې وینم
که صدف غُندِی حاصل در شهوار کړم
که ښادیِ دَ جهان واړه ځما شِی
زه به واړه دَ خپل یار له غمه ځار کړم
خار بندی مې دَ ښو کړه ترې چاپیره
گنُدِی خیال دَ یار په سترگو کښ حصار کړم

---

۱. کیږم.

چه ئې رنگ په لړ ډېر گرم بادنو لیږی[۱] څه امید به دَ ژوندُون په نوبهار کړم
دَ پیوند گله دِ هیڅوک له ما نکا محبت له خپله ځانه هم ویزار کړم
چه بې تل عبدالقادر په ورکښ پروت دَی
عاقبت به ئې مَیَنو سره شمار کړم

چه می شا کړه و ښادَیُو ته ښاد شوم چه دَ زړه مراد می پیښ په مراد شوم
اوس څه غم نه کړم له غمه بې غم گرزم راضی من چه دَ ازل دَ ویش په داد شوم
چه می طمعه دَ دنیا ور ځنی پریکړه هغه کس که کیکاوس زه کیقباد شوم
ځان بازید بولی کارُونه دَ یزید کا که شیخانُو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای می بیا پکښ بندی مکړه تر مرگه احتیاج عظیم زندان وُ ترې آزاد شوم
هم ئې ځان له غمه خلاص کړ هم نیکنام شو ډیر مَیَن په وروستنی ضرب دَ فرهاد شوم
باد ئې بوی عبدالقادره سحر راوړ
شگفته لکه غنچه په دغه باد شوم

مخ دِ لکه نمر دَی درته ځیر کتَلی نشم ځکه ئې دَ مدح تر عهده وتَلی نشم
زړه می ئې غلبیل کړ دَ هجران په ناوکیو راز پکښ دَ یار دَ محبت ساتلَی نشم
اوس می په معنو کښ ښه مَیَن دَ سترگو کسی کسی به دَ خلقُو په وَیَل ایستلی نشم
زه ئې دَ زنخ په څاه کښ بند لکه یوسف کړم بې ئې دَ زلفینُو په رسَۍ ختلَی نشم
بند ئې دَ حواس په پنجره زه عبدالقاد کړم
زړه می پرواز غواړَی ولی اَلوتَلی نشم

له دې ورُوسته به و کل هوس ته شا کړم خو یکلخته به غموُنه دَ اشنا کړم
پخپل یار پسی به زه شم لیونیه دَ دنیا ودانه خونه به تالا کړم
چه په مرگ سَره له چا نه جدا کیږِی په ژوندُون به ئې له ځانه زه جدا کړم
نه به مخ په آئینه بیا برابر کړم نه به تور اوربل په ږمنځ سرَه صفا کړم
نه به ښی په فلیل سَره کړم غوړی نه به نوره خوشبوئی په ځان لگیا کړم
نه به سترگی په رانجه کړم نه به پان خورم نه به مُهر آویزاند په اوربل بیا کړم
شرمنده به په ماتم کښ بنفشه کړم په ماتم کښ به نه دې غنُدِی خندا کړم
راته وایه دا بیان عبدالقادره
چه دَ خوږ خاطر دمه په وَیل ستا کړم

۱. توریږی.

په هر څه کښې ننداره دَ هغه مخ کړم   ځکه نور عالم غمؤنه کا زه سخ کړم
له اندوهه می لړمون شو ډک په وینو   دَ بلغم په ځای می وینی ځي چه اَخ کړم
نفس شیطان لیونی سپی را پسې شوی   مگر ستا توفیق رفیق شِی چه ئې چخ کړم
خو تاوده دَ محبت لَرم په زړه کښې   نور له واړُو غیرُو چارو سوړ سمخ[1] کړم
په دا راز عبدالقادره څوک پوهیږی
چه ښکنځل درته کوَم در باندِی مخ کړم

محبت چه دَ مجنون په نامه یاد کړم   له غه پسه ئې دَ یار په وصل ښاد کړم
خاص بنده خطاب ئې هاله و ما راکړ   چه دَ دوو کَونو له بندَ ئې آزاد کړم
آئینه له بد گوهره کانِی نشِی   بیهوده و تیره دلُو ته ارشاد کړم
چه می وکړه په مثقال په خروار اخلِی   زه به څرنگ خوشحالی په هسی داد کړم
دَ گنډیر له ونی کله څوک خواږه خوری   دَ وفا امید به څه له بدنهاد کړم
کنُدی بَخت می دَ دلبر دَ زلفو ډِمنځ کا   که فلک ټوکرې ټوکرې لکه شمشاد کړم
تا خوږ کړَی یم هم ته می به دارُو کړې   بې لتا نه و نور چا وته فریاد کړم
چه سهار سهار راځِی دَ یار له لوریه   دَ غمجن خاطر دمه په هغه باد کړم
خپل مراد می دَ مراد تر منځ حجاب شُو
نور به ترک عبدالقادره خپل مراد کړم

زه دِ تل وینم دَ خوږ خاطر مرهَم   بې تا یَو زمان خلاص نه یم له المَ
په راتله دِ لکه گل شگفته کیږم   برِبر رایشه آشنا صبا قدمَ
دَ عیسٰی په دم به مړ سړی ژوندَی شو   مړ زړه بیا مومی ژوندون د تا له دمَ
دَ مهجور تر زندگیه مرگ بهتر دی   که ستی ستیه کیږِی نده گرمَ
لکه وار دَ ښادئ ځِی دَ غم هم درومی   په محنت کښې زړه هر گز مشه درهمَ
دَ یار غم په معنی غم ندی ښادی دَه   ما دِ نکاندِی خدای خلاص دَ یار له غمَ
دَ دنیا دولت په مثل لکه باد دی   کله مَخ کا کَله څټ کاندی له همَ
نه خوښی کړم دَ احمق سړی له مدحِ   نه می زړه مومی اندوه دَ ده له ذمَ
دَ زلفینو تر حلقو دِ عذار وینم   که نسرین دِ دَی په زلفو کښې صنمَ
مکړه خدای عبدالقادر چه په پیغور به
دَ زړه مینه کا له خپله یار کمَ

چه نیولَی ئې دَ مینی په تاوان یم   ځکه هسی رنگ بهتر تر درست جهان یم

---

۱.   سوړ سمخ یعنی بلکل یخ.

عاقبت به دَ یوسف غُندِی عزیز شم	چه بندِی دَ یار په څاه د زنخدان یم
دَ خپل یار سرو سامان واړه ځما دی	غم ئې کوم دَی که بې سرو بې سامان یم
چه پرتو ئې دَ ښه مخ را باندِی وشو	لکه لعل قیمتی دَ بدخشان یم
دَ حریرُو په کاغذ دَ سرخیٔ میم دَی	که ئې خوله دَه و تحقیق ته ئې حیران یم
ستا له لاسه کل داغُونه راته بس دِی	مستغنی له تماشې دَ گلستان یم
خدای می خپل بانړه دَ دوو سترگو نشتر کړ	که بې تا دَ بل و مخ ته نگران یم
که دَ مځکی غُندِی کوز په تواضع یم	په همت تر واړُو پاس لکه اسمان یم
دَ عوامو تر نظر لکه گدا شوم	و خاصانُو وته شاه دَ کُن فکان یم
نا آشنا دَ نا آشنا په قدر څه زده	که و نور خلقو ته سپک و یار ته گران یم
ناپوهی تر هوښیاریٔ راته ښه شوه	نه پوهیږم چه هوښیار یم که نادان یم
یَم وَیَل په طریقت کښ کافری ده	دَ یَم یَم په قافیه راوړل پښیمان یم
دَ سخن خوبی همه لرَم موجوده
زه عبدالقادر محتاج دَ سخندان یم

دا گمان له دله وباسه همدمَ	چه بې تا به سترگی وچی کړم له نمَ
په ژړا ژړا می لوُند دَ سر بالښت شی	چه می اُوښکی موج وهی دَ زړه له یمَ
پدا حال می که گذر په چمن وشی	مستغنی به کړم گلوُونه له شبنمَ
که په ورځو زیست روزگار کوَم له خلقه	درسته شپه می سرکار دَی ستا له غمَ
چه ښکاره په درست[1] وگړی کښ ځان سوځی	راښکاره شوه دَ ستیٔ اندیښنه کمَ
رگ او پلې می خالی ندی ستا له درده	دَ پرهار غنُدِی خندا کړم له عالمَ
لکه کانړی هر ذره له اوره ډک دی	هسی سر تر پایه ډک یم له المَ
لا یَو داغ می په زړه روغ نه وِی بل کښیږدی	آه فریاد دَ جدایئ له ستمَ
خلاص به نشې په ژوندُون عبدالقادره
اندیښنه ئې شوه دَ تا له عمره سمَ

چه مَیَن په پری وشمه جانانه یم	ځکه سر لکه مجنون په ویرانه یم
نه خپلوی له چا کوَم نه می څوک خپل دی	په عالم کښ له عالمه بیگانه یم
ظاهر بین ئې په ظاهر صورت غلط شو	په باطن په خاورُو پټه خزانه یم
ځای می پاسه دَ بادشاه دَ سر په تاج دی	پریوتلی په ډیران دَ دُر دانه یم
دَ دې بزم دَ مجلس تاوده په ما ده	هم ساقی یم هم شراب هم پیمانه یم
په سینه دَ خپل مقصود په لور ښوریږم	په مثال دَ وزر سوِی پروانه یم

---

۱. په ډیر.

خرابات دِ خدای وادان لرِی تر ډیره   په وَیَل دَ ده له فیضه رندانه یم
بې نائی کله آواز خپریژی له نیه   واړه عشق ئې وَیَوِی زې بهانه یم[۱]
په ژوندُون عبدالقادره کور ویران کا
ډیر پدا خصلت مَیَن دَ دیوانه یم

چه تل هسی په هوس په بې غمی یم   اقرار شوَی دَ خپل عقل په کمی یم
سړیتوب که په سیرت وُ لما لاړ شو   آدمیت که په صورت دَی آدمی یم
که په فضل ئې کار وسپاری غم نشته   که په عدل مې سپاری جهنمی یم
دَ هجران په لمبو سوَی یم فریاد کړم   ما معذور لرَی عالمه اَلمی یم
اهرمن چه لاس ور وړی گوتی ئې سوځی   بادشاه شوی زه دَ فقر په غمی یم
دَ معنو په ملک پارسی عربی نشته   کوم نقصان که عرب نه یم عجمی یم
کله زه عبدالقادر دَ شعر لاف کړم
مرثئې دَ تللَیو وایم ماتمی یم

محبت ځما بادشاه زه ئې غلام یَم   سر فراز ئې په خدمت سهار ماښام یم
په یوه کاته ئې سل شرفه مومم   ځکه هسی تر هر چا بلند مقام یم
چه په بوی ئې دَ مستیِ چرخ څرخیږی   امیدوار لتا ساقی دَ هغه جام یم
یَوه ورځ می به په حال ترحم وشی   په امید دَ صافو میُو دُرد آشام یم
پریښووَل دَ خپل خواهش کمال دَ عشق دی   رضامن دَ عاشقیَ په کام ناکام یم
اُوم کباب دَ اور په تاو ژړا فریاد کا   که دَ عشق له اوره آه وکړم لا خام یم
چه شفیع می دَ گناه خیرالانام دی   غم می نشته که هر څو شرالانام یم
هر غزل می مبرا دَی له تکلیفه   په ساده پښتو وَیَل شیرین کلام یم
دورغجن ورته خپل ځان نیولَی نشِی
به رشتیا عبدالقادر تیره صمصام یم

په خاطر کښ هونبره درد لَرم که آه کړم   اور په پوری په خرمن دَ مهر و ماه کړم
عشق خلعت دَ غلامیَ دَ شاهیَ راکړ   له اوله ئې مرئی آخر ئې شاه کړم
دَ مخ نور ئې لکه نمر دَ مخ حجاب شو   کښلی مخ ته ئې نظر په کوُم نگاه کړم
هیڅ عجب په باد کښیښول دَ جهان ندی   چه نظر پخپل وجود پخپله ساه کړم
هدایت به ځما څرنگه څوک کاندِی؟
چه په سَمَه لار کښ خپل دلیل گمراه کړم

---

۱. واړه عشق می وَیَوی زه بهانه یم.

تا چه زلفی په سپین مخ کړې خم په خم — په خاطر باندِی می بیاړدې غم به غم
عاقبت عاشق معشوق، معشوق عاشق شِی — ښه چه زه او ته په عشق شوُو سم به سم
په معنی کښې سخاوت ندَی امساک دی — هر چه ورکړه ډیر په ډیر کا کم په کم
لکه حسن دَ دلبری روز افزون دی — هسی عشق ځما زیاتیږِی دم په دم[1]
که دِ زړه دَی چه دَ زړه غنچه دِ وا شی — اورَوه له دواړُو سترګو نم په نم
په هر ځای باندِی چه کښېنم لاله زار شِی — چه می ډیر په سترګو درومی دم په دم
ځما دم دَ یار له دمه وابسته دَی — چا وې دا چه تاړه نشِی دم په دم
هم په ویر هم په سرود عبدالقادره
کور په کور دَ عشق نارې دِی چم په چم

چه منظور دَ یار صفا جبین لَرم — زړه پدا له نیک او بده سپین لَرم
کام ناکام ځما په طبعه برابر شو — په ترخو سَره تل کام شیرین لَرم
دَ حسد له خویه هسی رنګه خلاص یم — عار راځی چه له شیطانه کین لَرم
په ویل وچولی غم یوسم له غمجنو — له هر څو ننه خاطر حزین لَرم
په ظاهر و ظاهر بین وته مقهم یم — په باطن براق دَ تللیو زین لَرم
دُر ریزی کړم په صفت دَ یار دَ لعلو — کلام ځکه هسی رنګ رنګین لَرم
نسترین دَ باغ ځما په سترګو خار دی — چه په کور دَ یار دَ مخ نسترین لَرم
په خیال خیال په شیوه ځِی په سترګو مشه — تل پدا دعا آمین آمین لَرم
که په بخت عبدالقادر نازیږم ښائی
که دَ تا غُندِی نیازمن نازنین لَرم

چه له حاله دَ وګړی خبردار شوم — له همه وُ په زړه بیارته په ډار شوم
ورځ په ورځ می له جهانه زړه سړیږی — په دریاب کښې له دریابه په کنار شوم
چه پخوا عمر به ما پرې افتخار کړ — په هغو واړُو کارونو شرمسار شوم
ځان می خلاص کړ دَ دلبرُو له نازونو — بس کړه ډیر ئې دَ نازونُو خریدار شوم
په تندی ئې لاس څکوم له شفقته — اوس می کښلی لکه زوی زه لکه پلار شوم
معنوی ښایسته غواړم که ئې مومم — صورتی دَ زړه زحمت وُ ترې ویزار شوم
چه بې غمه نشته څوک عبدالقادره
ښه چه زه په غم دَ مینی ګرفتار شوم

---

۱. دلته دم په دم یعنی ګړی په ګړی، په ورُوستَنِی بیت کښې دم عربی دَی یعنی وینی تر هغه ورُوستنی بیت کښې دم په معنی دَ ساه دَی چه مطلب ئې ژوندُون دَی.

عجب خوښ په خوب اوده وم دَ عدم   نه می غم وُ دَ خوښیَ نه دَ غم
یا وحوش وَی یا طیور یا بل اشیا وَی   کشکه زه نه وَی پیدا بنی آدم
یا می مرگ په هلکوالی وَی چه خلاص وی   ومی نه لیدَی دا هونبره ډیر الم
نه اول شوم نه دوهم شوم نه دریم شوم   ځلورم بویه دَ حق فضل و کرم
چه مخلوق ئې کړ آدم له ما وطنه   روح ئې کړ له خپله روحه پکښ دم
له اوله ئې مسجود دَ فریښتو کړ   په تکریم دَ ''کَرَّمنَا'' شو مکرم
و جنت ته ئې روان په ډیر اعزاز کړ   پر پریوان ئې کړ انواع انواع نعم
بیا شیطان ئې وسوَسه وَروسته زړه ته   په وَیَل ئې دَ غلیم وَخوړ غنم
دَ جنت جامې ئې والوتې له تَنه   بې لباسه شو برمنډ په هغه دم
له جنته ئې بیرون په درد او دوک کړ   دَ ''عصیٰ آدم'' ندا شوه په عالم
ده دَ زړه له سوزه دا ناره وَهَله   هم ئې دا ناره دَ زخم شوه مرهم
چه نسبت ئې کړم وتا وته ویرېرَم   خو هم ما وکړ په ځان باندِی ستم
هیڅ حجت له خپل باداره سَرَه نشِی
گرم ئې ته عبدالقادره یار ناگرم

نه پوهیږم چه دا ویښ یم که خواب وینم   چه دا هسی رنگ کارَونه حجاب وینم
پلار و زوی وته خبری په نرمی کا   زوی و پلار وته په قهر و عتاب وینم
په امید دَ مال و ملک چه میراث شی   دَ مور پلار له مرگه زوی کامیاب وینم
چه مقصود ئې تر منځ ووزی غلیمان شی   محبت پخپل مقصود دَ احباب وینم
واژگونه چاری په دهر کښ لیدَل شِی   محتسب کره ښیښه دَ شراب وینم
په ښی لاس پیاله دَ میو مَی نوشی کا   په کیڼ لاس کښ ئې دَ فقه کتاب وینم
که قاضی دَی، که مفتی دَی که خطیب دی   دَ همه وُ کره چنگ و رباب وینم
تولا تبراء طمعِ ځنی یووړه   عالمان دَ کافرانو به باب وینم
که پخوا فضل په علم او په تقوا وُ   اوس ئې فضل دَ دنیا په اسباب وینم
دَ دوزخ په لور که تله په معصیت شی   تر کافر دَ مسلم تله په شتاب وینم
خوږې صافی اُوبه نه څښی په کور کښ   تشنگان روان په لور دَ شراب وینم
که پخوا حاکم شبان خلق رمه وه   په دا دَور ئې لیوه یا قصاب وینم
لور په لور ئې کړې دَ ظلم لمبې بلی   پکښ زړونه دَ مظلومو کباب وینم
هیڅ ئې نزده چه انجام به ئې په څه شِی؟   په بدیو کښ دَ خلقو جواب وینم
شکر شکر چه لا وَر دَ توبې وا دَی   دَ مشرق په لور خَتل دَ آفتاب وینم
سامعان ئې آمنّا و صدّقنا کا
ستا گفتار عبدالقادره صواب وینم

څه شو که ظاهر لب خندان لرم — زړه دَ جدايئ پـه اور بريان لرم
تود لوګی دَ خولې اُوښی دَ سترګو سرې — دواړه پدا حال باندې ګواهان لرم
سيم و زر مې زړه او مخ غنې يم پرې — لعل او دُر دَ يار لب و دندان لرم
زړه مې دَ دلبرې دَ جانان دَی ځان — زه خود له جهانه زړه اوځان لرم
لږ قهر چه وکړې هم اُوبه شم ترې — کله زه ناتوان دَ قهر توان لرم
څو پکښې پراته دِی دَ يوسف غُندی — ډک له کښليو څاه دَ زخندان لرم
هونبره پرتې ندی چه ئې وشمارم — ستا ګلې په زړه چندان چندان لرم

کيست که اين حلقه بدر ميزند؟
خوار خټک يم سر پدا آستان لرم

شکر شکر چه نه خان يم نه امير يم — نه بادشاه دَ ولايت نه ئې وزير يم
نه قاضي يم نه مفتي نه محتسب يم — چه بډيو رشوتونُو ته دوګير يم
نه مشرف نه کروری[1] نه فوجدار يم — نه عمال دَ چا دَ ملک نه دَ جاګير يم
نه دعوه دَ ملايئ نه دَ شيخئ کړم — نه دعوا کړم چه صوفي صافي ضمير يم
نه بنګی نه شرابی نه قمار باز يم — نه ټګی کړم نه رهزن نه غل کاسير يم
تونګری دَ زړه لرم دنيا مې نشته — سر سايه زکوة مې نه وزی فقير يم
قلندر يم په ساده سپينه جامه کښې — نه په فکر دَ درم او د نانير يم
په ظاهر خندا هوس کوَم له خلقه — په باطن کښې ګرفتار دَ ځان په وير يم
قناعت صبر هر ځای راته ګلزار کا — ګويا ناست لا په کابل لا په کشمير يم
يَو ليدَل دَ کښليو کړم ښه آواز اَورم — خدای مې وبخښه اقرار پخپل تقصير يم
که کرم را باندې کا جنت مې ځای دی — که حساب را سره کا اهل سعير يم
خوشحالي مې په ديدن دَ کښليو کېږی — چه ئې نه وينم يَو دم پسی زهير يم
په آواز مې ئې د زَړه پرهار ګانډه شی — مَيَن ځکه دَ رباب په بم او ځير يم
په هر ځای چه قدم ښنَی ښايسته وِی — مينه دار په هغو خاورُو تر عبير يم

خدای مې روغ عبدالقادره ځنی مکړه
چه زخمی دَ خپل مَيَن دَ عشق په تير يم

مهر ځما دَ خپل صنم مشه ځما له عمره کم — مشه ځما له عمره کم، مهر ځما دَ خپل صنم
غواړه ګرزه عرب عجم، نشته ځما دَ يار ښبان — نشته ځما دَ يار ښبان، غواړه ګرزه عرب عجم
واړه په ما دَ يار ستم، شهد وشکر نبات لګی — شهد و شکر بنات لګی، واړه په ما دَ يار ستم
زلفی په مخ کړه خم په خم، کښينه و ما ته مخ په مخ — کښينه و ما ته مخ په مخ، زلفی په مخ کړه خم په خم

---

۱. کرو په پښتو دَ مځکی دَ پيمايش انداده دَه، دا کلمه به له دغه اصله جوړه شوې وِی.

عمر گذر کا دم په دم، لويه ولجه[1] دی دا زمان　　لويه ولجه دَی دا زمان، عمر گذر کا دم په دم
وکړه په خوار ختېک کرم، شمار ئې په کشتگانُو کړه
شمار ئې په کشتگانو کړه، وکړه په خوار ختېک کرم

(ن)

پرې مې بِدَی چه ژاړم شپه او ورځ لکه باران　　گل غنُدِی ريژون کا په وار وار کښلی ياران
ښه دی پوهيدلیِ چه آخر به خاوری کيږی　　ځان په ژوندانه کا توری خاوری خاکساران
تا چه پخپل عمر شپه دَ درد ليدلې نده　　ځکه دِ خندا شِی چه ذکر وکا افگاران
مرگ ئې رغيدن دی دَ دارو زيرمه ئې مکړه　　خوښ په ناروغی دِی ستا دَ سترگو بيماران
وخت دَی که څه وکړې بيا به واپې وار به تير وِی　　تل به هسی نه وِی دَ عمر باغ ودان
کله پخپل ځان باندِی پيرځو د سړِی بد وِی　　څوک شوه له ازله نيکو کار، څوک بدکارن
هر چه يار ئې نه وِی پخپل کور لکه غريب وی　　ناست په خپل وطن کښې مسافر وِی بې ياران
هيڅ ملامت ندَی که فرياد عبدالقادر کا
هړاند ئې دِی په زړه دَ يار دَ زلفو تور ماران

هيڅ عاشق به ترې بيا نمُومی امان　　عشق پيغور دَی سَره دواړه توامان
چه به ستا په نصيحت و يار ته شا کړم　　له زړه ليری کړه ناصحه دا گمان
چه له کښليو له ليدنه ماړه نه شوو　　هر چا وړَی دَی و گور ته دا ارمان
ښايسته دَ مځکی مخ دَی په خوبانو　　که په ستوريو حسن زيات دَی دَ اسمان
نن ئې وې چه سبا راشه خوله به درکړم　　مدد گار شې بخته! بيا مشه پښيمان
که به وڅکوې لَمن ځما له لاسو　　په قيامت ځما لاسُونه ستا دارمان
تير وی تير راتلونی نه وی[2] لا راغلی　　عاقلانُو ته دنيا شوه د ارمان[3]
دَ سامان دَ سر انجام فکر ئې نه وی　　نه سامان دَ بې سامانو دَی سامان
دَ يار درد عبدالقادره دَ هغو دَی
چه هر گز ئې فکر نه وِی دَ درمان

ښايسته چه په خندا کاندی دندان سپين　　تويَوِی له سپينی خولې در و مرجان سپين

---

۱. دا کلمه کټ مټ وليکله شوه.

۲. نوی.

۳. دا زمان.

تر سپین مخ پوری ئې تور لکه لونګ شِی	که هر څو رابیل چنبیل وِی دَ بستان سپین
که دَ زلفو په سیاهی جهان تیاره کا	په جبین لکه سبا کا بیا جهان سپین
په جمال به ئې دَ یار سترګی بینا شِی	که یعقوب غنُدی کا کسی په هجران سپین
سپین واله نشِی دَ زړه په سپینه ږیره	په سپین والی به دَ نمریو نشی ځان سپین[1]
تور بورا دی په ګل ناست عبدالقادره!
که ئې یښی دَی تور خال په زخندان سپین

شکر شکر بیا یَو ځای شول مَیَنان	رو سیاه شول پدا منځ کښ رقیبان
ساقی دریغ دَ پیالې نکاندی له چا نه	تر محروم شول خود بخود بې نصیبان
په منبر باندِی به سرې لمبې شِی بلی	که یَو راز دَ عشق بیان کا خطیبان
چه په رګ می ګوتی ږدِی ګوتی ئې سوځِی	ځما رنځ به څرنګ مومی طبیبان
نن باغوان دَ باغ ګلوُنه واړه ټول کړه	دَ زړه سود به په څه کا عندلیبان
لبیبان دَ دنیا واړه لیونِی دِی	لیونیو ته ښکارېږی لبیبان
دَ ژوندُون جهاز به غرق دَ فنا سیند کا	که په ځان ئې نوح نبی شی کشتئ وان
د دنیا په ودانی عبث منبود کړې	عمارت په سرای کښ نکا غریبان
دَ سوارئ زیرمه کوَه عبداقادره
په هر لوری ډنډورې کا نقیبان

نمر سپوږمئ، مزکه اسمان	ځان په ځان بځان حیران
اُوبه سر وَهی له کاڼیو	شپه او ورځ کاندی فغان
لړمون سوَی د آتش دَی	باد هم ګرزی سرګردان
چه نښان ئې مونده نشِی	څوک به مومی بې نښان[2]

نه پوهیږم مخ ئې ګل دَی یا لاله دَی یاسمن	یا حل شوی په یو ځای ګل دَ لاله دَی نسترن
دا ئې خوله ده که غنچه دَه که میم کښلَی په سرخی دی	دا ئې سترګی که نرګس دی که هوسئ دی دَ ختن
دا ئې زلفی که سنبل دی که ښامار په چندڼ څوړند	دا هلال دی که لیندئ ده که ابرو دَ سیمین تن
دا ئې شونډِی دی که لعل یا یاقوت دِی که مرجان دی	سیب دَی دا که ناشپاتی دی دَ بخت ستوری که ذقن
دا وینښته دی که ئې ملا دَه، که ځما دَ خاطر فکر	دا دَی قد که صنوبر که چنار سبر دَ چمن
دا شراب دِی په پیاله کښ که یا دِی دَ ځګر وینی	دا کباب په اور وریتیږی که وردرومی شی سوختن

۱.	په سپین والی دَ نمریو به نشی ځان سپین، یعنی په سپین والی دَ کالو.
۲.	مقطع نلَری.

دا نثار شِی دَ گوهرو که دَ مښکو دَ عنبرُو
که صفت عبدالقادر کا دَ خپل یار نازکبدن

(و)

دنیا دار په سپیُو بولی یا په خرو
ته پرې ولی هونبره مینه کوې ترو
عاشقان دَ یار په مخ په شونډُو مست دی
مستغنی دِی دَ جهان له سپینو سرو
ځما یار په خوب اوُده دَی چه ویښ نشِی
په پیاله کښ ساقی مَی تویَوه ورو
عام عالم وته بې بال و پر ښکاریږی
لا مکان ته عاشق ځِی دَ عشق په پرو
توکل ځما په خدای نه په طاعت دَی
شیخه تازده، ستا طاعت زده ستا اسرو
په شامت دَ دیو سړیُو باران پریږده
شکر دا چه اور نه وورى له اورو
بې عمله به دِ ښه په چا و نه شِی
نه په ورُونو، په پلارونو، نه په ترو
چه دَ خدای په یاد مشغول سړی هغه دِی
دا غافل خلق حساب دِی په خرومرو

غره مشه دَ دولت په بام ختو
هر زمان ئې ویره کړه دَ پریوتو
ډیر ئې هسک کړه بیا ئې وَویشته په مزکه
هسکوَل دَ چرخ په نیت دِی دَ ویشتو
لا لمړی وزر پیدا دَ محبت کړه
که اسمان ته قصد لرې دَ الوتو
چه ئې مینه دَ ښه مخ په زړه کښ نه وِی
دَ هغو مخُونه ندِی دَ کتو
چه ړندې نشوې دَ یار په بیلتانه کښ
خوښ یم اوس دَ دواړُو سترگو په وتو
بډایی په قناعت شِی نه په زرُو
سپین واله بویه دَ زړه نه دَ ویښتو
خان[1] خوږه کړه تر پارسی عبدالقادره
که پخوا وه ترخه ژبه دَ پښتو

دا چمن به تل زیبا نه وِی په گلو
نه به تل باندِی غوغا وِی دَ بلبلو
نه به تل سروی سرسبزه وی په باغ کښ
نه به تل چنار زر ویش کا په منگلو
نه به تل نارې سورې وِی دَ مستانو
نه به تل هسی په جوش وِی خم دَ مُلو
نه به تل عبدالقادر موشکافی کا
نه به تل جهان خوشبوی وِی په کاکلُو

---

۱. مطلب ئې خپل پلار خوشحال خان خټک دَی.

چا موندلَی دَی ناريې وهی هُوهُو   څوک طالب، څنی پوښتنه کا کوکو؟
عرشيان ئې پرسش کا له فرشيانو   فرشيان پسی هم گرزِی په سوسو
دَ دويیِ خبری مه کوَه مطربه!   په نغمه کښې يَویَو وايه نه دو دو
چه راغلَی له عدمه دَی وجود ته   آواز يَو تر بل کَوِی چه به ځوځو
دَ ځوانیِ شاهين ياغی شو را به نشِی
که فرياد عبدالقادر کاندِی قوقو

ستا شونډانُو بازار سوړ کړ دَ شکرو   هم دِ غاښو قيمت لَږ دَ مرغلرو
نه په زور په لاس کښيوزی نه په زرو   خدای دِ نکا څوک مَيَن په زورَورو
دَ مار خواړی[1] په فرياد پوری خندا کا   ده لا درد ليدلَی ندَی د ښنبرو
ټولَول، کښيښهوَل دَ زرُو بنځی کاندی   وُرکوَل بازل ئې خوی خصلت دَ نرُو
چه ژوندُون ئې وابسته په سرو لمبو دی   عاشقان دِ په معنی دَ سمندرو
مخ ئې گنج دَی دواړه زلفی ئې مارُونه   سربازان به گنج آخلی دَ اژدرو
چه له يار سره واصل بډای هغه دَی
خدای شمار عبالقادر کړه دَ تونگرو

هم له بدو سَره ښه کړه هم له ښو   دَ ښو بدو له غمونو شه پخښو[2]
خاکساری ليری کَول دِی دَ خودیِ   نه چه کيږِی خاکساری به خاورو مښو
په جهان چه زلزله دَ حوادث شته   تر قصرونو جونکړی ښې دِی دَ وښو
د خيمو ميخونه وکاږه فراشه!   فريادونه درته کا جرس دَ لښو
مرگ له تندی په مذهب ځما بهتر دی   نه ژوندُون دَ دون همتو په اوبو[3]
خرخښې دِ سر له سره ژوندون را کا   زه قربان شم ياره ستا تر خرخښو
کشکی زه دِ دَ اُوږدو زلفويو تار وی   چه هميش می يښَی سروی ستا په پښو
هسی راز توبَری می مات دَی په خاطر کښې   چه عاجز ئې طبيبان شول له وکښو
دَ خپل زړه په تخته کښه عبدالقادره
په کاغذ دَ عشق وَيل ندی دَ کښو

راته څه وايې چه وايه زړه دِ چا يو'   بې تا څوک دِی ما ليدلِی وايه تا يو'؟
په ژړا ژړا می زړه له کښليو خلاص وُ   په خندا خندا ئې نن را څخه بيا يو'

---

١. يعنی مار خوړلَی.

٢. دا کلمه حل غواړی.

٣. دَ دون همت په اوبو څښو.

چه دَ عشق جمال جلوه وکړه عالم ته — تر مقر ئې دَ منکر خاطر پخوا یو،
دلبرۍ ته به ښکاره درځم زاهده! — بیا به وایې چه ئې زړه ځما په غلا یو،
شیرین ځان شیرینی ځار تر خپل مَیَن کړ — پدا کار ئې گوی له کښلیو دَ وفا یو،
له اجله ئې هورې خلاصی و نشه — ځان ادریس له مزکی پاس که په سما یو،
دَ باد وړیُو څوک پوښتنه کا چه څه شو — بیا په بخت په لاس کښیوزی چه هوا یو،
چه دنیا ئې پخپل ځان باندی تنور کړه — و اسمان وته ئې ځکه مسیحا یو،
په بوسه مي ئې خاطر چیری ښه نه کړ
دا ارمان عبدالقادر لما پخوا یو،

مشه خوښ دَ بادشاهۍ په تخت ختلو — همیشه ئې غم کوَه دَ پریوتلو
هغه لیندی ورته ناست لینده څکولې — چه هاتی ئې سر و تیر ځی له ویشتلو
هر دنیار پردی به سکور دَ تا دَ ځان شی — دا چه اوس ئې خوښی کړې په اخستلو
چه می اوس کړې په مظلومو رډی رډی — غافل مشه دَ دیو سترگو دَ وتلو
چه پیشه ئې همیشه زهیروَل وِی — دَ هغو مخُونه ندی د کتلو
ځکه تل کړې په زردوزو جامو کبر — چه غافل یې دَ کفن له اغوستلو
دَ اجل دَ سپرو تاخت ناگهانی دی — چه هیڅ کور ئې نه خلاصیږی له نتلو
چه دَ باز وزر دِ جوړ وُ ښکار دِ نکړ — دَ کورپر نه وی قوت دَ الوتلو
هغه زړه عبدالقادره چه مرده وِی
په کوگل دنَنه ندَی دَ ساتلو

راشه گوره نندارهٔ دَ فاسقانو — دم وهی دَ خدای دَ خاصو عاشقانو
خپل کردار به شاهدی لِی په دروغو — که په خوله کاندِی وَیل دَ صادقانو
په کردار اهل شمال ورځنی عار کا — په گفتار کښ سبق کا تر سابقانو
دَ عصیان ناروغ رمق لَری په تن کښ — الغیاث دَ دیو رنځورو، حاذقانو![1]
چه گناه په خندا کا ژړا ئې نه وِی — دا خصلت دَی دَ همه منافقانو
په لیدو به دِ کله مشرف شِی — اشتیاق شو هرگور ډیر دَ شائقانو
مرگ ئې سل ځله بهتر له حاضرانو[2]
دَی بنده عبالقادر له آبقانو

تر قربان شه سل ښادیِ دَ ښادمنو — ربه مه وړه خپل عمونه له غمجنو

---

١. الغیاث دَ دوی دَ رنځو حاذقانو.

٢. له حاضرولو.

هر آشنا چه زړه را یاد کا ځما مرگ دی — زه فراق جگر پاره کړم دَ میَنو
و بیدردُو ته دعا کړم که دردمن شِی — خدایه درد را ښکاره مکړه دَ دردمنو
په وار وار به باغ خالی شی له گلونو — نن بلبلو دا آواز کاوه په ونو
بدان واړه دَ بدانو صحبت بد کړل — ډیر پمن دِی پمن شوِی له پمنو
ډیر گرزونه وی سپاره ځني ښکاریږِی — دَ خواریَ نظر مکړه په گرزمنو
و معنو ته فهم کړه عبدالقادره!
چه نظر کړې د جهان په اُوړو پلنو

باری شکر چه له هر څه نن فراغ یُو — مخامخ له یاره ناست په مخ ایاغ یُو
که مو عمر دَ چمن تر گلو کم دَی — دَ لاله غنُدِی سور مخ دَ زړه په داغ یُو
خزانه دَ قناعت راته حاصل ده — تر شاهانو لا په کبر په دماغ یُو
تعلق لکه نسیم ور پوری نکړو — ننداري لَره راغلی د دې باغ یُو
نن ځمورِ جونگړِیَ دَ یار په مخ رُڼا ده — مستغنی له روښنایيِ دَ څراغ یُو
که ظاهر می خلق گډ وینی له خلقه!
په باطن عبدالقادره سر په راغ یُو

(هـ)

چه آخر ځنی شلَوه شسی په ارمان زړه — څوک به څه لره تړی په دا جهان زړه
دَ دې باغ دَ گلو بوی دَ وفا نه ځِی — نو ناحق بایلی پردویو بلبلان زړه
چه په خیال دَ یار دَ زلفو پریشان دی — جمعَ مشه تل می اوسه پریشان زړه
سخت بې رحمه بې پروا لکه چه ستا دی — په جهان کښ به بل نه وِی پدا شان زړه
په هر ځای چه ئې دلبره هم هورې وِی — په کوگل کښ ساتی کله بیدلان زړه
خدایه څه دِ په نادان کښلی مَیَن کړم — چه بې جرمه بدَوِی په هر زمان زړه
قرب او بعد، وصل هجر ورته یَو شِی — چه ئې بیا مونده مکان په لا مکان زړه
دَ دوزخ اور ئې په سل ځله قبول دَی — خدای می مکړه دَ بیلتون په اور بریان زړه
بنگ شراب سرود کوهَ عبدالقادره
خو یَو مکړه آزرده دَ مسلمان زړه

چه په کښلیو مبتلا شِی لکه زه — همیشه په واویلا شِی لکه زه
سر گشته حیران پریشان گونه بدرنگه — خوار خسته تر مجنون لا شی لکه زه
دَ هر چا ناسازی وړی په تور د مینی — خانمان به ئې تالا شی لکه زه
نه به آه نه به فریاد نه به ژړا کا — کل روزگار به ئې په غلا شِی لکه زه

محبت به ئې پرې نړدی و مانې ته   بې ریباره به پخولا شِی لکه زه
لا به شی تر دا بتر عبدالقادره
چه اخته پدا بلا شی لکه زه

چا چه بایلو دَ دلبرو په وربل زړه   پریشانی ئې کړه په بخره تل دَ خپل زړه
که یَو ځل دَ یار دَ زلفو په تار بند شِی   خلاص ئې مکړه خدایه بند می لَره تل زړه
په جفا به دِ زړه بد شی که ئې وکړم   تر خپل زړه پوری قیاس کوَه دَ بل زړه
په شړلُو بورا نه درومی له گلو   ستا له مخه به ولاړ نشی په شړل زړه
چه صورت دَ ښو یارانو پرې لیده شِی   په وجود کښ ځکه غوره کړه کتل زړه
که دولت دَي که حشمت په کار بې ندِی   په جهان کښ خو ئې کښلی و پسندل زړه
لکه باد دَ صبا نغښتې غوټۍ وا کا   غوړیده شِی دَ دلبرو په لیدل زړه
ورته تیر عبدالقادر تر سرومال دَی
که خوښیږی دَ دلبُرو په نتل[1] زړه

ته ور درومه اوس خپل ځان لَره خپل کار کړه   چه دِ زړه باندِی ښه کیږِی هغه یار کړه
موږ ماړه شوو ستا له نازه ستا له خیاله   له دې ورُوسته بل پیدا دَ ناز خریدار کړه
په باطن لکه اغزَی په صورت گل وې   دا سزا ځما چه مینه می پر خار کړه
چه خبر دِ په وار وار شوم له احواله   منفعله دِ لولیه دَ بازار کړه
هیڅ په ژمنه په سوگند پروا دار نه وې   په دروغ دروغ وَیلُو افتخار کړه
عاقبت به ئې پیالې دَ ندامت څښی   آشنایی چه له نادان سره هوښیار کړه
بې اختیاره زړه دَ کښلیوُ په لور درومی   ما به مینه په تا کله اختیار کړه
که وفا غواړې یاری کړه له اصیله   زړه چه مینه په بدذات کوې ځان خوار کړه
چه په طمع آشنایی کا یا له ویری   دَ هغو له آشنایۍ ځان ویزار کړه
که په مخ دِی لکه گل چه بې وفا وِی
هغه یار عبدالقادره تر سپی ځار کړه

وینځه که اصیله وِی که توره وِی که سپینه   کښلې شِی له حورو چه پرې ورشِی دَ زړه مینه
شهد که نبات وی که څه شته شیرینۍ نوری   مینه دَه که گورې چه تر هر څه ده شیرینه
خیال ئې د زلفینو لکه مار ور باندِی پروت دی   نه پریږدِی وَ زړه ته بله مینه چه ورځینه
سل زخمه که وخوری ترې به یَو څاڅکی پرینوزی   هسی رنگه وچه دَ صورت کا مینه وینه

[1] ختل.

خوب به ئې بدل په بیداری خوښی په ویر شی   هر چه ئې په زړه کښ دَ دلبرُو مینه وینه[1]
یار په هواد ندی که دَ زړه مینه پیدا کړې   مینه هسی څیز ده چه نیژدې لیری کوینه
څه عبدالقادره په خوله مینه مینه وایې
څو دِ لا اوجاړه نده مینه نه ده مینه[2]

چه له خپله آشنا نه لَری گِله   له نور چا نه به په څه لَری گله
خو عارف دَ چا په ښو شکر گذار دی   نه په بدو دَ دښنه لری گله
انگوری ترخه شراب ور لَره بویه   میخواران له گبینه لری گله
چه بې تا ئې غوړوَم وَبل و مخ[3] ته   پدا خوی له ما لیمه لری گله
هیڅ ایستاد ئې پکښ نه وکړ ترې پریووت   له ناوکه ئې می زړه لری گله
چه جارُو می ستا دَ وردَ خاورو نکړه   ډیر ځما له ما باڼه لری گله
بد و بد وته ښکاریږی ښه و ښه ته   ښه له بدو، بد له ښه لَری گله
ښه که سروَ ترې قربان عبدالقادر کړ
بیا ترې ولی یار له ده لَری گله؟

جگی جگی آواره ځما تقصیر کړه   عنایت مهر په ما په روی دَ پیر کړه
هر ستم ځما قبول شړَل دِ نه وی   ما داخل دَ مَیَنانُو په زنځیر کړه
کوز غبار دَ مانړی لیری کړه له زړه نه   لکه وُ تر هغه زیات صفا ضمیر کړه
دَ غمزې په تیر دِ ډیر عالم پرهر کړ   موږ هم باری سرفراز په یَوَ تیر کړه
دا کوم مهر، کوم انصاف، کومه یاری ده   په وَیلو دَ غلیم مَیَن زهیر کړه
دَ وصال عمر دَ برق غُندِی ژر تیر شی   یار چه اوس درته حاضر دَی ښه ئې ځیر کړه
یار وَیَل عبدالقدارد ته چه دلیر یم
وېې شکر خدای دِ لا تر دا دلیر کړه

چه ئې رنگ په رنگ دَ کښلیو دَ رخسار شه   په گلونو کښ گُلاب ځکه آبدار شه
چه تشبیه ئې ستا له قده سَره وشوه   سر بلند په نورُو ونو کښ څینار شه
که طالع دَ عاشقانو توری نه وی   تور اوربل ئې په مخ ولی تار په تار شه
په عاشق به ئې همیش جور و ستم کړ   ښه چه تیر دَ ښایسته دَ ښایست وار شه
چه له عمره ئې بر نور وگړی وخوری   هم هغه له خپله عمره برخوردار شه

---

۱. په دې بیت کښ وینه په معنی دَ باشد او تر دې په مخ بیت کښ په معنی دَ خون ده، تجنیس دَی.

۲. لمړی مینه په مجهوله یا یعنی کور، دوهمه په معروفه یا یعنی عشق دلته هم تجنیس دَی.

۳. اوربل و مخ.

هیڅ منت دَ بل ریبار په ما بار نَدی   عشق ځما او دَ معشوق تر منځ ریبار شه
اوس دِ ځان و غم ته ساز عبدالقادر کا
چه دَ درست جهان بد خوی وُ دَ ده یار شه

خوښ له وصله نشوم، دَ هجران له غمه زه   نه کړم په گل مینه دَ خزان له غمه زه
خلق راته وایی چه زحمت دِ لا دوا دی   لا ښه چه ئې خلاص شوم دَ درمان له غمه زه
سر دَی په جهان کښ دَ همه واړه ښادیُو   نه دِ شم بې غمه دَ جانان له غمه زه
زه چه دَ خپل یار په چم کښ کښیناستم مقیم شوم   کښیناستم بې غمه دَ جانان له غمه زه
اوس به له دې روسته دَ خپل ځان په غم اخته شم   ډیر په زړه زهیر شوم دَ جهان له غمه زه
غم دَی له ازله په نصیب دَ عاشقانو   ځکه نه خلاصیږم یَو زمان له غمه زه
ما عبالقادر چه دا غزل دَ فراق ووې
رشک به کړم پر اوښیو دَ باران له غمه زه

که خبر می شې له خوږ زړگیه ته   شپه او ورځ به په نارو شې لکه زه
څو تاوُنه باندی تیر شِی چه پخیږِی   دَ پخو په حال خبر نه دِی اُومه
که دِ سوَی چیری زړه دَ عشق په اور وی   ستا به هاله زړه په سوَیُو باندِی سه
شاعران ئې له لذته واقف ندی   چه نسبت ئې کا له شونډُو گبینه
عام عالم له حقیقته خبر نشول   دَ تقلید خندا کَوِی لکه کاڼه
دَ دنیا په تله راتله پرواددار نه یم   غم ښادی می شِی دَ یار په تله راتله
ښه لیده لکه آواز دَ روح خوراک دی   ځکه هیڅوک ماړه نشول په لیده
ښایسته دَ هیچا ندی دَ خپل زړه دی   هغه خوار شِی چه و کښلیوُ ورکا زړه
گوره بیا دَ کوم کم بخت سړی په خوله شو   سَل ښکنځل راته کَوِی چه غواړم خوله
تل ترې غوښت عبدالقدر کا دَ یارئِ
یار هرگز ورته و نه وائی چه ښه!

ساقی هسی پیاله راکړه رندانه   چه په څښَل ئې لایقل شم دیوانه
سر زده له خلقه تښتم و صحرا ته   دَ مجنون غنُدِی ځان کړمه ویرانه
دَ مقصود میوه به هاله ځنی وخوری   چه په خاورو کښ ځان نیست کاندِی دانه
چه پکښې دَ ښایسته دَ مخ خیال دی   دَی ځما زړگیَ دَ چین نگار خانه
له غیرته می زړگی ټوکر ټوکر شِی   چه ئې گوتی په ویښتو وَهِی شانه
دَ بهار په وخت محتاج دَ مطرب نه یم   راته بس دَه دَ بلبلو ترانه
هرَه شپه هنگامه گرمه کړم په چم کښ   گنُدِی راشِی ښایسته پدا بانه

سر به سل ځله ترې څار عبدالقادر کا
که دَ سر په ښندل مومِې جانانه

چه راوړَی ئې له اصله دَی له ځایه
بوی به څرنگ ځی له مښکو راته وایه

د ښیښې قلقل سرود دَی دَ مستانو
مستغنی له دف او چنگه دِی له نایه

نور عالم وته صفت کوَه دَ حورُو
ملا ما وته نور بې یاره مه ستایه

خو هم تا ته ښکاره ښه دِی پرده پوښه
دا ځما عیبُونه نورُو ته مه نمایه

چیری نه عزیز ذلیل، ذلیل عزیز کا
په نا اهلو سیوره مه کوَه همایه

په افطار کښ ئې دَ زر روژو صواب دی
یار چه نیسی درته مَی روژه پرې کشایه

مرگ ئې سل ځله بهتر دَی تر ژوندُونه
په بیلتون کښ دِ مَیَن مه بیوه خدایه

چه دَ یار په لیدو موړ عبدالقادر شِی
که ئې بیایې له دنیا هاله ئې بیایه

مخ لکه آفتاب و خپل مَیَن ته ځلَوه
زړُونه دَ غمازُو لکه موم پرې ویلَوه

ستا ترخه وَیل په ما خواږه لگی تر قندو
بې له ما مشتاقه ئې په بل مه ځلوه

گورې و اسمان ته هیڅ نظر نکا و پښو ته
ډیر په کبر درومې خدای دِ مه درغلوه

ډیره کښلی جونه ما لیدلِی دِی په سترگو
ړوند شم که د تا غُندی په حسن بله وه

زور دَ غاښو مکړه مخ ئې صاف تر آئینه دی
زخم به پرې وشِی په ورو ورو ئې کښلوه

عمر می به لړ شِی که ئې تار دَ زلفو لړ شِی
فهم کړه اې ډمی! ږمنځ پرې ورو ورو چلوه

لاری تر منځ بند شوې هیڅ ادراک دَ ورتلو نشته
اوس دَ یار په لور قاصد دَ اوښیو زغلَوه

گل د دَ مقصود دَ باغ که زړه دَی چه غوړیږی
تل سحر سحر شبنم دَ اوښیو بلوه

زړه ئې چیری نه وِی رقیبان له تا نه تورکا[1]
یَو زمان له ځانه خپل دلبر مه بَلَوه

دا غزل ځواب دَ خان دَ هغه غزل کیږی
"خدای له خپله یاره نه هیڅ یار مه بیلَوه"

پریږده چه پتنگ غنُدِی پر وسوځی ځان خلاص کا
څراغ دَ مخ ښکاره عبدالقادر ته بلَوه!

چه پیدا دَی هر محنت پدا دنیا څه
په جهان تر بیلتانه نشته بلا څه

هغه دم چه دوه مَیَن ځله بیلیږی
که باور کړې نور به سخت نه وِی تر دا څه

یَو زمان تنها له خلقه راته کښینه
چه ئې وَوایم لَرم درته پخوا څه

چه دا هسی نن خبری په ناخوال کړې
چا بدخواه درته وَیَلِی دی له ما څه؟

۱. د دې بیت دَ پای مه بَلَوه په معنی دَ غیرش مکن، او د آخر بیت بَلَوه په معنی بیفروز دَی، په منځنی بیت کښ مطلب خوشحال خان خټک دَی، چه دَ بیت دوهمه مسرئ دا هغه دَه او دا بدله عبدالقادر خان دَ خپل پلار په ځواب کښ ویَلې دَه.

هيڅ باور ئې په وعده باندِې و مکړه — ښايسته څه، په وعده باندِې وفا څه
بيهوده دَ ګلو پاڼِې خپرې ندِي — په رموز ورته وَيَلِې دِي صبا څه
سردرلو عبدالقادر تر تا ئې ځار کړ
خدای دِ نه کا چه به دريغ لَرِی لتا څه

که خانی که ملکی که سلطانی دَه — که ئې ګورې بيهوده سرګردانی ده
مرګ ژوندُون بې کښليو واړه مساوی دی — ښايسته وُ ته پکار زندګانی دَه
په نصيب ځما دَ زړه دَ يار دَ زلفو — له ازله بخره شوې پريشانی ده
له مستئ مي ښيښه پريوته له لاسه — ساقی قهر راته مه کوَه ځوانی دَه
دَ هوښيار په غلطی قهر عتاب شِی — معذرت دَ ناپوهانو نادانی دَه
يا به سوځِی دَ چا خونه يا به خون کا — چه آغوستې ئې جامه ارغوانی ده
دَ عشق بوی به ئې دَ ګور له خاورُو درومی — دَ هر چا چه دَ خپل يار مينه جانی ده
خرابات لَره به ځم له صومعې نه — چه پکښې دَ دواړو کَونو امانی ده
تر غمی دَ قناعت لاندِی جهان دی — که دا ګوتې کړې په ګوته سليمانی ده
سرې سرې اُوښی دِ په مخ عبدلقادره!
وَ خپل يار ته دَ ياقوتو مهمانی دَه

چه په زړه کښې ئې پرَته وِی دَ سر مينه — بيا به نه مومی هر ګز دَ دلبر مينه
چه ترخه دَ بيلتون شته و به ئې نکړم — که خوږه دَه لا تر شهد و شکر مينه
لکه زر تر خاص و عامه پوری زرد وِی — هر سړَی چه کاندِی ډيره په زر مينه
ما ته بوی دَ خپل آشنا دَ زلفو بس دی — که نور خلق کا په مښکو عنبر مينه
په کالو دَ ګدايئ لکه بادشاه دی — په هر چا باندِی چه وکا اثر مينه
توری خاوری ئې مسند شِی اورنګ پريږدی — شاه جهان دَ زمانې کا نفر مينه
دَ دنيا مَيَن هميش په زړه رنځور وِی — ځکه نه کا په دنيا قلندر مينه
دَ پيغور غشی هيڅ اثر پرې نکا — عاشقان لَرِی په مخ کښې سپر مينه
نور تمام له عيبه ډک عبدالقادر دَی
يَو لَرِی پخپل وجود کښې هنر مينه

نن به راز وايِی رازدار لما سره — بويه دا چه غير نه وِی را سره
په بستان کښې غوټئ ځکه هسی وا شوه — چه پرې راغَی د تابوی صبا سره
بادشاهانو سره غم دَ درست جهان دی — دَ يوې ډوډئ غم ګدا سره
لږ اوره کاندِی دَ نمر روڼا ئی کمه — بد دِ نشی يَو زمان له چا سره
صرافان به ئې ځما په مخ وَولی — دا ځما عمل روپئ دِی ناسره

ښایسته کله له چا سره وفا کا
چه به کا عبدالقادره تا سره

یا مجنون شوم خوی می نور شه، یا ستا عشق را بانديِ زور شه
یا ستا عشق را بانديِ زور شه، یا مجنون شوم خوی می نور شه
غم هاله ځما په کور شه، چه په تا بانديِ مَیَن شوم
چه په تا بانديِ مَیَن شوم، غم هاله ځما په کور شه
بیا دَ خیال په سمند سپور شه، څو وګړِی به پایمال کا
څو وګړِی به پایمال کا، بیا دَ خیال په سمند سپور شه
را ښکاره دِ زور و شور شه، اوس به څه له ما خلاصیږې
اوس به څه له ما خلاصیږې، را ښکاره دِ زور و شور شه
په معنی ژوندی په ګور شه، چه لیدَل دَ کښلیو نکا
چه لیدَل دَ کښلیو نکا، په معنی ژوندی په ګور شه
له ګلونو می زړه تور شه، پکښې بوی دَ وفا نشته
پکښې بوی دَ وفا نشته، له ګلونو می زړه تور شه
عندلیب ولی په شور شه، په وصال کښې نارې نشيِ
په وصال کښې نارې نشی، عندلیب ولی په شور شه
درست صورت می لکه اور شه، زنهار مه بلوسه را بانديِ
زنهار مه بلوسه را بانديِ، درست صورت می لکه اور شه
په دریاب کښې کله شور شه، چه په اصل ګوهر خوږؤ
چه په اصل ګوهر خوږؤ، په دریاب کښې کله شور شه
خیال د یار دَ وروځو لور شه، پرې ریبی می دَ زړه وَليِ
پرې ریبی می دَ زړه وَليِ، خیال دَ یار د وروځو لور شه
چه وربل ئې په مخ خپور شه، رڼا ورځ را بانديِ شپه شوه
رڼا ورځ را بانديِ شپه شوه، چه وربل ئې په مخ خپور شه
دَ هغو چه ولی سپور شه، څه ئې مه ګڼه چه هیڅ دی
څه ئې مه ګڼه چه هیڅ دَی، دَ هغو چه ولی سپور شه
چه نظر ئې په بل لور شه، خوار شوې اوس عبدالقادره
خوار شوې اوس عبدالقادره، چه نظر ئې په بَل لور شه

چه دَ بخرو ویش په ورځی دَ میثاق شه — دَ چا وصل په نصیب دَ چا فراق شه
دَ اشنا له لوریه خط را لَره راغَی — بیا می اور په زړه تازه دَ اشتیاق شه
خدایه نور د َیار بیلتون را ښکاره مکړې — دَ زړګی قوت می لږ طاقت می طاق شه

هر محنت چه ئې په عشق کښ ؤ څکولی هم هغه سبب دَ قرب دَ عشاق شه
دَ لیدو لذت ئې څو دَی نه پوهیږم چه په یاد می ئې دا هسی خوږ مذاق شه
چه دَ نس په نغته درومی زړه آزار کا و دوزخ وته تیار شی هغه عاق شه
دَ عقبا د ناوی عقد ځکه گران دَی چه ئې مهر هم د دې ناوِی طلاق شه
ځان او زړه عبدالقادر در له یار یوړه
نور حساب به ځنی څه غواړې بې باق شه

له همه واړه عالمه صلح کل شه و ښو بدو خوشبوئی ؤرکوَه گل شه
تعلق په تیریدونی هوس مکړه په بهار کښ په نارو لکه بلبل شه
دنیا جسرِ آخرت ده یاده شوې دَ څړوُ غُندی تیر تر دغه پل شه
دَ سبب تونگری عین نیستی ده تونگر په خزانو دَ توکل شه
اضطراب به دِ خلاص نه کا له قضا نه مستقل ورته په صبر و تحمل شه
ځان دَ عشق په اور لوگی لکه سپند کړه هم به دا بهانه ځار تر ښه کاکل شه
په تأخیر کښ آفتُونه پیدا کیږِی معطل مکړه ساقی په داد دَ مُل شه
سترگی مه وَچَوه یَو زمان له نمه تل په زړه تروتازه لکه سنبل شه
خو خپل نیت عبدالقادره یار ته سَم کړه
بې پروا دَ بدگویئ دَ چغل شه!

محبت چه دِ دَ څه په زړه محکم شه هم هغه په حقیقت کښ ستا صنم شه
په دا لاری تله په سترگو په تندِی شی ځکه پاتو دَ ناقص ځنی قدم شه
چه هر دم ئې پرې کوِی دَ عمروَنه په مثال لکه اره دَ سړی دم شه
کشکی ما مهر دَ یار لیدلَی نه وَی په هجران کښ ئې هر مهر راته غم شه
چه ژوندی پرې گرزیدم دَ اشنا درد ؤ اوس پوهیږم و به مرم چه درد ئې کم شه
کوږ اوسَم پخپل ځای واړه زیبائی کا دَ دلبرو وروځی کږې قامت ئې سَم شه
چا ئې شمار نکړې حلقې دَ تورُو څینو په فکرت ئې ډیر وَگړِی پسی تم شه
چه په هجر کښ ئې وَ نمرې لا پایې
په تحقیق عبدالقادره تر یار گرم شه

څو دَ عشق په اور دِ نه ده ویلِی وازده که دعوا دَ عاشقئ وکړې تازده
ته به څرنگ پدا هونبره شتاب درومې چه دا لاره څړو دَ یکه تاز ده
نا امید ئې هیڅوک نه درومی له وره په هر ځای ئې دَ کرم دروازه باز ده
دَ طاوس وزر طاوس لَره بلا شِی شارونی په قفس کړې خپل آواز ده
هنرمند دَ خپل هنر په لُومه بند شِی دلیری دَ باز بلا په ځان دَ باز ده

لوئی ونی سیلیٔ پرې باسِی نه پوټی[۱] عاقبت سرنگونی دَ سرفراز ده
دَ غماز وینا وینا واروه مه اروه چه وینا ئې دوست گداز دښمن نواز ده
سر ساتَنه په مذهب دَ عاشقانو
له اشنا عبدالقاده لا جوزا ده

خدایه مکړه دَ هیچا په کور کښې غوټه زر چه غوټه شِی یا گانی شِی یا لوټه
که په رنگ دَ خټکی یې په دا څه شو چه مزه دَ خټی نه لرې پهوټه[۲]
ساقی ډکه پیاله را دَ هغو میوُ چه ئې ځښنونی شِی بیخود له یوه گوټه
چه سودا کا بې دَ کښلیو له ښه مخه عاقبت به دَ هغه سودا شِی تروټه[۳]
حال دَ واړُو په وار وار راته معلوم شو چه دِ وینم په خوله سوچه په زړه جوټه
ماتی ماتی زلفی بیا په مخه راغله[٤] دَ تقوا مینه ئې بیا کړه سپیره لوټه
تر هغو زلمیو ځار عبدالقادر شه
چه دنیا ئې کړه دَ ځان دَ وړاندِی لوټه

چه دلې هورې دَ مرد پرده پوشی ده خاموشی ده، خاموشی ده، خاموشی دَه
په سبا به حقیقت درته معلوم شِی چه نن شپه د تا له چا هم آغوشی دَه؟
په کوښښ چه نه زیاتیږِی دَ چا بخره[٥] سکه بهتره و سړی ته کم کوشی ده
کله لب په لب دَ یار کله دَ جام بِدِی هسی رنگ دَ نیک بختانو مَی نوشی دَه
په قیامت به له قیامته خبر نشِی چه ئې ستا له سترگو شوې مدهوشی دَه
چه ئې یاد په هر ساعت په هَره ساه یې له هغو نه ولی ستا فراموشی دَه
تر ناقصه هوښیاری عبدالقادر ته
په سل زر مرتبې بَه بیهوشی دَه

دا وینا دَ ناروغ زړگی شافی ده یوَه زړه لَره یوَه مینه کافی ده
په ازل ئې ځما دُرد، دَ نورُو صاف کړه له ساقی سَرَه ځما سینه صافی ده
دَ هر گل احسان ئې داغ په ټټر ینښ شِی دَ ځوانمرد ټټړ داغ داغ په تلافی ده
چه له نورُو دَ انصاف طمع لرینه په مذهب ځما هم دا بې انصافی ده

---

۱. یعنې کوچنیٔ او ټیټی ونی.
۲. یو بې خونده شان خټکی.
۳. تروټ: یعنی نقصان او تاوان.
٤. د دې بیت دوهمه مسریٔ په یَوه نسخه کښې هندی دَه "چوړه خلق پهر همارا توبه ټوټه"
٥. ځایی بخره.

سخندان به ئې په کوُمه خوله بیان کا ستا دَ خولې تشبیه راوړه موشگافی ده
ابلهان به ئې باور په اشنائی کا دَ هر چا چه په وعده کښ خلافی ده
دَ زر بفتو په اودو به څه پوهیږی؟ چه پیشه ئې همیشه خمتا بافی ده
هیڅ پیغور دَ عصیان مه کوهَ و ما ته تر گناه می دَ دوست زیاته معافی ده
مرد ئې مه گڼه چه لافی بې کردې کا مرد کرده بې لافو کا، ښځه لافی ده
دَ خپل ځان دَپاره نیم درم اسراف دی چه په بل خونه ښندې بې اسرافی ده
خو هم دا عبدالقادر ته بیا بیا وایه
یَوَه زړه لرَه یوَه مینه کافی ده

چه ژوندُون د دې جهان جاودان نشته په هر حال چه گذران شِی، ارمان نشته
نوم ئې ځکه دَ جهان په جهان کښیښو جهنده دَی قراری ئې زمان نشته
هم هغه له زیانه خلاص تمامی شود شو چه په زړه ئې غم دَ سود دَ زیان نشته
دَ هر خان چه نه ډوډیَ وِی نه توره ښه ځواب ئې دربان وکا چه خان نشته
که حاسد می په زوال دَ نعمت گرزِی څه می کَیږی ترې می ویره چندان نشته
په ژړا که تور دَ سترگو سپین کړم ښائی دَ یارانو نخښی وینم یاران نشته
ځان هاله عبدالقادره چه جانان وِی
په صورت باندِی ځان بار، چه جانان نشته

دَ میږونو هغه شته چه دَ تا نشته مه وایه چه ځما نشته دَ چا نشته
سترگه ور به څه باور پرې باندِی کاندِی که ړانده نارې وهِی چه رُڼا نشته
دَ صبا په حال غوتیَ دَ نوبهار زده دَ خزان وهَلِی وائی صبا نشته
د دنیا زویه په خوی دَ خپلی مور دِی بې وفا دِی پکښ بوی دَ وفا نشته
په منکر باندِی لیوه په ما یوسف یې! په دوه کَونه دِ مخَی دِ لقا نشته
ستا په بوی چه همگی ړانده بینا شول ستا له بویه بې یعقوبه اشنا نشته
وایی خاروخس جارُو کړه چه زه درشم خاروخس خو به هم زه یم بې ما نشته
هر سحر سترگی دَ گل په اوښیو ډکی پدا باغ کښ بې ژړلُو خندا نشته
که طلب دَ کیمیا کړې گنُدِی بیا مومې
پدا وخت عبدالقادره رشتیا نشته

دَ همه بدیُو سر بدآزاری ده هومره ظلم جور مکوَه زاری ده
چه په بد و نیکی کاندِی میره هغه په نیکی چه نیکی کاندِی خرخاری ده
تا په سترگو خوب ځما له سترگو یووړ بیا وَیَل کړې چه له څه دِ بیداری ده
ساقی هومره شراب را چه تمام مست شم تر نیمگړی مستیَ بهَ هوښیاری ده

یو زمان می به له ځانه یار بیل نکړ   ولی څه کړم لاس می نه رسی خواری ده
قراری آرام دِ کا چه په زړه روغ وی   په نصیب دَ خوږُو زړو ناقراری ده
هَرَه شپه را سَره مل وی په بیولتون کښ   ستا تر خیال پوری څما شرمساری ده
چه ئې نه مومی پرهیز کاندِی له کښلیو   را معلومه دَ زاهد پرهیزگاری ده
په ساتَل دَ خوږو زړونو نه پوهیږِی   دَ زړه څور دَ نادان کښلی یاری دَه
خدای دِ روغ عبدالقادر ور ځنی نکا
چه ئې ستا له سترگو شوې بیماری ده

که ترخه دی هم شراب دَ قهر نغره   ظلم جور په چا مکړه ځگروره!
باز چه وینی دَ ځگر خوری مرگ ئې ژر وی   له دیو وینو ځان ساته څما ځگره
هیڅ حاجت دَ بند زندان ور لَره نشته   بند زندان دَی دَ دانا دَ خولې خبره
دَ دوران دَ حادثو غشی ئې نه خوری   هر حکیم چه واغوندِی دَ حلم زغره
چه دَ زړه تر کمر پریوزی ریزمریز شی   خدای دِ پرې نه باسی څوک له دې کمره
که سړی په اصل یو دِی فرق ئې ډیر دی   یَو په یَو وِی، یو په سله، یو په زره
مرغلری سل اخستی په دینار شی   هم په سل دیناره مُومی مرغلَره
که بادشاه که امراء ځان به ئې سیال کړې
چه امید نه کړې له چا عبدالقادره!

زړه مدام راته وَیل کاندِی چه ژاړه   په ژړا ژړا بیل شوی میَن غواړه
په طلب ئې دَ دنیا ودانی پریږده   لیونیو غنُدی گرزه په اوجاړه
مصلی دَ بې ننگئ ور پسی لنگ کړه   دَ ناموس پروا ئې مکړه و ئې نغاړه
یار څما دَ سترگو تور پرې گرزیدمه   په هجران می ئې دَ سترگو رڼا لاړه
ښایستې که دَ کشمیر که دَ بل ملک دی   تر یوه باڼه قربان شه دَ یار واړه
دَ مکې زنځیر دِ نور نیسی په لاس کښ   ما نیولِی دِی دَ یار زلفینی دواړه
په خواری مونده شی کام له ډېر زړونو   په محنت سَره سره زر خیژی له کاړه[1]
که رضاَ دِ دَه څما په سر لویئ   په خندا خندا راځه په لکه غاړه
تل دَ یار په سترگو مست عبدالقادر دَی
که نور مست وی له شرابه یا له تاړه[2]

۱. دا کلمه تحقیق غواړی، دَ سیند خاوند لیکی، چه معنی ئې هغه شیله ده، چه سیل لوئی لوئی، ډبری ورته راوړی وِی، ممکنه ده چه دا کلمه به په پښتو کښ دَ کان دَپاره وضع او بیا به عامه شوې وِی ځکه چه دَ پښتونخوا اکثر کانُونه په غرو کښ دی.
۲. په هندی کښ یو راز بوټې دَی چه نشه کوُنکَی مشروب ځنی جوړیږِی.

په لاری تلَمه په مخه راغله یَوه دلبره پری رخساره
دَ نمر په شانه لا ترې روښانه په کښلی مخ وه هغه نګاره
په قامت سروه، په تلو تیز روه، ابرو کمانه غشی مژګانه
په سترګو بازه، خونریز ته سازه، په ویښتو لیله په مخ نهاره
غاړه بلنده، خاطر پسنده، عنبرین مویه، یاسمین بویه
په شونډو لعله، په زړه الماسه، په سپینو غاښو دُرِ شهواره
په زنی سیبه، بې له آسیبه، په ملا تر خپلو ویښتو نریه
شیرین کلامه، نازک اندامه، ول ول ئې زلفی، لاله عذاره
بې میُو مسته، خوله نیست و هسته، ډکه له نازه خالی له نیازه
سر تر قدمه، ثابته روغه، له هَرَه عیبه پاکه ویزاره
مخ ئې څرګند وُ، نظر پر بند وُ، د مخ شعلې ئې د مخ حجاب وې
په خیال خیال تلله، نظر ئې نکړ، هرګز و چا ته، له کبره عاره
لما غائبه لکه برېښنا شوه، په مځکه لاړه، که په سما شوه
هیڅ نه پوهیږم چه چرته دا شوه، راته وَوایه اې خبرداره
هوَس ئې یووړ، غم ئې در پرېښو، داغ ئې بیا نوَی درباندِی کښیښو
مقصود ئې دا دَی عبدالقادره، اوس پسې ګرزه سینه افګاره

دریغه نور غمونه لیری شوَی له دله
پکښې غم دَ خپل آشنا وَی تل تر تله
شبنم وصل دَ ګل بیا مونده خاموش شو
ترې محرومه شوه چه شور کاندِی بلبله
ښه چه ژبه دِ قلم شوه په مجلس کښې
شمع تا چه دَ خپل سوز قصه وَیَله
عاشق هیڅ نه وُ خبر دَ عشق له سوزه
دا لمبه پرې معشوقې ولګوَله
دَ فانوس په پرده څراغ کله پټیږی
که ئې مخ په پلَو پَټ وُ ما لیدله
که په زړه می دَ یار یادو میشته وکړه
دَ یار خیاله ته می پاس په سترګو مله
په ماتم دَ پروانه چه ځان ئې وسو
شمع اور په تندی بل کړ ګرزیدله
درسته شپه دِ په نارو عبدالقادر کړ
ته بې غمه په پالنګ باندی ځمله

په خاطر هونبره ندِی المونه
چه ئې وشمیرم و چا وَته نومونه
چه نور مینه کا په کښلیو زه ئې ګورم
درست لړمون می له پخساکه شو کرمونه
محبت موافقت دَی چه واقع شِی
نه په سحر په افسون دَی په دمونه
چه دِ ویر دَ بیلتانه ځموږ نصیب کړ
مګر نه وُ په جهان کښې نور غمونه
نوې میاشت به ئې نعلونه ستوری منځ کړم
که نازک دَ یار سمند لرِی سمُونه
که دَ درد دِ په بې قدرو قدر نشته
ستا دردونه به په سترګو موږ زغمونه

چه پامال دَ نندارچیو زړُونه نشِی[1] پـه ورو ورو ږده پـه نـڅا کښې قدمونه
هومره اور درکښې بلیږی ایرې نشوې بلا سخت یې دَ عاشق ننه لړمونه
چه طالع دَ سړی نه وِی څه په کار که څوک افزون لِرِی لښکر تړی بارونه
څښه شراب دَ محبت عبدالقادره
څو لا ستا دَ خاورُو سازندِی جامُونه

رایشه چه رایشی ښادی ځما په خونه مه دروعه چه نه درومی ځما په زړه سیخونه
نه گورې که وگورې احوال می به معلوم کړې ځی چه ځی په مخ ځما دَ سرو اُوښو ورخونه
مه خانده چه نه خاندِې په ما پوری اغیار سره مکړه، په ما مهر کړه که ډار کوې له خونه
نه وینم چه نه وینم دلبر جهان په سترگو مه لیدی چه نه لیدی هرگز کښلی مخونه
کښینوی چه کښینی گرز غبار دَ ویر له دله
شی چه نشی دا په بیدلانو شواخونه

موږ ته څه ناحق عالم وایی پندُونه پخپل عقل هر سړَی کا انندونه
دَ نور چا په موږ څه کار چه امتناع کا که دَ یار په مینه سر او مال ښندونه
محبت لکه دریاب په زړه را وخوت دَ دریاب په مخ کښی څوک تړی بندونه
دَ پیوند په پرې کوَلُو فقیری شِی نه په دا چه ځبله کښیږدی پیوندونه
بې اختیاره ورکاوه شی زړه وکښلیو نه دا کار په مصلحت شِی په پندونه
بهیمه په خوراک شخوند کا، دَ سړیو دَ خبرو په معنو بویه شخوندونه
چه ژویه شِی ستا بیان عبدالقادره
په رنگ رنگ ترې پیدا کیږی نور خوندونه

ناز پروره چه په غاړه کا هارُونه په سینه ئې دَ گل وشِی پرهارونه
ته به وایې په گلابو شبنم پریووت چه له قهره ئې خولې شِی رخسارونه
که یَو ځل چیری غلط شم توبه وی می په ورځ سل غلطئ کړې نه ئې شمارونه
ما به تل دَ یار تلی کښیښول په سترگو که می نه درلَې بانه لکه خاوونه
په لیدَل دَ ښایسته غزل انشا کړم عندلیب په گلو کاندِی چیغارُونه
دَ لبانو جړئ هم ور څخه شته دی که ئې دواړه توری زلفی دِی مارونه
راغَی وار د تا د تلو عبدالقادره
په وار وار یارانُو کړه خپل وارُونه

---

۱. ژوندون نشی.

که دِ نه ده دَ خپل مخ چهره چرکینه		آئینه ځما دَ زړه نه ده رنګینه
چه و تور ته نیژدې شی هغه تور شی		په ستنه راځنی ګرزه لکه سپینه
چه ئې زړه دَ محبت په لمبو وسو		دَ دوزخ له اوره څه پروا لرینه
توره سپه به په عاشق باندی سپوږمۍ کا		که پلَو له مخه واخلی مه جبینه
وار په وار می له زړه واړه مینی لاړې		بې له کنبلیو چه هرګز ځنی نه ځینه
دَ بلبلو له آوازه ئې اثر دَی		دا غوټۍ چه ګریوانونه تل څیرینه
غیر له حق، مینی همه واړه حجاب دی
مکړه نور عبدالقداره په څه مینه

نندارو لَره راځی چه پسی ځونه		په اختر به زلمی ځُونه کا سیلونه
ته به وایې مخ ئې ګل دَ پیغمبر شِی		چه ئې ډمه په مخ وَوهی خالونه
چه په سیل دَ بهار دَ ګلو ګرزی		زلمی ګل په بګړۍ ږدِی په اوربل جونه
ځنی دواړه زلفی ډکې کا له ګلو		څوک په غاړه دَ ګلونو کا هارونه
ژړ او سرَه نمری اغوستی ګلرخانو		وایې سبرونی ونیوَل ګلونه
چه ګلونه ټولَوِی سندری وائی		شرمنمده کا دَ بلبلو آوازونه
درست صحرا په خوشبوئی سَره خوشبوی کا		په هغه مځکه چه کښیږدِی قدمونه
دَ لاچی لونګ په ځای دستې دَ ګلو		وُر ستوی و خپل خپل یار ته په ملکونه
چه له سیله را روانه شی و کور ته		ګل لمن، بلبل ئې نیسی آستینونه
چه له هسی ننداړو نه ځان وباسې		شیخه! ورک شه ستا بې وخته خلوتونه
که لیدَل دَ ښایسته وُ پکښ نه وِی		چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که آواز دَی که لیده دَ روح خوراک دی		نفسانی دِ باندی نکا غرضونه
تیر شو وار عبدالقادره را به نشِی
که ژړا کړې که فریاد کړې که آهونه

ډیر می ولیدل په سترګو کور باغونه		دَ فللک په ګرد شو نوشال راغونه
نمر سپوږمۍ ئې پلیته په لاس نیولې		په وار وار ږدِی په سینو باندِی داغونه
ډک جامونه دَ حسرت ندامت څښی		چه ئې تل څښل دَ میو اياغونه
دَ لحد تیاره په شمع دَ انصاف ځی		په کار ندی په هاتیانو څراغونه
فراغت ساقی ولجه دی پیاله راوړه		جهان نه پریږدی تل چا ته فراغونه
بڼ چه تل به وُ ماؤا دَ طوطیانو		اوس ئې ګوره چه پرې ګنبت کاندِی زاغونه
څښه شراب دَ محبت عبدالقادره
څو لا ستا دَ خاورُو ساز نَدِی جامُونه

اې ځما زړګیه ترک هوا هوس کړه
دَ عقبی دَ تلو سامان په هر نفس کړه
دَ دنیا له خوانه هیڅوک ماړه نشول
په دې خوان دِ ډیر څه وخوړل نور بس کړه
مقدم دِ تل په دین دَ دنیا کار ؤُ
اوس دَ دین کارؤُنه وړاندِی دنیا پس کړه
ملامت په ځان کوهَ په هیچا مکړه
تا پخپله ولی مینه په ناکس کړه
دَ عسس ویره هغه کا چه پرَدی خوری
خپل خوروبه کله ویره د عسس کړه
خس ته هم په خوارُو سترګو نظر مکړه
ما په سترګو لیده سترګه ړنده خس کړه
چه دوزخ دوزخ یادیږی دوزخ نس دی
و دوزخ وته روان وګړی نس کړه
چه ئې ما وته پیغور کاوه دَ مینی
هغو لا دربانډِی مینه یَو په لس کړه
قافله دَ عشق منزل ته پوشیده تله
برهنه و خاصو عامو ته جرس کړه
چه غلیم ئې تښتیده له جوانمردیٔ
دَی ئې عفو په هنګامه دَ دسترس کړه
که لائق عبدالقادر دَ صافو نه دی
څو قطرې ور عنایت دَ خم بکس کړه

عارضی کارونه هیڅ دِی تعلق ور پوری مکړه
چه جوهر درته حاصل شی همیشه طلب هغه کړه
جوهر څه دَی، د تا فقر، عرض څه چه بې له ده دی
دا وینا تمام سلوک دَی که دِ نزده له ما زده کړه
دَ خواهش له چمه ووزه، دا کوڅه ده هر ګور تنګه
ترک دَ غوښت وسیع صحرا دی په دغه صحرا میشته کړه
حقیقت روښانه نمر دَی، په لیده ئې سترګی بریښی
دَ مجاز رانجه کړه پوری، پرې روښان دواړه لیمه کړه
چه دِ مخ دَ دلبر یاد شی، په ثنا صفت دَ ګل شه
دَ زلفینو له فراقه په سنبل دَ زړه دمه کړه
شونډِی غاښ ئې چه در یاد شی په مثال دَ لعلو درو
دَ خپل زړه وینی تووه ته، خپلی اُوښی ور سره کړه
خپل صورت چنګ و رباب کړه پر تارُونه اوښی څاڅه
حرف و صوت دَ خولې پریږده پرې دَ مینی زمزمه کړه
نو آموز عاشق بلبل دَی شور ئې ډیر او مینه لږه
که مثال دَ کامل غواړې و پتنګ ته ننداره کړه
لکه ګاڼی ډک له اوره هیڅ اثر ئې لیده نشِی
هسی رنګ عبدالقادره پټه ته دَ عشق لمبه کړه

نن په خوا راغله مه رویه، سمنبره سنبل مویه
سمنبره سبنل مویه، نن په خوا راغله مهرویه
وئې مه می ځه له کویه، چه ذلیل بې قدره نشې
چه ذلیل بې قدره نشې، وئې مه می ځه له کویه
که له ما دی عاشق بویه، بې له ما به بل نه ګوری
بې له ما به بل نه ګوری، که له ما دی عاشق بویه
دَ عشق چار هر ګوره لویه، سربازان دِی چه ئې اخلی
سربازان دِی چه ئې اخلی، د عشق چار هر ګوره لویه
صفت شِی دَ ګل له بویه، دَ سړی له ښه خصلته
دَ سړی له ښه خصلته، صفت شِی دَ ګل له بویه
دریغه دریغه بده خویه، ته یَو څه رنګ بد غلیم ئې
ته یَو څه رنګ بد غلیم ئې، دریغه دریغه بده خویه
دَ توبې له شست و شویه، مکدر صفا خاطر کړه
مکدر صفا خاطر کړه، دَ توبې له شست و شویه
سحر ږغ وخوت له جویه، لاړُو بیارته به را نه شو
لارو بیارته به را نه شو، سحر ږغ وخوت له جویه

څه حاصل له گفتگویه، عمل کړه عبدالقادره
عمل کړه عبدالقادره، څه حاصل له گفتگویه

چه همت د دَ ټپوس دَی ځان باز مکړه — ځان په رسم دَ جانبازو، جانباز مکړه
چه محتاجُو ته محتاج وِی ډیر خسیس دی — بې بې نیازو بل هیچا ته نیاز مکړه
اسبابونه دَ ناز راوړه هاله ناز کړه — ستا چه هیڅ اسباب دَ ناز نشته ناز مکړه
امتیاز دَ خپل، غلیم و بله گران دی — بې له خپله دله هیڅوک همراز مکړه
دَ اِتمام سعی کوَه چه کار شروع کړې — یا هرگز لمړی دَ چاری آغاز مکړه
دَ خبرو په لذت که خبر دار یې — بیهوده بیرون له شونډو آواز مکړه
که دِ لوستی دَ ''لَا ترکنوا'' آیت دی — سکه هر گز دَ ظالمانو، اعزاز مکړه
تولا او تبراء دَ ایمان ځانگ دَی — چه دِ دا ځانگونه نشته پرواز مکړه
په لیمه به ستا جفا عبدالقادر وړی
په شړل می په مراد دَ غماز مکړه

په فراق چه می روان له سرترگو جوی شه — لږ می پاتو و آشنا وته ابروی شه
ښه چه باد وته پابوس دَ گل حاصل شو — په طلب ئې کښته پورته تگ و پوی شه
په خبرو معنی کله ادا کیږی — خبر ځکه په حیرت له گفتگوی شه
مرتبه دَ هر چا څه؟ چه ئې معنی وی — جسم گل، عرض ئې رنگ، معنی ئې بوی شه
په تمثیل ئې چه دَ یار دَ قامت راوړه — په همه ونو کښې سبرؤ، سر لوی شه
دَ کریم له خوا نه مځکه نصیب مومی
په ساقی ملامت نشته چه جام توی شه

(ی)

که په لعل او درُو نور دولت مندان دی — لعل و در، ځما دَ یار شونډی دندان دی
دَ همت سر کوزی نکا و بادشاه ته — په جامه دَ گدائۍ سر بلندان دی
دَ ساقی دَ پیالې قدر زاهد څه زده — چه په گوټ ئې سرومال ښندی رندان دی
چه په حال دَ فراق جنو نه نرمیږی — هغه زړونه زړونه کله دی سندان دی
وائی څو لرې په زړه ځما داغونه — تر حساب تر شماره تیر چندان چندان دی
که ساقی دَ پیالې دور بیا گردان کا — په مجلس کښې یَو څو پاتې هوښمندان دی
چه دِ طمع له چا شی عبدالقادره!
ته بنده شوې همه ستا خداوندان دی

ته چې زلفې په رخسارو ښوروې — در پوهېږم جهان ښور ماښوروَې
چه دِ واغوسې دَ خیال جامې گلگونې — خپل مَیَن په سرو لمبو نسکوروې
زرکې سر ځما دَ یار په قدم کښېږده — که خوبې ئې له رفتاره پوروې
هغه مخ چه دَ وصال په غوړو غوړ وی — دَ هجران په تاو ئې ولې سپوروَې
که دَ عشق په تور مې ووژنې راضې یم — ځما عشق دَ سر په ویره نوروَې؟
سپین غاښوُنه په خندا را لَره راشه — که به مخ دَ رقیبانو توروَې
بس دَی یَو دَ اشنا غم عبدالقادر ته
نور غموُنه باندِې څه ټندوروَې

پښې برمنډې، سر برمنډ گریوان پاره وَی — په طلب ئې په ملکونو آواره وَی
په ستنه شوې دَ دنیا له کاروباره — ناگڼلَی ناشمارلَی هیڅ کاره وَی
له دې عقله هیڅ فایده حاصله نه شوه — لایعقل دَ لیونیو په شماره وَی
دَ آشنا دَ غم په سیند کښې مې شنا کړَې — دَ جهان له هوسونو کناره وَی
دَ عالم په نیک و بد غرضې نه وَی — بې ځوابه بې حجته بې چاره وَی
په هر ځای چه کښېلی دی عبدالقادره
په حیرت ئې دَ جمال په ننداره وَی

که خبر شې په لذت دَ ویرانۍ — اور به پورې کړې پخپلې ودانۍ
ستا په تله مې غم اندوه نصیب دَ زړه شو — دریغه دریغه را به نشې نادانۍ
جمعیت مې دَ خاطر په لیده ستا شی — بې تا خلاص نه یم یَو دم له پریشانۍ
ناکامې ور ځنې ښه دَه په څو رنگه — چه مې ولیدې دَ دهر کامرانۍ
غوړ تیره کا آئینه غبار ئې صافه — دَ مخ آب زیاتَوِی گرز دَ دهقانۍ
عاقبت به د دنیا دار له دنیا درومې — تش لاسُونه زړُونه ډک له پښېمانۍ
په هزاره دشوارې کښېوزې په لاس کښې — راشه گوره څه رنگ ځې په آسانۍ
چه په عقل غوبانه شپانه ترې ښه دی — پدا دَور هم هغه کاندِې خانۍ
دانا ځان، ناپوه گڼې عبدالقادره!
ته چه ځان ته دانا وایې، نادان نه یې؟

په وار وار ئې په هر چا وکړې بازۍ — دَ جهان په ورکړه هیڅوک مه نازۍ
په آخر به ئې له تا سې غلیمان وړی — پخپل لاس ئې پخپلوانو وَ بازۍ
دَ اخلاص امید هیچا ته باتو نَشو — آشنایې ده اوس همه مهمازۍ[1]

---

۱. ټگې، چل ول.

بیهوده گله مندی کا له اسمانه — جهان ډوب کړ دَ غمازو غمازئ
سر فراز ئې سرنگون درومی په کښته — را ښکاره شوې دَ دنیا سرفرازئ
په معنی کښې مرگ ئې نشته تَل ژوندُون دی — دَ هغو چه پاتو شی نیک آوازئ
گوره څه رنگ نازبردار دَ خاص و عام شول — چه ئې تل کوَل کبرونه طنازئ
له اوله بلبل باز وې اوس باز باز شوې
عمر ولاړ عبدالقادره په بازئ

دَ رحمت دریاب هغه وته په جوش دی — چه دایم ژړا زگروا کا په خروش دَی
لا تخف او لا تحزن دَ هغه بخره — چه له ډیره غمه نیښ پرې باندِی نوش دَی
له پیشو ئې ویره شی له مزری نشی — چه بې خدایه ویره کا په معنی موش دَی
دَ دنیا په سرای کښې مخ و آخرت ته — کاروانونه ملی لیږدی پوشا پوش دَی
چه به پروت ؤ لب په لب له لب شکرو — نن په څو له تورُو خاورو هم آغوش دی
په بها ئې دواړۀ کونه ورکول شی — که پیاله ئې څوک اخلی می فرورش دی
بیا به نه مومی زنځیر د یار د زلفو — چه په سر کښې ئې لاپاتو عقل و هوش دی
د سکوت هنر له کُل واخله بلبله! — چه په سل ژبی آواز نه کا خاموش دی
اوس ښکاره عبدالقادره می نوشی کا
چه صاحب د گناه بخش و خطا پوش دی

چه تر غوږ می دَ جرس نارې فریاد شی — ستا دَ عشق په بیابان ورک راته په یاد شی
یو په سله به ئې غم دَ زړه نصیب شی — هر نادان چه دَ فلک په ورکړه ښاد شی
تر شیرینی دِی دا کښلی لا شیرینی — ولی څوک دَی چه په عشق لکه فرهاد شی
چه په راغله مړاوی گل دَ باغ تازه کا — په تاثیر به دَ صبا کله هر باد شِی
نور چه بوس او کنار کا عیب ئې نه وِی — زه چه تش کاته کوَم ځما هیداد شی
هر سړی چه کمینی کا لوئی مومی — هم پدا خادم مخدوم، شاگرد استاد شی
چه پرې نه لگی وَیَل دَ نیک خواهانو — عاقبت دَ غلیمانُو په مراد شی
په همه ؤ مریدانو پیر شفیق وی — تربیت ئې موافق په استعداد شِی
چه اساس ئې دَ ژوندون دَی په باد ینبی — پرې به څه دَ عاقلانو اعتماد شی
دَ منصور غنُدِی سنگسار عبدالقادر شه
که بې عشقه بل گناه وربانډِی زباد شی

ما دَ مینی خوی له ځایه دَی راوړی — تهمت اوس را باندِی وایی عام وگړی
په هغه نفس که وخیژی راضی یم — چه می بې دَ یار دَ یادو سره نغری
مرده دل دِ له ټټره زړه بیرون کا — یَو ساعت په کور کښې به پریږدی څوک مړی

ښه چه راز می و خپل یار وَته ښکاره شو　　نه اغیار ته چه هر چا وَته ئې سپړی
ستا دَ رحم تر سیلابه پوری څه دی　　دا ځما گناه مثال لکه خسړی
په مانړی ئې هغه هم ر ځخه یووړ　　چه را پاتو وُ دَ صبر چیری برِی
جمعیت چه له دنیا په دنیا غواړی　　هغه غړی په معنو دَ شگو پړی
په حرص به ئې نه لَږ نه به ئې زیات کا　　خپل قسمت ئې دَی هر چا لَره ورکړی
تل په خاورُو به ئې واسل پانړی گل شِی　　چا چه زړه ټوکر ټوکر و گور ته وړی
که درست عمر دَ یار غم عبدالقادر کا
خدای دِ نکا چه به شِی ور ځنی سترِی

که ښیرې کا که ښکنځل هر چه وائی　　هیڅ مه وایه ښایسته دِی باندی ښائی
دَ بهار په وخت هم دا وایه مطربه!　　چه په کنبلیو مینه نه ښائی نه پائی
خلقې ئې انتظار دی ولیدو ته　　گوره مخ به دلبر کوم یَوه ته نمائی
هر مرغه د دې چمن پخپله ژبه　　ستا ثنا کا ستا صفت کاندِی تا ستائی
په دنیا به مینه څه عبدالقادر کا؟
چه آخر ئې خواه ناخواه ور ځنی بیائی

چه پیدا وِی له یوې قطرې منی　　ورته نه ښائی چه کا کبر منی
چه خلعت ئې دَ صورت له خاورو شوی　　په هر حال دِ خاکساری کا که منی
له خزانه به نه گل دَ صحرا خلاص شی　　نه به باتې شی گلوُنه چمنی
په نازک بدن ئې خت دَ ململ څرخی　　ځما یار ته جامې بویه سمنی
تنگه خوله ئې ښایسته حلقه دَ گوتی　　دواړه لب ئې نگینی دِی یمنی
ته چه هسی زعفرانی جامې آغوندې　　ژر به کړې دَ یار چهره کُرکمنی
ستا جهاد ته ئې هم ستا نفس پیدا کړ
که ئې کړې عبدالقادره دښمنی

دَ همه ښادیو سر دَ یار الم دَی　　چه فریاد ور ځنی کاندِی هغه گرم دی
څو دِ زړه هونبره ستم کوَه دلبره　　په تندی مو قبول کړی ستا ستم دی
شکسته په شکسته باندِی عزیز وِی　　ځکه زړه می ستا و زلفو وَته خم دی
مگر ستا دَ مخ نمر وَخیژی رُڼا شی　　گڼه درست جهان په ما باندِی تورتم دی
دَ ښادیٔ امید دِ لیری کا له دله　　چه په تا باندِی مین شه تَل ئې غم دی
آئینه چه ستا دَ مخ گوری سکندر شه　　چه په لاس کښِ جام دَ میو لَری جم دی
عاقبت به مخ تورن لکه قلم شِی　　هر سَړی چه دو زبان لکه قلم دی
تر ایذا ئې لا پخوا سزا دَ کړو ده　　په معنی کښِ ظالم مار دی یا لړم دی

منت بار دَ یار دَ خیال عبدالقادر دی
چه همیش ور سره مل په غره په سم دی

ستا سترگو وژلی به تر درنگه اوس ښخیږی
راشه زړه پرې یخ کړه که پدا دِ زړه یخیږی
رقص له خامیَ کاندِی دانه دَ دیگ په منځ کښ
پاتو له صوفی شی هاله رقص چه پخیږی
ستا تر سر ځاریږی ستا په سر ځما سوگند دی
بل مطلب ئې نشته څرخ چه هسی رنگ څرخیږی
خوب ئې باندی نشی لټ په لټ و بله اوړی
گل ئې دَ نهالیَ په نازک بدن څرخیږی
ولی به له مځکی نشی گل عبدالقادره
تل چه تر گلونو ښایسته پکښ ښخیږی

نه یوائی دَ لاله په تېر کَی دَی[۱]
په دا باغ کښ چه بې کَی دی، هغه کی دی؟
چه په تخت د قناعت دَ پاسه کښیناست
کمینه بنده دَ ده کاوس او کَی دی
هر چه وخورې هغه ستا شی نوری پریږدې
دا دنیا دَ مهمانیَ ښانکی دی
په بشر ئې پرهارنه، زړه می سوری کا
دَ بیلتون په لاس کښ هسی ناوکی دی
چه بدخوی درکښ پیدا شی ژر ئې ورک کړه
بوټی وخیژی له مځکی څو تنکی دی
په ورکړو ئې مشه خوښ بیا به ئې اخلی
دا جهان تر هلک لا په خوی سپکی دی
کنُدِی ستا په فضل خلاص عبدالقادر شی
په طاقت کښ خو هر گوره تپکی دی

د خبیث په ښه صحبت نبث په څو ځی
دَ ماهی بد بوئی کله په اوبو ځی
له اصلی بده به لاړه بدی نشِی
که دَ ښو په ښه دیدن په ورځو شپو ځی
لا کیسیه لا بازیَ ښکاریږی بد ته
دَ کامل دَ نصیحت اثر په ښو ځی
دَ مزریو په لوی ښکار باندِی نظر وِی
شلانډو مږکو لَره تروړی یا پیشو ځی
هر چه شوی په ازل هغه به کیږِی
عبث عمر په عبثو اندیښنو ځی
څه نظر به کا دلبر په افتاده ؤ
چه دا هسی بد دماغ په کرشمو ځی
په لیمو به ستا په لور عبدالقادر ځی
که یارانو لَره نور عالم په پښو ځی

چه سحر دَ یار له لوریه شمال راشی
دا ناروغ زړگی می څه خو په حال راشی
اوس خو وار دَ وصل تیر شو بیلتون راغی
یا نصیب چه بیا نوبت دَ وصال راشی
زړه می ډوب شی پوښتیده ئې هر گز نشم
چه ریبار دَ یار له لوریه ملال راشی

۱. په دې بیت کښ لمړی کَی عربی دَی یعني داغ، آخرنی کَی یعنی څوک، په دوهم بیت کښ کَی دَ پخوانی پاچا نوم دَی.

نور شغلونه به دِ ووزی له خاطره 	که په زړه کښې دِ دَ کښلیو اشغال راشی
دَ لیدو دَ وړوُ تېرو طاقت لړ شو 	لا به کله ړومبیٔ ورځ دَ شوال راشی
دَ خپل یار له وصال ته امیدوار شم 	چه سورت دَ یوسف ما ته په فال راشی
په هجران کښې خواروزار عبدالقادر شو
بیا به کله په شیوه په خیال خیال راشی

که دَ درست جهان بادشاه شې په هوا ځې 	عاقبت به له جهانه بې نوا ځې!
که حشمت دِ دَ سکندر تر حشم ډېر شی 	خالی لاس به ځنی بیا درومې یواځې
چه په تا باندِې مَیَن ورته دِ شا کړه 	له غلیم سره دا هسی خوا په خوا ځې
دَ غفلت پنبه راوباسه له غوږو 	چه کښو غُندی کوڼ نه درومې شنوا ځې
ستا په دا خندا خندا شِی دَ هوښیارو 	چه آخر په ډېر ژړا په ډېر زگروا ځې
که خاطر دَ تعلق له باره خلاص کړې 	دَ رحلت په وخت به هاله بې پروا ځې
په عزت په حرمت راغلې و دنیا ته 	په بدخوی ترې شرمنده خجل رسوا ځې
څو قاصد لا دَ طلب راغلی ندَی
بهتر دَی عبدالقادره چه پخوا ځې

دَ ژوندون به ئې څه حال حلاوت نه وی 	هر سړی چه په دنیا بې یاره ژوی
ما دِ خلدای په دنیا نلَری بې یاره 	له دنیا تر یار پخوا دِ ځما تله وی
چه یو غم را باندِی تیر شی وایم خلاص شوم 	نور غموُنه را پیدا شِی نوِی نوِی
یو مجنون سوی او لوی دَ عشق نه وُ 	مینی ډېر کړل تر مجنونه دوی او لوی
څه حاجت چه ئې پوښتَنه کړې له حاله 	خود ښکاره دِی دَ هجران دَ لمبو سوی
چه پکښې نه مهر، نه مینه، نه اخلاص وی 	تر ودانه لا وران ښه دی هغه ژوی
محرم نشته چه خپل حال ورته بیان کړم 	نامحرم ته وایه نشِی زړه می چوی
سل فتنې چه بیداری کا بیداریږی 	بخت ئې ویښ شِی چه په غیږ کښې ئې اوُده وی
په نور څه عبدالقادره نه رغیږِی
په بیلتون کښې دَ یار یار داروُ دَ زړه وی

ستا څهره لَره خدای تل ارغوانی 	که دَ غم څهره می دَه زعفرانی
سر په لاس در پسی درومم نه قبلیږی 	نصیب مشه دَ چا دا سرگردانی
مَی نوشی تمامه شپه کاندِی له نورُو 	په سبا به ئې په ما وِی سرگردانی
څو څو گرانی می آسانی په زمان کا 	زه به چیری پریږدم عشق په آسانی
اشارت ئې دَ دنیا تالا کوَل دی 	چه صوفی په رقص کا دست افشانی
چه لاړ نشې په غفلت بیا به ارمان کړې 	هر نفس دَ خپل نفس نگهبانی

چه په مخ ئې کاروانُونه دَ خط راغله اوس به وشی دَ شکرُو ارزانی
له دعا ئې اوس هم نه يم فارغ شوی که دَ کنبليؤ په خدمت لاړه ځوانی
ورته عرض سلام دَ خوار عبدالقادر کړه
چه په چم باده گذر کړې دَ فلانی

په طلب چه دَ تندی وچ شی کومی غم دی نکا دَ حيات اوُبه به مومی
دَ طلب مصلې ډيرُو پسی لنگ کړې گوره کوم نه دَ دلبرُو شونډې چومی
چه تر يخی ئې دَ بيلتون کړه په ځان تيره هم هغه به ئې دَ وصل پياله شومی
څښه څښوه شراب ساقی بيا به ارمان کړې عندليب نارې وهِی چه بهار درومی
معشوقې وژلی مړه ندِی ژوندی دی پدا تشه نانه څشو که مړه نومی
جدا شوی چه له يار عبدالقادر دَی
په هيڅ رنگ ئې اوُبه نه درومی تر کومی

دَ هغو چه اوربل شوَی په کوگل دَی دَ زړه سود ئې دَ آهونو په وکښل دی
ډير مَيَن ئې ځبله بيل کړه نه صبريږِی بيلتون هسی رنگ لا خير په بيلَول دی
زړه می لا دَ جدائۍ په اور وسوځه! که په زړه کښ می دَ يار محبت بل دی
څوک ځما تر ياره ښه دِی په خلقت کښ که جفا را سرَه کاندِی بخت می خپل دی
ترو په څو به ئې خلاصی له مينی کيږی په ازل چه اور نصيب ځما دَ دل دی
له يوه څراغه نه درومی بل څراغ ته پروانه وته وصال ځکه حاصل دی
څه باور ئې په ياری عبدالقادره!
چه چاپير تر هر هر گل لکه بلبل دَی

دَ قيامت په ورځ به سپک پاڅی سپک تللی په سبا به دروند پاڅی چه دروند څملی
تنها هيڅوک گورستان لَره لاړ نه دی خپل عمل غاړه غړی ور سَره زغلی
چه می سترگی باندِی وا دَ بصيرت شوې دَ عالم ودان می وليدَل نتلی
ناپوهان به ئې باور په دوانی کا چه په طمع دَ سيلاب دَ اوبو ملی
د دنيا کاروُنه ضد دَ آخرت دی دَ دنيا قبول په دين کښ دَی رټلی
نه صحت مومی نه مری هسی تاويږی چه په زړه وی دَ حسد منگور چيچلی
چه نظر می په ښو بدو باندی وکړ وائی وشړل له روه هغه بللِی
دَ قيامت له جوکه ډار عبدالقادره
نکا چا چه خپل ښه بد دلې تللِی

که ښکنځل دِ په بې دردو ترخه لگی ‌ ‌ ‌ ‌ ما ته کړه په ما تر شهد و خواږه لگی
مشتاقان دَ تیغ په آب سَره سیراب کړه ‌ ‌ ‌ ‌ تر ژوندون ئې ښې په تږی اُوبه لگی
سترگی پټی زړه بیدا لکه غنچه شه ‌ ‌ ‌ ‌ دَ دولت نسیم دَ ویښو په زړه لگی
سنگدلان ئې له ناوکه بې بهره دی ‌ ‌ ‌ ‌ په مشتاقو تر گلونو پاسه لگی
چه ئې داغ ځما دَ زړه دَ داغ په سان دی ‌ ‌ ‌ ‌ په لاله می څه خو څه خو لیمه لگی
دَ ښو اغزی می لیری په ژړا کړه ‌ ‌ ‌ ‌ چه دَ یار په قدمونو تیره لگی
یَو ساعت عبدالقادر ځنی خلاص ندَی
هر زمان دَ عشق لښکری په ده لگی

دریغه بیا په گلو گښت وکړی سبا شوَی ‌ ‌ ‌ ‌ چه په باغ کښ رنگا رنگ گلونه وا شوَی
دَ شبنم پیالې ئې نوشی لبالب کړَی ‌ ‌ ‌ ‌ له مستیِ دَ هر گل کیس قبا شوَی
تور بورا تر هر هر گل قربانیدلَی ‌ ‌ ‌ ‌ دَ بلبلو په هر لور باندِی غوغا شوَی
مخامغ له یاره کښیناستیَ یو ځله ‌ ‌ ‌ ‌ دَ بیلتون غمؤنه واړه پسی شا شوَی
که په کانِی دَ بیلتون میده شوم څشو ‌ ‌ ‌ ‌ دَ حنا په دود خو وصل ستا له پا شوَی
ما به ځان لکه پتنگ تر صدقه کړ ‌ ‌ ‌ ‌ که څراغ ئې دَ جمال راته نما شوَی
یار له ما نه لا و ما وته نژدې وَی ‌ ‌ ‌ ‌ که تر منځ حجاب پاره پاره د ما شوَی
زه او ته په محبت کښ نه ځائیږی ‌ ‌ ‌ ‌ زه او ته له منځه وَوَتَی یکتا شوَی
خو دی پریږده نور راځه عبدالقادره
که دِ زړه دَی چه زه ستا شوَی ته ځما شوَی

بوی ئې نه ځی له خبرو دَ بهی ‌ ‌ ‌ ‌ چه تشبیه دَ یار دَ زنی کا بهی
لاس می ورو نیسه په لاس کښ لاس دِ مات شه ‌ ‌ ‌ ‌ چه پرې ونشی زخمونه دَ پهی
دَ دنیا څربښت اماس دَی و دانا ته ‌ ‌ ‌ ‌ و ناپوه وته ښکاریږِی فر بهی
مشتاقان کله تمیز دَ نیک او بد کا ‌ ‌ ‌ ‌ که صاف نشته ساقی رامئ تهی
په امید دَ خپل مخدوم دستاریَ ‌ ‌ ‌ ‌ واقع کیږِی له خادمه کو تهی
امتیاز ئې د سپین مخ له خاورو نشِی ‌ ‌ ‌ ‌ چه ئې نه پرې ینښ لږ گرز په یک تهی
که ئې ډوب کا په دریاب کښ و به ووزی ‌ ‌ ‌ ‌ چه گړی ئې له ازله شول تهی[1]
هغه بار چه اسمان نه شی اخستلی
په کوم زور به ئې عبدالقادر سهی

---

۱. چه گړی ئې دَ نااهل شول تهی.

خدای می مکړه یَو زمان ځنی خالی ستا اندوه می دَی سبب دَ خوشحالی
که له خیاله خالی هیڅ ښایسته ندی ولی تا غُندی به بل نه وی خیالی
چه بې ځایه آواز کا په انجمن کښ دَ رباب غُندی به مومی گوشمالی
دَ سړی لکه همت هسی ئې فکر دَ عالی سړِی فکرُونه وِی عالی
سل جنجال له سل فتنې را سَره وکا بیا په ما باندِی نوم کښیږدِی جنجالی
ځان او مال تر جانی یاره صدقه شه نه یو دَی نه سل زر لک چه وِی مالی[1]
چه خپل یار دَ خادمانو سَره شمار کړ
څوک به کا عبدالقادر در سَره سیالی

ساقی مَی بویه چه وِی پرتگالی خواه پیاله وی مرصع خواه سفالی
علامت دَ یار دَ ډیری مینی درد دی روغ دِ نکا له دردمن سَره سیالی
مقدم په ډکیدل خالی کیدل دی ډک هغه شی چه خپل ځان کاندِی خالی
چه یو ځل په هل وَهَل کا مځکه سازه دَ امید تخم هاله کَرِی مالی
آشنایی کوَل آسان دی پت ئې گران دی یَو یو مرد دَ آشنایئ پت پالی
عاقبت به ته هم راشې ځما ځای ته زه که پروت یم په مځکی په نهالی
شپه او روځ عبدالقادر په جدائی کښ
واړه سترگی کړې اوره ښښگالی

په وَیَل دَ کوم بې رحم ځیگر ورځې چه دا هسی ډیر بس رایشې بیا ژر ځې
دَ عاشق دَ سترگو غر نه حجابیږی ولی هسی شان مخ نغښتی په میزر ځې
دَ لویئِ په مقام به هاله کښینې که دَ ورکړی دَ مړانی په وزر ځې
دَ هوسیو سترگی توری دَ باز سرې دی خونریزی تر نور سترگو کا لا زر ځی
در پوهیږم چه به ژر مصلې لنگ کړې چه دوهې وته ډیر ډیره قلندر ځې
تصدیع مکړه کشتن گاه وته په سر ځِی
که په وژلو[2] دَ بیدل عبدالقادر ځې

که گلاب لکه باران ور باندِی اوری دَ گلابو بوی به لاړ نشی له اوری[3]
صباحت ئې دَ یوسف همیش منظور وُ ځکه سپین شو دَ یعقوب دَ سترگو توری
هر یَو گل په خواست ترې وړه ځان ئې خوشبو کړ چه صبا خوشبوئی راوړه ستا له لوری

---

۱. دَ غوړمالی.

۲. وژله.

۳. تجنیس دَی یعنی بولان چه یَو واښه دَی.

مکړه خدای چه دَ وفا خویونه نور کړم   که هر څو می یار جفا کا تل می زوری
که زاهد دَی که عابد که شیخ ملا دی   همگی دَ خپل مقصود په لوری ښوری
پاس دَ دار په سر منصور دَی دروغ ندی[1]   چه عاشق شِی بیا به سر له عشقه ژغوری؟
پسی شا دِ سوگندوُنه خوری و سر ته   هم هغه چه مخامخ دِ په سر لوړی
قراضې دَ زرو څه لره په مخ ږدې   په وجود دَ نمر نمای نکاندِی ستوری
تر ژوندُونه مرگ ښه دی عبدالقادر ته
چه ئې یار رقیب ته خاندی دی ئې گوری

دَ یوه په غولی ویر، دَ بل سرود دی   چرته غم چرته ښادی دَ دنیا دود دی
په نور څه ئې صحت نه کیږِی له درده   په بیلتون کښ دَ یار یاد دَ خاطر سود دی
په ډیروالی ئې لا غم په سړی ډیر شی   بیهوده دِ په دنیا پسی مښود دی
رنگینه شعر می مه گڼه خبری   وا روان څما دَ زړه دَ وینو رود دی
چیری نه چه خالی لاس ور ځنی وَوزې
خرید کړه عبدالقدره بازار تود دی

نور عالم خپل خوب کا، رنځوران اخته په نخول وی   مځکه توده کوم ده، چه اوربل پرې باندِی تل وی
نر ناحقه سترگی دَ رنجو په بار درنې کا   کله دَ هوسیو سترگی توری په کجل وی
بل مراد ئې نشته په دنیا کښ بې له دا نه   خاوری دغه ملک شوی چه محبوب پرې ینښی پل وی
هر چه لمړی شوی په آخر به هغه کیږِی   څوک به ئې اول کا چه پس شوی په اول وی؟
کله به لا درومې له ما اې دَ سحر خوبه   خوب بې غمه نکا چه په مخ کښ ئې منزل وی
فکر لیونی دَ سبا نکا ځکه خوښ وی   غم دَ هر سړی په اندازه دَ طول امل وی
هر چه محبت لری دَ یار دَ تورو زلفو   تل به ئې په زړه کښ فکرتونه مطول وی
ما په زړه ویشتلې فریادونه کړه په زوره   ستا سوی نارې په ما شیرینی تر عسل وی
څه وایې و ما ته، ما ته لار دَه خطرناکه   هیڅ پروا می نشته که دِ خیال را سَره مل وی
تل که آه فریاد عبدالقادر کاندِی گرم ندی
بیل له فراغته همیشه له یار بیل وی

له جهانه هسی رنگ دِی یاران تللی   ته به وایې چه هر گز نه وُ راغلی
نښانی ئې په جهان کښ موندی نشی   هسی ورک شول دَ هجران سپرو نتلی
دَ بریښنا غُندِی ښکاره شول بیا فنا شول   په ځیر ځیر مو ورته هیڅ نه وُ کتلی
نه مو سترگی په لیدو سَره مړې کړې   نه مو وُ په ډکه خوله و بله خندلِی

۱. منصور دروغجن ندی.

نه مو زړونه ځبله تش کړل په خبرو نه مو پټ رازونه وُ ځبله ښکَلی
چه ناګاهه بیلتون مخ ورته ښکاره کړ له موږ بیل شول په ارمان تېتر داغلی
له احواله ئې خبر نه یم چه څه شول څوک په بیارته ځنی ندی جار وتلی
که خاکونو ته ئې ورشم نارې ورکړم په ځواب ئې راته هیڅ ندی وَیَلی
یا له موږه مرَوَر شول ځواب نکا یا ئې چا په خوله مهرونه دِی وهَلی
که ئې وغواړم خبر له خبردارُو دوی پرې هم لکه موږ ندِی پوهیدَلی
که قبرُونه ورانوم پکښ ئې غواړم ما بې خاورُو پکښ هیڅ نه دِی لیدلی
نه پوهیږم چه له کوُمه لوریه راغله بیا ئې دِی و کوم مکان لَرَه بیولی
اې یوه خدایه ژر وران دَ دنیا سرای کړه چه آشنا عالم ترې ځِی نا اشنا ملی
چه هر دم جرس دَ کوچ ووته بِرغیږِی
فراغت عبدالقادر څرنګ څملی

توری زلفی دَ نګاری بې څه ندی په سپین مخ ئې تار په تاری بې څه ندی
په لیدَل ئې روغ ناروغ شی بیمار روغ شی دواړه سترګی ئې بیماری بې څه ندی
ډیر هوښیار به لیونی کاندِی پوهیږم کرشمې دَ پریواری بې څه ندی
دَ بیلتون په اور ئې ننه زړه اوریږی دَ عاشق سترګی خونباری بې څه ندی
درسته شپه ځما دَ آه لوګی ور درومی دَ فلک سترګی بیداری بې څه ندی
په جهان کښ هیڅ ترخه نشته بې ګتې دَ دنیا ګرانی دشواری بې څه ندی
څو به مینه پُټوې عبدالقادره
ستا دا تل نارې چیغاری بې څه ندی

مخ په بیدی بیدیا ونیوی ژړلَی دَ صحرا دَ ونو پاڼی پټ خوړلَی
چه له وره دَ ښښتن ورتلی بل ورته لکه سپَی په کاڼیو لوټو ئې شړلَی
دَ جهان دَ خوږو هیڅ غرضی مه وی کل ترخه مې دَ خوږو غُندِی نغرلَی[1]
دَ حرص دَ سپی غاښ مات په قناعت شوی په زنځیر می بیا دَ صبر وَ تَړلَی
عاقبت به په ارمان ور ځنی درومی که ملنګ وِی په سپیرو ایرو لړلَی
په ما نوم دَ بادشاهیٔ مه وی پوری خوشامد می مکړَی چا تل ئې ربړلَی[2]
هر ظالم به دَ دوزخ په اور کښ وینې لکه سپی په زنځیرُونو څکړلَی
هر کاره به بهادر شاه چیری خبر کا
حال عبدالقادره مه وایه سپړلَی

---

۱. لوړلی.

۲. خوشامد می مکړَی چا تل می ژیړلَی.

بیا می شی زاړه غمونه په زړه نَوِی چه دَ یار په بورجل رایشم یار نه وِی
حال که وایم و عالم ته منصوریږم که ئې پټ ساتم په زړه کښ زړه می چوِی
دَ عالم له ویری آه وکښلی نشم په کوګل کښ می دنَنه شول الوی
په صحت ئې نارضا په درد بې صبره د دې هسی رنګ زحمت دارُو به څه وِی؟
فرهاد غر په عشق کښ کینده زه صورت کښم و منصف وته ځما زیاتی تر ده وِی
ده که یار ته واله جوړه دَ شودو کړه تل روان دَ وینو رود ځما دَ زړه وِی
چیری نه وِی رنګ ئې هیر کړم په بیلتون کښ په وصال کښ می به ځیر یار ته کاته وِی
ستا دَ سترګو خیال پرې وریږِی څکه ژاړم نرګس تل تروتازه وِی چه اوُبه وِی
په پرینښول به دَ جهان له غمه خلاص شې خلاصیدَل دَ غاښ له درده په وکښه وِی
و به وینې دَ یار مخ عبدالقادره
که دِ تل ور پسی دواړه لیمه سره وی

ته څه هسی بې نظیره دلبر نه یې چه ښکاره په درست جهان لکه نمر نه یې
په هر کلی په مالت خبری ستا شی هسی نه چه په عالم کښ سمر نه یې
په پیاله چه شونډی کښیږدې نو عسل شی بیا به وایې چه په شونډو شکر نه یې
دَ سپوږمیٔ ښایست په ستوریو باندی کیږی؟[۱] حاجتمن دَ لعلو درو ګوهر نه یې
اسمانونه می دَ آه په لوګی تور شول ته لا هیڅ ځما له سوزه[۲] خبر نه یې
که دِ زړه دَی چه بډای شې طمع پریکړه څو د طمع چا ته شته تونګر نه یې
پهوړه[۳] کچکول سیلی خو ډیر متاع دی که دِ ستن په ګند کښ شته قلندر نه یې
په جهان دِ څکه بوی د خوبئ نه ځِی چه بیدار لکه غنچه په سحر نه یې
ښه غزل درته بیان عبدالقادر کړ
له معنو ئې لذت واخله که کر نه یې

که فلک لکه آسیا دانه ئې سر شی عارف ندی چه ئې زړه پکښ لربر شی
که اسمان دَ ممسک سترګی مځکه نس شی وابسته ئې مخلوقات دَ بحرو بر شی
په زر کاله ئې ژوندون دَی ګمان مکړه چه پکښې دَ توکل څښتن مضطر شی
خاوری زر چه ورته یو شی له غه پسه په کاته ئې کانی بوټی واړه زر شی
که اصلی فقر دِ سیوره په سر وکا هست و نیست به درته واړه برابر شی
چه خپل ځان دَ تلی خاوری دَ ګدای کا دَ پله خاوری ئې په قدر تر عنبر شی

---

۱. دَ سپوږمې ښایست په ستوریو نه زیاتیږی.
۲. له آهه.
۳. یعنی بوریا.

چه خپل ځان تر ځراغ ځارکا بیا وسوځی   کُوم ملخ به دَ پتنگ تر ځایه ورشی
دَ زاهد مشرب جدا دَ رند جدا دَی   له ماهی به کله کار دَ سمندر شی
هاله لاف دَ مینی کړه عبدالقادره
چه ترخه دَ یار په تا شهد و شکر شِی

ما چه لب دَ شکر شونډو دِی ځبیښلی   لا می اوس له خوږو شونډی ځله نښلی
ستا دَ سترگو په خیال هسی رنگه مست شم   لکه چا وی دوه کلن باده نوشلی
که له سترگو دِ روان شی سیند دَ اوښیو   وران به نشی چه ئې ستا په تندِی کښلی
دَ عاشق دَ صورت خاوری دَ یار مینه   په ازل ئې دواړه دِمی سره اغښتلی
له توبری سره می ځان ځِی چه وکیښ شی   ځکه ما دَ یار توبری نه دی وکښلی
شکایت دَ ښایسته وُ دَ خوی مکړه   تر وفا دَ بل، جفا ښه دَه دَ کښلی
که بدرنگ مخ پټوی باری یَو روخ دی   ښایسته دِ هرگز نه وِی مخ پوښلی
یَو دلدار چه دلداری کا بیا می نه موند   په غوښته می دِی ملکونه پسی منبلی
چه مَیَن شوې غم زغمه عبدالقادره
په غمونو عاشقان دِی همیش لښلی

هر عاشق چه هیله کاندِی له وفا می   تر وفا دِ لا خوښیږی په جفا می
په رشتیا ځما مخ عاشق هغه دی   چه دَ مخ می ننداره کا تر قفا می
دا دَ خیال شاطر می ډیر ملال را درومی   گوره بیا په کوم دیار بند شو اشنا می
ستا زحمت دَ محبت دَی طبیب ووې   بې لیدلَو به روغ نشی په دوا می
دَ ښامار له خولې مهره وکښل محال دی   ستا په تورُو زلفو بند شوه مدعا می
دَ آشنا دَ آشنایئ قدر می نه در[1]   که په آور دَ بیلتانه سوځم سزا می
ستا دَ چم پوښتنه کاندی نه ئې مومی   ځکه هسی سرگردان گرزی صبا می
زما وصل دَ هغو عبدالقادره
چه خپ سر شندی د وصل په بها می

صدقه شمه ساقی ستا تر پیالې   چه دِ خلاص کړم دَ جهان له کشالې
څو څو ډیر دَ جدایئ[2] له غمه ژاړم   په رخسارو کښ مِی سازی شوې نالې
په یاری کښ به هاله صادق باله شې   چه تر مرگه دَ یاریَ پت وپالې
یار هغه چه په محنت کښ یاری وکا   ډیر یاران دِی په ساعت دَ نوالې

۱. می نه وُ.
۲. چه ډیر ډیر دَ جدایئ.

محبت دَ عاشقانو عظیم کوټ دی　　پروا نکا دَ پیغور له اټالې
ساحران ئې دَ چشمانو دین ایمان وړی　　سحرگر که زړونه وړی دَ بنگلالې
په ښکاره نارې وهه عبدالقادره
په خاطر کښې به څو غم دَ عشق گالې

مخ دِ لکه نمر دی تر نسبت ئې نمر مثال دی　　څوک به وایی هسی چه نمر ستا دَ مخ مثال دی
های دَ خدای دَپاره یَو دم مه درومه له ما نه　　یَو زمان بیلتون دِ په ما خوار بیلتون دَ کال دی
سخت دی په سړی باندی نیژدې بیلتون تر لیری　　یار چه لیده نشی تر دکن لیری دیوال دی
خلاص ئې له یَوه جنجاله نه وم بَل را واخلی　　هر زمان له ما سره په سل رنگه جنجال دی
وایی چه وبال دی چه نظر کا و ښه مخ ته　　ما په دواړو سترگو قبول کړی دا وبال دی
حسن یَو اثر دَی چه په مخ کښې دَ چا وشی　　نه چه کړه وړه ښه لَری هغه صاحب جمال دی
دم که می همدم دَی هیڅ په کار څما را نغی　　لږ چه دلاسا می دَ خاطر کا دَ یار خیال دی
څه برکت ناک دَی دَ عشق خم ورته حیران یم　　څو خلق پرې مست شه دَی لا هسی مالامال دی
هر چه سوختگان دی په خاطر به ئې لگیږی　　اور می دَ ټټر چه سر وهلی تر مقال دی
زړه لری بډای عبدالقادر تر بادشاهانو
څه شو که په کور کښې دنیا نلَری کنکال دی

که ښکاره شی درویشانو عزت ستاسی　　گدایان به شی شاهان په دولت ستاسی
دَ دنیا نوبت، نوبت په نوبت درومی　　همیشه دی بې زواله نوبت ستاسی
څه شو نن که مو څوک نه پریږدِی وورته　　خبردار دی ډیر په قدر و قیمت ستاسی
سبا ورځ چه اجتماع دَ خلایق وِی　　په هر چا به شی ظاهر منزلت ستاسی
هم هغه به دَ نجات په لور روان کا　　چه پرې شی مهربانی عنایت ستاسی
غم اندوه شه په نصیب دَ دنیا دارو　　فراغت دَ زړه خوښی په قسمت ستاسی
ستاسی هومره ډیر حرمت پخپل څښتن دی　　چه به نور شی په عزت په حرمت ستاسی
په نصیب به دَ هغو شی چه نیکبخت وی　　دَ دوو کَونو سعادت دی خدمت ستاسی
دَ راحت امته کَوی اهل محنتو!　　خدای به نکاندی ضایع مشقت ستاسی
مددگار دَ گنه گار عبدالقادر شَی
گنُدی بیا مومی خلاصی په همت ستاسی

چه په زړه باندی ئې وا دَ عرفان باب شی　　دا جهان به ئې تر فهم دَ سراب شی
دَ وحدت دریاب به وینی کښته پورته　　خپل وجود به ور ښکاره لکه حباب شی
دَ خودیِ باد چه وباسی له سره　　دَ حباب نامه ئې لاړه شی دریاب شی
څو وجود دَ ذرې شته هومره زره ده　　خو چه محو خپل وجود کاندِی آفتاب شی

دَ هستیٔ نوم هاله وربانديِ ښائی | آميخته چه له محيط سَره سيلاب شی
دَ عنصر دَ چارديواله چه راووزی | ارويده ليده ئې واړه بې حجاب شی
د هر لوری ته چه مخ کا نمونځ ئې کيږی | چه قبله ئې دَ يار مخ وروځی محراب شی
په ځنبل دَ سترګو ځی تر شرقه عربه | تر نظر دَ عارفانو تله شتاب شی
خپل به هاله د يار شې عبدالقادره
که په تا باندی ئې يَو مهر عتاب شی

نه په باغ نه په بوستان په ګلرزار ګرزِی | خراب زړه می هم هورې دَی چه يار ګرزی
دواړه سترګی ئې شاهين دِی قهرولی | سپور دَ ناز په آس دَ زړونو په ښکار ګرزی
په مقدم ئې دَ صحرا خاروُنه ګل شیِ | چه په سيل ځما يار دَ بهار ګرزِی
که پرُون دَ رقيب وار وؤ نن ځما دَی | دَ اسمان دَ ژرندی دود دَی په وار ګرزی
که رنځور شې خود به در شی طبيب کور ته | طبيبان په طلب تل دَ بيمار ګرزی
دَ ښو په ناوکو ئې زړه خوږيږِی | عاشق ځکه آهومن ناقرار ګرزی
دَ هوسیٔ غنُدِی خپل خوب په ميږی تون کړه | دَ اجل ښکاری په نيت دَ ګزار ګرزی
ما دولت دَ ګدايانو له وره بيا موند | که نور خلق دَ بادشاه په دربار ګرزی
په وصال به آسوده عبدالقادر کړې
که هميش به دِ په هجر کښې خوار ګرزی

نن په درست جهان کښی غوره يار ځما دی | په ليدو ئې سر ښندَنه کار ځما دی
دَ خزان ويره ئې نشته تل تازه وی | کښلی مخ ئې هميشه بهار ځما دی
په وار وار نورُو پيالې دَ ميو نوش کړې | ساقی اوس ئې و ما راکړه وار ځما دی
وئې مه شلوې ځما له غاړی خدايه | دَ خپل يار دَ زلفو تار زنار ځما دی
دَ هر چا په غاړه پروت دَ مينی بار دی | تر همه واړُو چه دروند دی بار ځما دی
چه يَو دم می له خاطره نه بيليږی | لا لتا نه دَ تا غم غمخوار ځما دی
درسته شپه ئې عشقبازی کوَم له درده | پدا څه شو چه جدا نګار ځما دی
که دسته دَ ګلو را کا هم به خار شی | په ازل چه نصيب شوی خار ځما دی
ښايسته لکه ګلونه دَ پسرلی دی | پرې هميش لکه بلبل چيغار ځما دی
عاشقان به دَ پتنګ غُندِی پرې سوځی | په معنو کښی سرې لمبې اشعار ځما دی
که کرم را بانديِ کا عبالقادر يم
که حساب را سره کا زيار ځما دی

ګاه په خانقاه کښی ګه مقيم په ميخانه يې | هيڅ درنه پوهيږم چه عاقل که ديوانه يې!
کله له هندو له مسلمان سَره خپلوی کړې | کله له همه واړه عالمه بيګانه يې!

ته که لیونی دَ هوسۍ سترگو مینی نکړې — ولی شپه او ورځ لکه غرځه په ویرانه یې!
وایی راته وایه چه دِ جان که دِ جانان یم — ځار شم ستا تر سترگو هم می جان هم جانانه یې
شونډی دِ یاقوت دی مرغلرِی سپین غاښونه — سر تر پایه درست دَ بادشاهانو خزانه یې
څوک دِ له لیدو څوک له خبرُو مراد مومی — څوک دِ له وصاله دَ همه خلقو ستانه یې
بنِ دِ څه په کار دَی خو دِ مخ لکه گلزار دی — یار لَره راغلې دَ گلونو په بهانه یې
لږ به ستا دَ مینی په رموز درته وَوایم — مَیَن په اورېدو که دَ مجنون په افسانه یې
مَی دِ دَ خپل یار دَ شونډو څښلی دِی پوهیږم
ځکه په وَیَل عبدالقادره مستانه یې!

لوی لوی غرونه دِ په واورو تَل ودان وِی — چه رودونه ئې په مځکه را پریشان وِی
په ژوره مځکه مه اوره بارانه! — ښې اُوبه کاندِی ترخې بوی ئې روان وی
په چمن کښ ئې بد بوی گل شگفته شه — زاغان ورشی بلبلان ترې گریزان وی
په هغه چمن ورځه دَ سحر باده! — چه نسیم ئې په هر چا عنبر افشان وی
چه په راغله ئې د باغ گلونه وا شی — همیشه دِ هغه باد په ملک وزان وی
چه پتنگ مشرب پیدا کړی په معاش کښ — دَ هر چا ځراغ چه بل شِی پرافشان وی
مبارک هغه بنده چه آخر بین وی — کل محنت راحت و ده وته یکسان وِی
په رموز دِ ډیر څه ووَیل په لَږ کښ
پرې به پوه عبدالقادره سخندان وی

چه دا هسی آشنایان پکښ هر دم ږدی — په غفلت په مځکه ولی څوک قدم ږدی
په خپل لاس لږم ماران استوی گور ته — چه په مځکه کښ دینار ږدی یا درم ږدی
بیت اللّٰه په حقیقت دَ مؤمن زړه دی — چه بې خدایه مینی کا پکښ صنم ږدی
چه ذلت ئې په عزت دَ ده اختیار کړ — دَ سائل منت په ځان اهل کرم ږدی
ښې خبری در گوهر، خاموشی مُهر — دانا تل ځکه په خوله دغه خاتم ږدی
هر چه دلته مستقیم په شریعت[۱] شِی — په صراط باندی به هور ته قدم سم ږدی
چه داغونه په زړه ږدی ښایسته ډیر دی
نشته یو عبدالقادره چه مرهم ږدی

چه له مخه ئې آفتاب ماهتاب رخشان دی — په جهان کښ څوک ځما دَ یار په شان دی
جمعیت ئې دَ خاطر په لیده ستا شِی — په دا هیله درته جمع څو پریشان دی
چه ئې څوک په کوڅه تیر شی لیونی شی — شیخه مه ځه پدا لار پری و شان دی

۱. عدالت.

نه یوائی دواړه زلفی زړه را گاږي
دَ کاکل ویښته ئې لا خاطر کښان دی
دَ راحت ښیښې به تشی عاقبت کا
هغه څوک چه دَ محنت جرعه نقښان دی
چه په تش کاته ئې مس دَ وجود زر شی
درویشان دی، درویشان دی، درویشان دی
له آفته به دلې هورې خلاص نه وی
چه بدگوی، آزار رسان بد اندیشان دی
خود پرست دَ یار له وصله بیگانه وی
له خودئ بیگانه دَ ده خویښان دی
تر شکرو ندِی کم عبدالقادره
تر نباتو که خواږه وَیَلی خان[1] دی

بیا ئې نیت دَ جنجال وشو چه نور کښلی راته شماری [2]
یار که تل هسی جفا کا ما به مرگ وته وسپاری
بل که هر څو ښایسته وِی خدای دِ نکا چه ئې گورم
تر یوه بانِه دِ کښلی دَ جهان شه واری واری
ستا چه هیڅوک اشنا نشته فراغت گرزه هوس کړه
په هر چا چه آشنایی دَ جدایئ محصل گماری
دَ دنیا په باغ کښې ځای دَ همیشه استوگی نشته
عاقبت به له دې ښه طوطیان ووزی په چیغاری
دَ بلبلو دَ طوطیانو، په گلونو سیل کیږِی
په گندگئ په مرداره، تل کارگان گرزی مرداری
هر چه ښه ئې له ازله په فطرت کښې یښی ندی
چه به بد کارؤنه نکا نور به څه کاندی بدکاری
هر سړی په موافق دَ خپل همت نظر لرینه
په وَړو چارو هیڅ کله کاته نکاندی لوی چاری
که غمزې دَ دلبرانو تیرې توری دِ څرخ کړې
هم ورځی په تیرو تورُو بې پروا بې اختیاری
زړه دَ هیچا زینهار عبدالقادره آزار مکړه
چه په دین او په دنیا به آخر خوار شی دل آزاری

بیهوده دَ چا په چا باندی های های دی
پخپل ځان که ژړا کا دَ ژړا ځای دی
گذشته عمر همه په لهو تیر شو
آینده که پدا شان ځِی ځما وای دی
که دِ جاه که دِ عزت که زویه ورونه
زړه پرې مه تړه عاقله تش نمای دی
محبت دَ مولا کړه، مولا باقی دی
په فانی چه محبت کاندی کوږ رای دی
نن سحر صبا بلبل ته نصیحت کړ
هغه گل ور پسی غواړه چه دیر پای دی
دَ هوا په آس سپره په فهم درومه
پدا لار به هاتی ننښلی هسی لای دی
لاف دَ خدای دَ بندگئ کړې محکوم نورو
دَ هر چا چه حکم وړې هغه دِ خدای دی
که ئې شپږ اقلیمه وِی چه اُوم غواړی
و هغه ته بادشاه مه وایه گدای دی
دَ همای دَ سیوری څه پروا لرینه
چه قانع پخپل قسمت شه خودهمای دی
دَ هغه سپاره پَی وړه عبدالقادره
چه دَ آس ئې دَ افلاک دَ پاسه پای دی

١. مطلب ئې خپل پلار خوشحال خان دَی.

٢. چه تور کښلی راته شماری.

که دَ عشق په تور می کانړی په سر ووری — زه به وایم واړه دُر او گوهر ووری
په چرگ بانگ مهال ئې داد دَ بوسې وکړ — مړنی ببنگال تل په سحر ووری
په تأثیر ئې دَ قدم خاوری خوشبوی دی — که په چم باندی ئې مښک و عنبر ووری
سرې سرې اُوښی می له سترگو وینی ندی — دا ځما دَ زړه له اوره شرر ووری
دَ رحمت سزاوار ښه چه گنه گار یم — باران بویه چه په تږی شجر ووری
دَ ظالم دَ سر دَ تاج لعلُونه ندی — په تندی ئې له دوزخه اخگر ووری
دَ حاسد جفا زغمه عبدالقادره
تل دَ غم کانړی په سر دَ ثمر ووری

محبت په کښلیو کا تمام وگړی — چا دا اور دَی ښکاره کړَی ځنو نغړی
ثمره ئې خواه مجاز خواه حقیقت دی — په انسان کښې دَی کرَلی دَ عشق زړی
ځما داغ عارضی ندَی چه به ورک شی — دَ لاله غُندی می داغ ځائی راوړی
گل گریوان په نغمه څیری دَ بلبل کړ — نسیم ندی گریبان دَ غنچې سپړی
را به ووزی عاقبت دَ غم له څاهه — چه نیولَی ئې په لاس دَ مینی پَړَی
ندی مرد چه واخلی ورکا مرد هغه دی — چه گټی پخپلو غړیو پوخ کا غړی
چه څوک نکاندِی آزار لچا نه اخلی — تر کسریٰ تر حاتم ځان هغه تیر کړی
که صفله څښتن دَ جاه شی په دا څه شو؟ — په معنی بړبوگی پورته کړ خسړی
زه خټک دَ یار په غم تازه تازه شم
غوریه خیل رحمان که شو ور ځنی سترِی

که هر څو ښایسته ډیر وُ دَ وگړی — موړ ته غوره کړې نور نورو غوره کړی
ته هم هسی دل آزاره جفا کار شوې — چه تل ستا له لاسه ناست وه په زړه سترِی
آزاری که چیری کړې بیزاری مکړه — اوس یُو موړ او ته په خلقو کښې نومړی
چه په لږ ځور دا هونبره ډیر مانړی کړې — مگر لږ دی، موړه ستا ځورونه وړی[1]
همیشه دَ حال په ژبه له ما زار کړې — ستا له حاله می هیڅ ندی چا ته سپړی
څوک چه نن کانده وفا له یاره غواړی — ډیر ابله دی چه دَ شگو پړی غړی
آشنایی دَ دین کوَه عبدالقادره
دَ دنیا آشنایان واړه دِی نیمگړی

یار را ځنی لاړ شو، دمه کړم په گفتگو ئې — گل دَ گلاب تیر شو، بوی اخیست شِی له اوبو ئې
نمر وَته نظر کړم چه می یاد دَ آشنا مخ شِی — نوې میاشت به گورم چه را یاد ئې شی آبرو ئې

۱. نغړی.

پاس می په تندی کښېږده قدم دَ چنبې گله — سپین نازک په مثل ته ځما دَ یار دَ روئې
یا راغلې دَ یار دَ کوځې یا راغلې له خلده — اې دَ صبا باده ته چه هسی رنگ خوشبو یې
غم اندوه په بخره دَ هغه چه عاشقان دی — خوښ گرزه زاهده چه له عشقو یې پخشوَی
دوې دی بله نشته، نده دا وینا څرگنده؟[1] — یا به ئې خوله کښل کړم یا به وینی کړم پرتوی

ستا ده دَ بل نده ځما خوله عبدالقادره
ولی ئې دا هسی دَ حرص په څله ژوېې

هم هغه می دَی دا داغ په ځگر یښی — چه ئې خال دَی په سپین مخ دَ دلبر یښی
په قامت دَ مؤذن قیام په څو کړم — ښایسته می په ورانه باندِې سر یښی
دَ لویئ په تخت به هغه قدم کښېږدی — چه له سره ئې دَ کبر افسر یښی
هغه یار په صورت حور، په خوی[2]فریښته دی — مصلحت ته ئې پرې نوم دَ بشر یښی
دَ هستئ بستر به اور ور څرگندیږی — چه پهلو ئې دَ نیستئ په بستر یښی
غم هوس ئې دَ بیلتون دَ وصال ټول کړ — پرې ئې نوم دَی دَ جنت دَ سقر یښی[3]

اې چه په قد سبر، په ښه مخ گلزاره یې — ته پدا ښایست دَ کوُم نیکبخت نگاره یې
سره نمری اغوستی، ولول زلفی سترگی توری — خیر دِ وی بیا دَ چا په تاخت تیاره یې
هیڅوک دِ مخی دَ ښایست نشته په جهان کښ — توبه ستا له یاریٔ، دَ ډیریو یاره یې
تل دِ دواړه شونډی په نوشل دَ وینو سرې وی — زړه په چا نه سوځې ته یَو څه خونخواره یې
حسن دَی که خیال دَی که دماغ که مکیزونه — ته پدا خویونو په عالم اوڅاره یې
نه می په بل کښلی نظر کړی نه په گل دی — بیا په کوم گناه دا هسی شان آزاره یې

څرنگ به باور ستا په یاری عبدالقادر کا
یَو ساعت می یاره، بیا په بل ویزاره یې

وایم وایم چه چا نه وې بیا به وائی — نن دَ ښو عمل کوَه عمل به بیائی
که په ډیر مښود دولت دَ دنیا ټول کړې — واړه سعی دِ ضایع دَه چه نه پائی
دَ نعمت گټل آسان ساتل ئې گران دی — فهم وکړه چه گټلی نه کړې بائئ
ځان غبار کړه دَ هغه صبا دَ لاری — چه گذر په کوڅه کا دَ دلبر بائی
دواړه پښې ځما په خوړو سترگو کښېږده — دَ بیمارو سترگو پهی دِی ستا پائی

---

١. د ده دَه دَ بل نده، چه ده دا وینا څرگنده
٢. په زړه.
٣. مقطع نلَری.

ستا په مينه باور څه عبدالقادر کا
چه هيڅوک در نپوهيږی چه دَ چا ئې

چه حجاب تر منځ ځما ځما دَ رب دَی اول زه، دوهم عالم، دريم سبب دی
تر شيطان چه لا غليم ځموږ دَ دين دی اول نفس، دوهم شيطان، دريم غضب دی
چه سړی پرې دوست دښمن وته غزيز شی اول حلم، دوهم جود، دريم ادب دَی
دا درې درده خدايه واخلې له دردمنو اول غوږ، دوهم ليمه، دريم سروب دی
چه دا درې څيزونه پريږدې مراد مومی اول نوم، دوهم آرام، دريم طرب دی
ودانی دَ کائنات دَه په درې څيزه اول مږ، دوهم غنم، دريم عنب دی
چه مطلوب ته رسوِی عبدالقادره
اول صدق دوهم شکيب دريم طلب دی

نن می بيا تر بادشاهانو زيات دماغ دی چه ساقی راته وَلاړ په لاس اياغ دی
چه ئې داغ دَ غلامئ را باندې کښيښی افتخار می په دوه کَونه پدا داغ دی
رڼائی ئې نه په نمر نه په سپوږمئ شِی دَ عاشق دَ غم دَ خونی غم څراغ دی
دَ اميد گلونه ژر پژمرده کيږِی چه دايم ترو تازه دی دَ ياس باغ دی
دَ تشويش په تله ئې لا تشويش زياتيږی فراغت می دَ خاطر په نه فراغ دی
ښه په ښه باندی مَيَن وی بد په بدُو طلب گار دَ بازو باز دَ زاغو زاغ دی
چه دَ خولې وعده کوې عبدالقادر ته
دا وَيَل دِ په رشتيا دی که دلاغ دی[1]

چه دا هسی هوښياری کړې مجنون نه يې لا په مخ دَ ښايسته وُ مفتون نه يې
بيا به نه مومې وصال دَ الف قدو چه په مينه کښِ لا خم لکه نون نه يې
ستا په سترگو می سوگند دَی خپله ياره چه يَو دم می له خاطره بيرون نه يې
دَ رقيب وَيَل اثر درباندې وکړِ مهربانه نن په شان دَ پرون نه يې
عاشق شوی په چا نه يې معلوميږی چه په غم دَ عاشقانو محزون نه يې
په جذبه دَ عشق می وځکولې ځان ته ما موندلَی په تعويذ په افسون نه يې
څو سختی دَ زړه لرې عبدالقادره
هومره تاو دَ عشق زغمه ځنی ستون نه يې

۱. دا ويل دِ په رشتيا دی لا دلاغ دی – يا که درواغ دی.

گوره بیا زما تر څنګ لا کله کښېنې | چه په ناسته مې لا غم له دله کښېنې
چه خندا کا په فریاد دَ فراق جنو | کشکی دی په اور کښ تل د تله کښېنې
یَو یو بوټی دَ ګل بویه په چمن کښ | چه په ښاخ به ئې شیدا بلبله کښېنې
همه واړه ستا دَ مخ ثنا صفت کا | په هر ځای چه کښېلی یَو له بله کښېنې
له ادبه درته نه وایم چه مه څه | ښایسته پخپله ځی، پخپله کښېنې
هوډیالی دی چه ئې کښېنوم وَلاړ شی | چه په وخت دَ ناستی وایم څمله کښېنې

له وصاله دِ محروم عبدالقادر شه
که بې تا ئې په زړه مینه بله کښېنې

دا څه خوی دَی ښایسته وُ عادت ستاسی | چه همیش وِی له عاشقه شدت ستاسی
سرومال ښندَل زینت دَ عاشقانو | عنایت، مهر، نمنځه زینت ستاسی
نتیجه ئې نور څه هیڅ نه وی بې سوزه | په معنی کښ لکه اور دَی قریب ستاسی
چه پتنګ غُندی ځان وسوځی ایرې شی | هم هغو ته میسر دَی وصلت ستاسی
دَ حرفونو لوښی تنګ معنی وِی ډیره | په بیان نه ادا کیږی صفت ستاسی
ګل څه خاروخس به هم خوشبوئی مومی | که نسیم په سحرا وړی نګهت ستاسی
چه شاعر ئې له څه څیز سَره تشبیه کا | هومره ندی نزاکت لطافت ستاسی
ترحم ئې په احوال څه خو بایده دی | چه وَلاړ دِی شپه او ورځ په خدمت ستاسی

کله توان عبدالقادر لَری دَ شعر
وَیوِی می هومره ډیر محبت ستاسی

حقیقت دَ عشق په خوله ویَلَی نشی | دغه اور بې دله نور سهلی نشی
هسی دروند وری دِ بار په ما ضعیف کړ | چه اسمان ورته خپل ځان نیولی نشی
درسته شپه نارې وهم دَ یار له درده | همسایه می په شپه خوب کوَلی نشی
دَ زړه مست لَره دَ زلفو زنځیر بویه | په اوسپنین زنځیر دا مست تړلی نشی
پدا باغ کښ ډیر ګلُونه شګفته شوه | پکښ یَو دَ یار په رنګ لیدلَی نشی
ما دَ یار دَ مخ په باغ کښ دَی لیدلی | چا وې دا چه تور نرګس موندلَی نشی

په هر دم عبدالقادر هسی پیالې څښی
چه یَو ګوټ ئې کائنات زغملی نشی

چه فراق کښ دَ ګلونو چه ګلزار ځی | دَ بلبل تر خوله به تل نارې چیغار ځی
دَ وداع په وخت ګرم نه یم که فریاد کړم | روح له تنه آسان نه درومی دشوار ځی
په فراق دَ یار دَ سرو شونډُو مَی رنګو | سرې سرې اوښی می له سترګو په رخسار ځی

پہ دوو سترگو می تیارہ شوہ نپوهیږم   چہ می دُوند[1] دَ سترگو شہ کہ نگار ځی
حال لہ ډیرہ غریوہ هیڅ ویَلی نشم   خو هم هسی ډکہ خوا لہ یارہ یار ځی
پہ ورو ورو دِ جدایئ مرگ تہ نژدې کړم   لکہ ساہ چہ لہ صورتہ پہ وار وار ځی
دَ عشق اور دَ سوختگانو پہ زړہ لگی   پہ سوختہ تر نور ځہ ژر شرر دَ نار ځی
پوخ استاد بویہ چہ زلفی دَ یار نیسی   دَ ناقص پاړُو دم کلہ پہ تور مار ځی
ستا دَ آہ لوخړی دِی عبدالقادرہ
لړی ندی چہ پہ غرہ وکړہ[2] مار ځی

دا ځہ اور دَی نپوهیږم چہ پہ زړہ ځما بلیږی   دا سیلاب لہ کومہ راغَی، چی تر سترگو می چلیږی
نن ځما دَ زړہ پہ ښهر کښ نارې دِی نہ پوهیږم   چہ می روح لہ تنہ درومی کہ اشنا لہ ما بیلیږی
ځہ پوښتَنہ کړې لہ ما نہ چہ دَ زړہ احوال دِ ځہ دی   پہ مثال لکہ ماهی دَی چہ پہ تیلو کښ تلیږی
دَ ښہ مخ صفت هیڅا لکہ ئې حق دَی ادا نکړ   واصفان ئې همہ واړہ دَ هلک غُندِی للیږی
ځکہ هسی رنگ بې قدرہ صبا ور پہ ور جاروزی   چہ پہ چم دَ دلبر راشی ترې گذر کاندی تیریږی
فریادونہ کړہ بلبلی وینی ژاړہ ځو پہ تا شی   دَ اهاړ سیلئ راغلې دَ گل پاڼہ بہ تپلیږی[3]
د غم شپہ دِ پہ سبا بدلہ شوہ عبدالقادرہ
چہ جبین ئې لکہ نمر تر وربل لاندی در ځلیږی[4]

محبت پہ تور پہ سپین راغلی ندی   پہ اصیل او پہ کمین راغلی ندی
سل سالہ مؤمن کافر، کافر مؤمن کا   پہ مذهب پہ کیش پہ دین راغلی ندی
عشق عطا دہ ازلی چہ پہ چا وشی   پہ ارشاد او پہ تلقین راغلی ندی
بیهودہ پہ عشق کښ خواست کَوِی د صبر   د دې خواست هرگز آمین راغلی ندی
پہ راتلہ ئې ښایستہ دَ مځکی مخ شہ   پدا شان ځوک پہ زمین راغلی ندی
پہ دکان دَ عطار هونبرہ خلق پند دی   ځو پہ زلفو عنبرین راغلی ندی
نہ تنها عبدالقادر لتا زړہ خوږین وړی
ځوک لتا چہ پہ زړہ خوږین راغلی ندی

نہ پوهیږم چہ پہ ځہ دِ زړہ آزار دی   چہ دا هسی خپل پردَی لہ ما نہ زار دی
چہ دَ زړہ جفا ئې وړم ورباندی سپك شوم   گڼہ کوم سړی لہ ما نہ وفا دار دی

---

۱. دَ دال پہ پیښ یعنی تاریکی او تیارہ.

۲. پہ مردان کښ د یو غر نوم.

۳. تپیږی.

۴. چہ جبین ئې لکہ نمر تر تور وربل درتہ ځلیږی

وئي نن به ازمايش کَوم دَ نورو[1] ښه حاضر ځواب مى کړ بنده تيار دى
له پتنگه محبت دَ شمع ډير دى چه اول ئي په زړه بَل دَ مينى نار دى
په رشتيا وَيل دلگير په دروغ خوښ وى هميشه دَ منافق سړى دا کار دى
عاقل ځکه مقام نکا ترې تيرېږى دنيا پل دَ آخرت دارالقرار دى
ننداره مى دَ جهان دَ چمن وکړه په هر دم په چا خزان په چا بهار دى
هيڅ پروا نکړم له چا عبدالقادره
په ښکاره نارې وهم فلانه مى يار دى

څه په سيل دَ باغ لاړ نه يې چه راشې چه مى وويني له ورايه په خندا شې
زه له شوقه استقبال ته در روان شم ته له ما غاړه غړيه خوا په خوا شې
رنگارنگ دَ باغ ميوې گلونه راوړې ماجرا دَ تلو راتلو وائې گويا شې
که په زړه باندِى مى غم دَ اندوه پروت وى په نفس ئې تار په تارکړې غم ربا شې
زه دِ درسته شپه ځير ځير و مخ ته گورم ته ناظر و خپلو پښو ته له حيا شې
چه خوب درشى سر ځما په زنگون کښيږدې دَ غنچې غنُدى اوده په غيږ ځما شې
زه دِ مخ ته کاته کړم په ورځ ورځ ژاړم چه آخر به يَوه ورځ له ما جدا شې
ځما اوښکى په رخسار د تا پريوزى ويښ له خوبه لکه گل په شبنم بيا شې
په رويمال مى اوښکى وچى کړې ډاډ راکړې زه فرياد کړم ته ځما په دلاسا شې
ټينگوې ژړا ځما دَ زړه دَپاره چه غريو زور در باندِى وکا په ژړا شې
زه تر تا لمړى مرگ غواړم ته تر ما نه زه وتا ته، ته و ما ته په دعا شې
هسى ملک لره ځما مَيَنه لاړې چه به کله لا په خوب کښ را نما شې[2]
وى به کله دا ساعت عبدالقادره[3]
چه له ياره مشرف په وصال بيا شې

لکه زه په يار مفتون يَم، بل به نه وِى مفتون هسى لکه زه پسى محزون يم، بل به نه وِى محزون هسى
پرون غيږ په غيږ له ياره نن تر منځ ليرى ملکونه دا انصاف دَ زمانې دَى چه نن هسى پرون هسى
په قيامت به هم په هوښ دَ محبت ليونَى نشى چه به روغ شم بې ديدنه ځما ندى جنون هسى
خط پر مخ دَ دلبر راغَى شور دَ زړه په ښهر گډ شو چه د حسن بادشاه ليږدى د دې خط دَى مضمون هسى
آئينه دَ خپل زنگون و ما ته جام جهان نما شوه ځکه سر لَرم تل ينبى دَ فکرت په زنگون هسى
په کاته دَ سترگو زړه وړى په خبرو ځنى صبر دَ جهان په مخ به نه وِى هسى سحر افسون هسى

---

۱. په نورو.
۲. لا عجب چه به په خوب کښ
۳. مگر فضل دَ خداى وِى عبدالقادره

دَ دنیا په دښمنی کښ عیسی وخوت و اسمان ته په دوستی کښ ئې لا ځی تحت الثریٰ ته قارون هسی
دَ ژوندون فایده دا ده چه لیده کَوِی دَ کښلیو چه ئې دا فائده نه وِی، مرگ بهتر تر ژوندون هسی
دا غزل چه په پښتو ژبه بیان عبدالقادر کړه
دروغجن یم که بې خانه وایی بَل یَو پښتون هسی

که په حسن نه دِی دا کښلی ملوکی ترو ئې ولی هوری حوری شوې مملوکی
دَ عاشق تر زړه ئې ویستې منگلی دواړه سترگی ئې شاهین بانړه ئې نوکی
دَ بیلتون له درده هیڅ سړی خلاص ندی څوک په ورو ورو اشنا ژاړی څوک په کوکی
دَ فراق په نیزو زړه سوری سوری شو چه ښکاره ئې کړې ویښتو تر زنی څوکی
چه ئې ونه میانه څموږِ دلبر ده و نور خلقو وته پریښې لنډی بوکی
په جفا ئې صبر کړه عبدالقادره
په جهان کښ کښلی نشته ښې سلوکی

ما هر گز په درست جهان کښ نوری سترگی لکه ستا لیدَلی ندی توری سترگی
بیهوده په غزاله وُ پسې گرزې! ځما یار لَره راځه که گورې سترگی
چه فایده ئې دَ ښه مخ لیدلې نه وِی دَ هغو سړیو ښې دی کوری سترگی
نه دِ شرم شی له پیره نه له میره ستا په درد به دَ چا نه وِی سپوری سترگی
ثوابت ئې تر نظره سیاره شِی چه ئې سر وِی گرزیدلی توری سترگی[1]
چه جهان می ئې په سترگو لیده ولاړ شو نور می خدای کړه له عالمه پوری سترگی
په دیو سترگو به ئې ځیر عبدالقادره
نکړې نوری پخپل مخ کړه پوری سترگی

اې په حسن تر همه کښلیو اولی بیا دِ واخستې ناسازی په لاس ولی؟
په وار وار دَ ډیرو زلفو دَور تیر شو ستا په مخ به تل پرتې نه وِی ول ولی
دا سبق چه تل له یار سره جفا کړې راته وُوایه له کومه ملا لولې؟
دَ عشق سر دِ سلامت وِی کښلی ډیر دی چه سر وِی، په جهان لږِ ندی خولیَ
در پوهیږم په خبرو می تیر باسې چه وَیَلِی شی دا هسی مطولی
لا دَ عشق اومی لری عبدالقادره
چه دَ یار دَ جفا زار کوې یا نخولی

---

۰۱ چه سړی وِی گرزیدلی توری سترگی

نن سحر سبا نارې وکړې بلبلی | دَ بهار زیری کاوه یوې په بلی
دې وې زیرَی می دربا‌ندی خزان تیر شو | بهار راغَی پاڼې ونیولې ولی
وار دَ غم دَ محنت تیر شو خوشحالی کړه | دَ غمجنو غنُدِی څه ننَوتلې!
اوس را درومه چه په گلو باندی گنبت کړو | لور په لور دَ گل غوټې دی غوړیدلی
ویې تا دَ بهار غم لیدلَی ندَی | هم بهار په ما لمبې ولگوَلې
دَ خزان دَ بهار ورځی راته یَو شوې | چه می دواړه تیریدونی وگڼلې
له دې ورُوسته به پسرلَی په ځان خزان کړم | دَ خزان خوښۍ می زیاتی وَلیدلې
خوشحالی به لکه زهر در ښکاره شی | که دَ غم پیالې دِ یَو ځلی وڅښلې
نصیحت عبدالقادره ځنی واخله
دا وینا بلبلو تا وته وَیلې

خود کرده به ماڼه کا له نورُو ولی | ده پخپله پخپل ځان کړې لمبې بلی
که مقصود ته رسیده په عنایت شی | ولی نه بویه سستی له سعی ځلی
یَو زه نه یم چه فریاد کړم ستا له جوره | ستا له جوره دَ عالم سینې دِی جلی
دَ عاشق کمال سوځل دِی ډیر ښه وشول | چه پتنگ دَ عشق په اور شو جلی بلی
په وصال ئې یا نصیب څوک مشرف شِی | دَ وگړی پسی وختلې تلی
شیخه نور څما توبه یاری به نکړم | په دعا وُ که یار بیا مومم دا ځلی
دَ موندو وسواس ئې مکوَه طالبه | که دِ پبنې دَ طلب ندِی دواړه شلی
په دوه کَونه به سرلور عبدالقادر شی
که ئې وینی شِی دَ یار له لاسه تلی

چه وباسی له خاطره نوری باتی | هم هغه به ئې مخ کا سترگی لواتی
چه ئې نه په نورو خوری نه ئې پځان خوری | عاقبت شی دَ هغو خونی میراتی
ربه مرگ دَ خاکسارانو عُندی راکړې | چه وارث ته می سپیرې ایرې شی پاتی
تابیانو بیا توبې کړې چه دلبری | توری زلفی په سپین مخ کړې ماتی ماتی
د هر څیز رجوع و خپل اصل ته کیږی | څکه درومی و بدذات لَره بدذاتی
منی نه شی په درگاه د دلربانو
که ورځی عبدالقادر په ننواتی

اې له سترگو بیارته، هر زمان زړه ته حاضری | نه لتا زه لیری یم، نه ته لمانه لیری
قراری آرام ئې ورک شِی تل تر تله | چه په زړه ئې ستا دَ غم شیتیٔ شی سَرِی
شونډِی ستا لکه نبات هسی خوږې دِی | تریخ وَیَل ځنی نه ښایی لب شکری
که می سیخ په سترگو ښخ کا خدای دِ نکا | چه به سترگی کړم لتا نه لری بری

دَ ښو سیوره دِ خار په ښو څرخیږی — له حیا چه کوز کوز گورې ناز پروری
دَ خطا دَ ملک نافې واړه خجل شی — باد چه ستا دَ زلفو خپور شی معنبری
وچ لانده عبدالقادر دَ جهان پرینښول
ورته بس دی وچی شونډی سترگی تری

لا دِ یَو مانې زوړ نه وی نَوی بیا کړې — څه ئې غم لَره ځما سَره آشنا کړې
یَو زمان را سَره نه یې بې جفا نه — په هر دم را سره سل رنگه جفا کړې
نه دِ ویره شی له آهه نه شرمیږې — په هر څه چه زه پخیږم هغه لا کړې
له اغیاره سَره ناست یې په مجلس کښې — چه ما وَوینې روان شې راته شا کړې
وایم مه خانده بل چا سره زه سوځم — ته ځما له کسته لا زیاته خندا کړې
هم می خوږ په تیره تیغ دَ تغافل کړې — بیا وَیَل کړې له نا خواله چه خوږ چا کړې
په ترخه وَیل می کله زړگی ښه کړه — که په ښو خوږو خبرُو عار له ما کړې
چه په ژمنه دَ راتللو دروغجن یې — دا دَ راتلو وعده ولی رشتیا کړې
بې تا نه وینم په سترگو لا به کله — په لیدو ځما ړندې سترگی بینا کړې
یَو ځل راشه ځما خوار کرَه میلمه شه — چه په راغله می دَ غم خونه رڼا کړې
چه دَ مینی دعوا کړې عبدالقادره
بویه دا چه ترکه خپله مدعا کړې

زه که په رنگ بد یم کښلیه عار ولی له ما کرې — چاری دَ قسمت دِی زه ئې زشت ته ئې زیبا کړې
یَو ځله بیا راشه په گلونو گذر وکړه — اې دَ صبا باده چه بیا نغښتې غنچه وا کړې
گل دِ په هجران کښې سل پاره خپله ټټر کړه — سرې دِ له فراقه لاله سترگی په ژړا کړې
ولی له شیدا بلبلی، مخ جار باسې گله! — ته پدا خوبیِ هم دَ ده نارو رسوا کړې
لا خوشبوئی ورکا، عود چه واچوې واورته — زه به وفا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته دَ حسن نمر یې دا نور کښلی لکه ستوری — کل به کالعدم شِی که ښکاره خپله لقا کړې
تل لباسی وایې، دروغجن عبدالقادر ته
کشکی بل تر ده نه مخلص یار چیری پیدا کړې

بیا دِ زلفی په فلیلو سَره تر کړې — کوم نیکبخت وِی چه په غیږ ئې معطر کړې
لږ نظر می په حال کړه ذره مثال یم — پدا شکر چه ئې ته دَ حسن نمر کړې
باده گرز ئې دَ کوځې را لَره راوړه — چه محلت می په عنبرُو معنبر کړې
شکر خدای له چه ئې ته سر کړې دَ کښلیو — بیا له پسه ئې ځما دَ زړگی سر کړې
بوی به ستا دَ محبت ځنی روان شِی — که پاره می دَ نافې په دود ټټر کړې
په نازکو شونډو بار دَ پانو مږده — خدای چه شونډی تا ته سرې بې پانو درکړې

صنوبر غُندی پرې زړُونه آویزاند شول
په ښه قد ئې په مثال دَ صنوبر کړې
سره هاله یې سودمن عبدالقادر ته
که په تور دَ محبت ئې چرته ورکړې

لا به کله باران وکړې، چه به سوی بوټی شنه کړې
ستا وَ رحم وته گوری، په کریابو رحم وکړې!
په درگاه درته پراته دی، هم لتا نه په غوښته دی
ستا وَ داد ته ئې کاته دِی، پخپل داد ئې زړُونه ښه کړې
نامراد که په مراد وِی، که ښادمن وِی که ناښاد وِی
واړه تا ته په فریاد دِی، دَ هموُ زیرمه ته کړې
مسلمان که کافران دی، عاصیان که مطیعان دِی:
رزق خوړونی ستا دَ خوان دَی، رزق له هیچا دریغ نکړې
زیږوې چه اور له خسه، ورځ پیدا دَ شپې له نسه
ښکاره شهد له مگسه، په قدرت وینی شوده کړې
چه په چا نشی پټا شی، چه په تا کیږِی په چا شِی؟
په حیرت ورته دانا شی، ربه هسی رنگه کړه کړې
زه عبدالقادر بد کار یم، معصیت کړم گنه گار یم
بیا لتا نه امید وار یم، پخپل فضل می زړه ښه کړې[1]

ته چه دواړه سترگی توری په کجل کړې
توری سترگی دَ کشمیر واړه خجل کړې
دَ چوړا آواز دِ لا عقل ربای دی
څه حاجت چه په داریا کښ جلاجل کړې
خاوری شوی گلرخان می زړه را یاد کا
نن نارې دَ نو بهار په گلو جل کړې[2]
گله کشکی پدا با غ راغلی نه وی
ځما زړه به دَ فراق په لمبو جل کړې
لکه څوک دَ لاله زار په سیل درومی
وسره اور ته به درځم که ئې بورجل کړې
دَ هوا لړی دِ پریوتې په سترگو
چه په هسی سَمَه لار کښ ئې ارجل لړې
هَره ورځ عبدالقادره نصیحت کا
که ته غوږ په وعظ کړونیو دَ اجل کړې

چه یَو ځل ئې دَ غمزې په تیغ زخمی کړې
له احواله دې بیا ولی بې غمی کړې
ستا په راغله می دَ خوږ زړگی روغتیا شی
په خالی راتلَنه هسی بې رحمی کړې
یَوه ورځ به دِ زړه تور کاندی له ما نه
چه غماز سَره دا هسی محرمی کړې
ځما زړه لکه غمی وُ دَ یاقوتو
دَ ازل نقاش ته لیک پدا غمی کړې
شیخه درغلم سرې شونډی سترگی توری
راته څو دَ پارسایئ محکمی کړې
په هر دم دِ منت بار یم دَ یار غمه
چه له دم سَره می هسی همدمی کړې
ته رشتینې ئې هاله عبدالقادره!
که په عشق کښ می اختیاره بدنامی کړې

---

۱. می ښه زړه کړې.

۲. په دې بیت کښ جَل د یوه ښه ږَغی مرغه نوم دَی په دوهم بیت کښ جَل یعنی سَوی.

دا چه نور ښایسته ما ته یادَوې
در پوهیږم بیا ستم بنیادَوې
بې له دې چه مدعی یم ستا دَ مینی
نور به کوُم گناه و ما ته زبادَوې
چیری نه وِی چه ما هم در سره خلاص کړې
چا وې نن چه خپل بندیان آزادَوې
انتظار ئې دَ ښادیٔ اندوه دوتا کړ
لا به کله اندوهگین دَلښادَوې
چه آخر ئې بیا هم ته په مځکه توی کړې
باده گل دَ چمن ولی کشادَوې
په خالی فریاد به هیڅوک فرهاد نشِی
تر ځان تیر شه که خپل ځان فرهادَوې
چه خبر په حقیقت دَ علم نه ئې!
په لږ علم ځکه ځان اوستادَوې
لږ جحاب عبدلقادر ته دَ مخ واخله
که بنیاد ئې دَ هستیٔ بربادَوې

چه دا هسی رنگ په نغته دَ خپل نَس شوې
ځکه بند دَ غافلیٔ په قفس شوې
شاه بازان په دغه جال کښیوتی نشِی
دَ غټې په جالو بند لکه مگس شوې
چه هوا دِ غورزَوِی هورې ته درومې
بې وقاره په څو سپک تر خاورُو خس شوې
که په اور دَ محبت خپسره وسوې
له غه پسه به ژوندَی لکه ککنس شوې
چه دِ وپوښتی څوک هاله څه ووایه
بې هنگامه ویاند څه لکه جرس شوې
که وړاندی غواړې ځان کم گڼه تر بله
هم به هاله پیښی بیا مومې که پس شوې
چه اسره دِ وُکسان هاله دِ غم وُ
هوَس کړه عبدالقادره چه بیکس شوې

ربه ستا قدرت کمال دَی که کرم کړې
وران کارونه می به ساز په یَوَه دم کړې
څه یم زه، څه می مقصود څه ځما کار دی
په زمان پوره کارُونه دَ عالم کړې
لکه غر په سر ئې ږدی لکه خس اخلی
سپک درانه کارُونه واړه سره سم کړې
دَ همه چارو اسباب درته موجود دی
شاه گدای، بادشاه گدای دَ لوی حشم کړې
په قدرت هسی نور یو سې له آفتابه
ستوری وبریښی غرمه جهان تور تم کړې
ډیر ښادمن په عشرت درسته شپه کارُونه
په سبا ئې دَ عشرت په ځای ماتم کړې
شپه له ورځی را پیدا کړې ورځ له شپې نه
و مرده ته ورکړې دم ژوندَی بې دم کړې

حال می تا وته معلوم دَی ته می وینې
چه ژوندون می دَی دَ خپل میَیَن په مینی
عشق می ځای په رگ او پلو کښ ځما وینو
ترې به ووَزی هاله، چه ووزی وینی
دا زهوب ځما دَ زړه له داغه درومی
که می سرې اوښی له سترگو څِی که سپینی
چه دنَنه زړه ئې خوږ شی زړه مې خوږ شی
چه خبر به شې ځما له سینې خوږینی
چه صفت دَ کوثر کاندی رنځوران دی
ستا له خولې لاړی تر هر څه دِی شیرینی

ملوکان ئې هيڅ له قدره خبر نشول تر ململ دی، عباری جامې مهينی
په کوږ کوږ کاته ئې شيخه غلط مشه سل فتنې لَرِی لا سترگی شرمگينی
دَ نگاه په تيغ دِ غُڅ عبدالقادر کړ
پرې مرهم دَ شونډو کښيږده زړه سنگينی

چه په واړه کښليو بَر دی هم هغه څما دلبر دی
برخوردار به څنی ډير شی سر تر پايه واړه بَر دَی
مخ ئې بر شونډِی ئې لعل قد ئې سبر سمنبر دی
چه قانع په خشک و تر شی هغه شاه دَ بحرو بر دی
چه په بدو باندِی ښه کا
هغه وگړه چه بر دی

پښتانه کوته انديش دی سود غليم ته زيان دَ خويش دی
نوشدارو پکښې ناياب دی واړه زهر، واړه نيش دی
حريصان، طالع، سترگ وړِی په بدخوی مالگه دَ ريش دی
ملکان ئې آدم کش دی کفر کشی کا چه درويش دی
پير مرشد ئې جهالت دی
نه په دين دی نه په کيش دی

اشتياق دَ ليدو ډير دی دَ بيان تر حده تير دی
دا گمان کړه له زړه ليری چه می يار له دله هير دی
زړه می غوڅ کا صورت روغ دی دَ هجران عجب شمشير دی
که ژوندُون تر هر څه خوږ دی په ما زهر يا گندير دی
هوس نه پريږدِی چه ورشی دَ غم کوټ تر زړه چاپير دی
کشمير هم په مهجورانو رنتهبور او گوالير دی
دَ زړه سوِی دَی چه بې ياره
په کرک يا په بونير دی

که هر څو ئې دَ دنيا دولت ډيريږی څه په کار چه بقا نلَری تيريږی
بادشاهی دَ اورنگ زيب و آزاده ته څه تل نه وی په خسرِی نه پيريږی
چه يَو دم می له خاطره جدا نه وه دم په دم می اوس هغه ياران هيريږی
عجيب وار دَ ناپوهئِ دَ ځوانئِ وُ په سرِو گرمی اوس دواړه ازمائيږی
تللی عمر هر گز نه راځی په بيارته که دَ اوُښکو په ځای تل وينی بهيږی

دَ باڼو ناوک ئې هسی په ځان لک دی   چه ئې زخم په دارو وُ نه رغیږی
که هغه وارؤ که دا عبدالقادره
ننداره کوَه چه څه رنګه تیریږی

دَ اجل راتله سرِی ته بَغتَةً دی   ناګهانه بیلیدل دَ روح او تن دی
ګنُدی وی چه سره بیا په یَوه ځای شو   په هغو زموږ سلام چه په وطن دی
په سبا به ئې باد ګوره چرته یو سِی   دا ګلوُنه چه نن ورځ په شګفتن دی
دا خندا ژړا می خوی دَ لیونی دی   چه هوښیار دِی همیشه په ګریستن دی
هر ګدای چه آزاده وِی تر قربان شه   بادشاهان دَ روم دَ هند که دَ ختن دی
ماتَول دَ بت آسان دی مردان کوُم دی   چه مشغول دَ خپل وجود په شکستن دی
نن نسیم عبدالقادر ته سحر وَوې
بوی ئې واخله دا ګلوُنه په رفتن دی

چو زلف عنبرین را پیچ و خم کردی کرم کردی   دلم را از سر نو بند غم کردی کرم کردی
چو بکشودی نقاب از رخ نمودی عارض زیبا   شب اندوه ما را صحبدم کردی کرم کردی
بحمدالله چو قتلم را بدیگر کس نفرمودی   سرم را چون بدست خود قلم کردی کرم کردی
بروی عاشقان زار عمرت در فزون بادا   جفاها ګفتی و جور و ستم کردی کرم کردی
سراسر محنت و غم بود در ملک وجود ما
چو بازم ساکن ملک عدم کردی کرم کردی

دَ زړګی می له اندوهه څه اندوه دی   په سیلئ جنبش دَ کاه شی نه دَ کوه دی
خالی لاس وته او زړه ئې ډک له مینی   بې پیونده آزاده عجب ګروه دی
دَ فقیر له غمه څه چه غمجن اوسی   په زړګی دَ دنیا دارُو غم انبوه دی
چه خبر ئې شی له مکره ځنی تنبتی   دَ دنیا یاری یاری مګڼه دروه دی[1]

۱.   مقطع نلَری.

(٢)

رباعيات

رباعیات

(الف)

(۱)
زړه می له رشکه هر گوره درد کا   چه کږې چاری فلک کچ گرد کا
ځوانمردان ناست وی آهونه سرد کا   ذوق او هوس دَ دنیا نامرد کا

(۲)
په ډېر هوس ئې سره آشنا کا   په درد او دوک ئې ځبله جدا کا
چه دا احوال دَی پدا دنیا کښ   څوک به څه مینه دَ زړه په چا کا

(۳)
سړی هر گوره طمع دراز کا   چه روته نه رسی، هسی آغاز کا
په څلویښت کاله کم زیات چینی شی   پلار ئې خمیر کا، نمسی ئې ساز کا

(٤)
چه په نابوده دنیا اعتبار کا   دَ پښیمانئ ژړا بار بار کا
چه لږ غبار دې په خاطر نه پسندی   هغه به خاوری په تا انبار کا

(٥)
ساقی را پاڅه گل غوړیدَنه کا   لغړه ونه به بهار ژر گڼه کا
که روکه نه وی چه شراب راوړې   صوفی به خپله خرقه گهنړه[1] کا

(٦)
که مځکه خپله گیډه پاره کا   حال دَ نغړلیو ورته ښکاره کا
خوب او خوراک به له خلقه ولاړ شی   تمام جهان به یَوه ناره کا

(۷)
ذکر هغه دَی چه ذاکر فرد کا   دننه زړه ئې ذکر په درد کا
که مَی دَ ذکر باندِی غالب شی   دواړه جهانه ورباندی سرد کا

(۸)
نن کانده چرخ عجب سانگونه کا   چرگان ککړی چرگی بانگونه کا
له مستئ واز دی تر وړی گیدړ نه خوری   لوړی په غاښ مزری پړانگونه کا

---

۱. زیور.

(۹)

ناراسته ښځه غنم اوربشی کا | لا تر بیځانکیو[۱] اوربشی تشی کا
پیشو ترې پی ځتی دا ورته گوری | هومره پرې نشی چه پیشو پیشی کا

(۱۰)

هوښیار چه ناست وی ناپوه خبری کا | سپی دی ټمیږی څوک دې کوری کا
چه څوک ئې نه پوښتی خاموش دِ اوسی | که هر څو توئی دَ خولې شکری کا

(ت)

(۱۱)

مکړه هیڅا ته گله له بختَ | مراد نه مومی هیڅوک بې وختَ
شکر وگاږه په هر احوال کښ | بلا ئې لا ده تر بلا سختَ

(د)

(۱۲)

ستا په دوران کښ اې بې بنیادَ | نامراد بهتر دَی تر بامرادَ
په خندا ورکړې، په ژړا واخلې | ځموږ توبه شه له هسی دادَ

(۱۳)

اې د بې زادو دَ لاری زادَ | دَ نامرادو دَ زړونو مرادَا!
محتاج می مکړه دَ بل وَ ورته | راکړه و ما ته له خپله دادَ

(۱٤)

اې چه په مخ وړې خوبی له وردَ | خالی یَو دم نه یم د تا له دردَ
ته بې آسیبه، بهی سیب اوسې | که تر نارنج می چهره ده زردَ

(ر)

(۱۵)

چه بې تا پایم بیل شویه یارَا! | ژوندون هر گور دَی په ما دشوارَ
ډیر به په غم کښ دَ اشنا مړه وُ | که سړی مړلَی بې خپله وارَ

(۱٦)

څه زده بې نیازو د تا په قدر | سپی لا غپا کا چه میاشت شی بدر
که کښلی واړه لکه گلونه شی | ته دِ گلاب یې، نور کل دَ بدر[۲]

---

۱. دا کلمه کټ مټ ولیکله سوه.

۲. په پښتو کښ و چنار ته وایی.

(۱۷)

په چا چه مهر کړې په چا چه قهر　　زهر پازهر کړې، پازهر زهر
بحرو برد واړه د تا په حکم دی　　په بټ ئې لار کړې، په بط ئې نهر

(ز)

(۱۸)

په زړه مزريه په سترگو بازَ　　له نازه ډکه خالی له نیازَ
تر تا لا کښلی فلک بدرنگ کړه　　زنهار پخپله خوبی مه نازَ!

(ش)

(۱۹)

درد دِ مه وینم ساقی مهوشَ　　په شونډو میه په مخ آتشَ
له خاصه خُمه خاص مَی را نوش کړه　　زړگی می خلاص کړه له غل و غشَ

(ښ)

(۲۰)

ښکاریږِی تا ته دنیا په سخ کښ　　څو څو بناوی لرې په مخ کښ
په کاڼی وکا، اثر خبره　　تأثیر هیڅ نکا په ساړه سمخ کښ

(ع)

(۲۱)

ځوانمرد هغه دَی چه لکه شمع　　دَ ځان په سولو مجلس کا جمع
دَ بل دَپاره که په خندا وِی　　په مخ ئې درومی باران دَ دمع

(ل)

(۲۲)

سپین می دَ ږیری په تورُو زور شول　　زړونه دَ کښلیو را ځنی تور شول
چه په ځوانی کښ ځما په فخر شه　　هغه کارُونه می اوس پیغور شول

(۲۳)

هر چه له ځانه سَره ښه می لیدَل　　زویه که ورونه واړه می ولیدل
ښه په هیچا نشی نفسا نفسی ده　　ما خپل بې خدایه هیڅوک و نه لیدل

(م)

(٢٤)

ځکه له درده ځبله ښورم　　باران دَ وینو له سترگو وورم
وار می دَ کښلیو دَ لیدو تیر شه　　چه خال و خط ئې په لیمو گورم

(٢٥)

زه پخپل ملک خو یَو خپل زړه لَرم　　هم هغه مات دَی چه روغ ئې نه لَرم
که دِ پکار دَی درته پیښکښ دی　　دریغ ئې خدای مکړه چه له تا زه لَرم

(٢٦)

دَ یار له غمه خالی یَو دم نه یم　　هیڅ ساعت نشته چه په ماتم نه یم
په زړه می زخم په زخم کیږی　　که آه فریاد کړم و گړیه گرَم نه یم

(٢٧)

الله می رب دَی زه ئې مربوب یم　　بنده دَ ده یم که خوب ناخوب یم
غرق په اوبو کښ کله اوبه وینی　　نعمت ئې نه وینم په نعمت ډُوب یم

(٢٨)

په څو به یاره له تا نه صبر کړم　　یا می به یار شې یا به ځای قبر کړم
عشق می په مثل دَ خونی ببر دی　　زړه تا په خوله کښ دَ خونی ببر کړم

(٢٩)

زوړ کړم غمونو دَ اشنا زوړ کړم　　له کل هوَسه ئې دَ دنیا سوړ کړم
څو څو تاوُنه را باندی تیر شول　　نَو می ئې وچ کړ، هجران نخوړ کړم

(٣٠)

زه هسی نه وایم چه نیکو کار یم　　شیخ یم، عالم یم، یا پرهیزگار یم
ته په ویَلو ځما ځان پاک کړه　　زه که ناپاک یم کنده مردار یم

(٣١)

بد یم دا نه وایم چه زه ښاغلی یم　　په مرَیی والی د تا داغلی یم
مرگ می قبول دَی شَړل دِ نه وی　　تښتی بنده یم درته راغلی یم

(٣٢)

که نور څه ندی چه مریَی ستا نومم　　بس دَی و ما ته، چیری لتا درومم
ته به ځما غُندی مریُونه ډیر مومې　　کله به تا غُندِی څښتن زه بیا مومم

(٣٣)

که هر څو خوړ یم دردمن په زړه یم　　قوت می لږ دَی، دَ ځواب نه یم
چه یار می وپوښتی وایه څه حال لرې　　ځواب ئې ورکړم، وایم چه ښه یم

(۳٤)

دَ یار له غمه په زړه افگار یم   له غمه څه وایم، دردمن یم خوار یم
په زړه دردمن یم، هر گور بیمار یم   افگار یم، خوار یم، بیمار یم، زار یم

(۳٥)

خلقو گرم نه یم، که وینی وورم   شپه ورځ له درده و بله ښورم
محروم له کښلیو له ندارو شوم   چه سترگی کښیږدم خال و خط گورم[1]

(۳٦)

که مینی گول کړم عالم نه پیژنم   بیا تر عالمه آشنا ښه پیژنم
دا آشنا ندی دَ آشنا رنگ لری   که آشنا راشی آشنا زه پیژنم

(و)

(۳۷)

دَ جدایئ مدت دِ ډیر شو   زیات تر حسابه تر شماره تیر شو
هیر شی له دله چه ولاړ له سترگو شی   نوم می دِ یاد دَی، رنگ می دِ هیر شو

(۳۸)

چه باوجود دَ پیرئ مرید شو   صدیقؓ تر نورو ځکه مزید شو
عمر ئې تیر کړ په عبادت کښ   په لږگی کبر ابلیس مرَید شو

(۳۹)

دَ غم لښکر می تر زړه چاپیر شو   خلاصی می نشی اوس پکښ گیر شو
سرای دَ غمونو دَی څه شو که یَو ځل   دَ خوشحالئ کاروان پرې تیر شو

(٤۰)

چه تنکئ لښته وې وخت دَ نمای وُ   هر حرکت دِ ځما په رای وُ
چه ښاخ شوې شوخ شوې تبر ترښځ غواړې   محنت می واړه ضائع بې ځای وُ

(٤۱)

په اَورادونو دَ څلور قلو   غواړم له خدایه فرصت دَ گلو
صحت دَ ځان دَ یارانو واړه   کښلې دلبره، ښیښه دَ ملو

(٤۲)

صد دِ وُوینم په سترگو تورو   په خوله ځما یې، په زړه دَ نورو
غوږ دِ په نورو یارانو وخوړل   زه دِ غلط کړم په کیسو سپورو

۱. چه چشمې کښیږدم.

(٤٣)

حسد په زړه کښ دَ بې حسدو — اور دَی ترې بویه حذر بخردو
چه له مقبولو سَرَه دښنی کا — هغه سړی دَی په شمار دَ ردو

(٤٤)

فخر لوئی کا، خلق په بدو — په بد خصلت شول بتر تر ددو
رد شول رسمؤنه کا شرع ئې پریښوه — ربه ما مکړې په شمار دَ ردو

(٤٥)

بندی په تار یم دَ دوو زلفینو — مست ئې په جام یم دَ دوو عینینو
دَ طهور مَی به، باندِې ترخه لګی — نوش ئې چه مَی کړل دَ شفتینو

(٤٦)

لاړم و باغ ته په نیت دَ ګاو — دَ پریکولو، آواز بلبلو:
وکړ دستې می له لاسه پریوتې — هسی رنګ مست شوم لکه په ملو

(٤٧)

ژبه عادت کړه په ښو خبرو — خبری ښې دِی، ښې تر شکرو
دَ خوند مثال ئې شکری وایم — قدر ئې ډیر دَی تر مرغلرو

(٤٨)

نسیم چه راوړ دَ باغ په ګلو — بوی دَ دلبرو دَ ښو کاکلو
له هغه بویه هم ګل بوی دار شو — هم باندی وکړه مینه بلبلو

(٤٩)

ډک می دنَنه لړمون په اور شو — زړه سمدر دی پکښ ئې کور شو
چه ستا دَ تورُو زلفو په رنګ دی — له بخته خوښ یم، چه بخت می تور شو

(٥٠)

مکړه وکړه سامان دَ تللو — پخوا تر هغه چه د بللو:
استواځی راشی چه اوس را درومه — وخت دَ حساب دَی وخت دَ تَللو

(٥١)

له خپله بخته و چا ته زار کړو — دَ څرخ ناسازی و چا ته شمار کړو
ډک دَی دَ کښلیو دَ کابل ښهر — هومره څه نشته چه یو ترې یار کړو

(٥٢)

څه زده په قدر دَ لعلو کورو — زه دِ قربان شم تر سترګو تورو
که کښلی جمع دَ درست جهان شی — ته دِ ځما یې، نوری دَ نورو

(٥٣)

که عقل پوهه، که تیغ که دیګ ؤ — په پښتانه کښ دَ خوشحال بیګ ؤ
زر ئې همت وته په شمار دَ سلو ؤ — زر ئې سخا ته دَ صحرا ریګ ؤ

(٥٤)

که نښه خوراک وُ، خوراک هم ډیر وشو — که نښه پوشاک وُ، پوشاک هم ډیر وشو
ربه اوس راکړې دَ دین خوښئ — که ډیر ژواک ښه وُ، ډیر ژواک هم ډیر وشو

(٥٥)

بَل می په زړه کښ دَ مینی اور شو — ځکه فریاد کړم روزگار می شور شو
دَ یار دَ سترگو سیاهی پریوته — دَ صبر صاد می په سترگو کور شو

(٥٦)

عمر تیر شو واړه په لهو — بدی په قصد کړم نیکی په سهر
تف پدا عقل لکه ځما دی — جنون بهتر دَی تر هسی صحر

(٥٧)

خندا هوس شِی له جاهلانو — حزن اندوه شی له عاقلانو
که لږ بیدار شی خونی به ورانی کا — جهان ودان دَی په غافلانو

(٥٨)

له کښیه وچاوده وخت دَ سبا شو — په هر مسجد کښ اذان ادا شو
راشه چه کښبل دِ کړم اوس به بیلیږو — په ځان ځموږه سبا بلا شو

(٥٩)

ځوانی چه ولاړه بیا نه ځوانیږم — ویجاړ شوۀ بویه چه ودانیږُو
په مخ استواځِی دَ طلب راغله — تاسی خدای ښه ساته موږ روانیږو

(٦٠)

غم پرې هر گوره دَ جهان زور شو — دنَنه زړه می را څخه خپور شو
راغله ناگاهه په آشنا کلیو — کلی هغه دِی عالم پرې نور شو

(هـ)

(٦١)

دا پند له ما نه په زړه کښ یاد کړه — څو دِ لاس رسی مروت داد کړه
زړونه دَ هر چا په احسان ښاد کړه — آزاد بنده کړه، بنده آزاد کړه

(٦٢)

ربه په کار می دَ نیکو کار وکړه — په دوی می عفوه دَ پرهیزگار وکړه
عمل دَ نیکو را ځنی وَ نه شو — ځوانی می تیره په خوشیو چارُو کړه

(٦٣)

په مجلس کښ بیرون له همه — دَا آواز وخوت دَ خُم له فمه
چه زه هم ستاسِی میخور زلمَی وم — ځما له حاله مشَی بې غمه

(٦٤)

شابښ او شابښ محبوبه تا لره — راغلې پخپله دَ عاشق خوا لَره
دَ عاشقانو نمنځنه ښه کوَه — خدای دِ تر ډیره په دا دنیا لَره

(٦٥)

واروه دا پند دَ هوښیار وروره — تل ئې دَ زړه په غوږی ژغوره
دَ هر کار وخت شته خبره ځای لری — وار خطا مکړه، وَ وار ته گوره!

(٦٦)

دَ میرو میره دَ خانو خانه — دَ جهانیانو، جان او جهانه
دا رنگ لوئی به هاله روزی کړې — که وې نیک نیته او نیکزبانه

(٦٧)

دریغه دریغه واژگون گردونه — د ښی له مرد کړې خپلوی له دونه
په نا اهلانو باندِی عنبر لونې — لونې په اهلو باندِی گردونه

(٦٨)

په وخت دَ گلو او د گلونه — ځای ئې کاوه شی دَ زړه د تنه
چه بهار تیر شِی خزان پرې راشی — هسی رنگ سوه شی لکه څوک غنه[1]

(٦٩)

راشه راشه ښایسته راشه — ځما دَ غم دَ جونکړیَ رڼا شه
په هغی لاری چه ته را تللې — دَ هغې لاری بلا په ما شه

(٧٠)

پیر می چه حل ئې واړه اِشکال اوسه — په دواړه کَونه خورم خوشحال اوسه
دا نصیحت ئې راته همیش وایه — چه خوښ له خدایه په هر احوال اوسه

(٧١)

چه حاضر نه وِی ورځنی ښه وایه — که هر څو بد وِی ورته لیمه وایه
که لږ ډیر عیب په یار کښ وَوینې — چه مخامخ شِی ورته ئې وَوایه

(٧٢)

مَیَن را یاد شو د تا له رنگه — که یَو درنگ کښینې ځما تر څنگه
که اشنا نه یې، دَ اشنا مثال لرې — ځار شم قربان شم تر تا ملنگه

(٧٣)

مشه چه جاه ئې په افزونی شه — سفله فرعون یا قارونی شه
دَ مردگانو په غوښو مست وی — ورځنی ځان ساتی گیدړ خونی شه

---

۱. دَ اغزنی ونی وچ ښاخ.

(٧٤)

ارمان ارمان دَی کجرَ و فلکه! عین په زړه ده دَ هر چا لکه
ستا له گردشه خونه دِ ورانه شه دَ جدایيِ تیره گزلکه

(٧٥)

فریاد فریاد دَی له هغه دمه چه را ښکاره شِي اجل له همه
ما به يَواځی روان کا گور لره په ډیر ارمان او په ډیر المه

(٧٦)

بیلتون دِ سخت دَی په ما تر نازه پکښ وریتیږم دَ خدای دَ پاره
يَو دم له ما نه مه جدا کیږه تر تا قربان شم مَیَنه یاره

(٧٧)

ثنا دَ گل شِي له کښلیه بویه صفت دَ مرد شِي له نیکه خویه
اهل به نکا ستایَنَه هیچیری دَ گل له رنگه، د مرد له رویه

(٧٨)

خواره حیرانه بنی آدمه صورت دِ روغ دَی تمام له غمه
ژوندَی غمجن يې، مړَی غمجن يې راغلَی مه وَی کاش له عدمه

(٧٩)

هر څوک چه يَو کا زړه خوله خپل دواړه دوهم په نیت شِي ثابت له واره
که کمَی وَرغَی په دین دنیا کښ تاوان ئې واړه ځما په غاړه

(٨٠)

ناپوه به وائی مینه آسانه ده چه مینه کاندِي مینه ئې ورانه ده
په نام و ننگ کښ دَ سر ښندَنه شِي دَ نام و ننگه وتنه گرانه ده

(٨١)

چه دا ناسازی دَ څرخ زغمونه لړمون مو درست شو سَره کرمونه
يَو دِ جدا کړو له خپله ملکه بل دِ را پیښ کړه دَ عشق غمونه

(٨٢)

چه می به طمعه دَ دنیا چا ته شوه له همه واړو په وار وار ماته شوه
اسرې دَ خپلو پرَدیو پاته شوې اوس می يَو اځِی اسره و تاته شوه

(٨٣)

مینه څو رنگه مزه لرینه خود به پوهیږی چه ئې کوینه
کله تر واړو ترخو ترخه شی که تر واړُو خوږو شیرینه

(٨٤)

که ډیر څه درکا وربانديِ مه ویاړه له خدایه نور څه بې خدایه مې غواړه
ژړا دَ قرب ژړا دَ بعد ده وَ خدای ته ژاړه، له خدایه مه ژاړه

(٨٥)

که هر څو خوړې دَ کښلیو نازه   تریخ شې چه کړ شې زیان تر اندازه
که په لذت کښ شکری ښې دی   په ډیر خوراک کا بلا در سازه

(٨٦)

په لاری تللَم په مخه راغله   په مخ تر گله ښایسته آغله[1]
داغ ئې بیا نوَی را باندی کښیښ   ځما خاطره! پیدا یې داغ له

(٨٧)

هیڅ نه پوهیږم دا څه بلا ده   چه لگیا شوې په زړه ځما ده
لړمون می سوځی قراری نشی   اور دَی که مینه دَ دلربا دَه

(٨٨)

ربه دَ لطف نظر و ماته کړه   بې تا می مینه له هر څه ما ته کړه
چه صورتونه ځنی پیدا شی   نظر دَ مهر په څاڅکی ما ته کړه

(٨٩)

لکه اروا ځی دَ چا له ځانه   چه جدا کیږِی یاران له ما نه
هسی ساعت خو بلکه تردانه   په ما لا سخت دی لیری له تا نه

(٩٠)

ربه له غیرو چارُو می وژغوره   باران دَ فضل را باندِی وَ ووره
زه که بد کار یم لایق دَ نار یم   ته ځان ته گوره و ما ته مه گوره

(٩١)

واه واه سړیه! د تا کارُونه   پخپل حکمت کړې څه کوپارُونه
په دام له سینده ماهی وَکاږې   په دم له سوړی اژدر مارُونه

(٩٢)

لب می په خوب کښ دَ دلبره ولیده   ډیر می تر لعل و تر یاقوت سره ولیده
چه ویښ له خوبه شوم سترگی می ومښې   ډک می له وینو دواړه لیمه ولیده

(٩٣)

اې هغه شاهه چه دِ وزیر نشته   ستا له درگاهه دَ چا گزیر نشته
ستا له کماله فضله امید لرم   که په تقصیر کښ، ځما تقصیر نشته

(٩٤)

یار می په خوب کښ ډیر سخت رنځور لیده   مخ می په اُوښیو دَ فراق سور لیده
چه خواب نامه می دَ تعبیر وکَته   دَ ده صحت می دَ زړه سرور لیده

---

١. یعنی ښایسته او مرغوبه او ښکلې.

(٩٥)

اې په هيڅ خوښه په هيڅ دلګيره　　　دا وينا واوره له ما په ځيره
هيڅ خبر نه يې چه څه يې څه به شې　　　ولی غافل يې دَ ځان له ويره؟

(٩٦)

چه زړه را ياد کا تير ساعتونه　　　اوښی را توی کړم په رخسارونه
وار دَ دلبر دَ ليدلَو تير شو　　　اوس می نصيب شه ساړه آهونه

(٩٧)

دا چه ښکاريږی که دا هم داده　　　دا په ظاهر په باطن کښې داده
دلې هورې ئې خلاصی نصيب نشی　　　چه خوار شِی خلاص شی د دې له داده

(٩٨)

په ورځ توبه کړم په شپه ئې ماته　　　لا می شی مينه په بدَو زياته
سکه نور بايده دی چه توبه ګار شم　　　له دې توبې نه څه زيان و ما ته

(٩٩)

دَ دنيا ناوې که هر څو کښلې ده　　　په اُوه رنګه زيور پسللې ده
نور دې آخلی بهره له وصله　　　موږ په اوجاړه مينه نيولې ده[١]

(١٠٠)

نن پدا ملک کښې عجبه جن ده　　　په رنګ دَ خورُو په خوی د جن ده
په سوال کښې هوکې بې له يه نکا　　　هيڅ نه خبريږې ده دَ چا جنده

(١٠١)

جار شم قربان شم دَ پلار تر پنده　　　راته ئې وَوې ځما فرزنده!
لذت دَ ورکړی تر ساتل ډير دی　　　خو ئې خبر ندَی ممسک له خونده

(١٠٢)

ځوانی عاقل ته لکه دنيا ده　　　پيری په مثل لکه عقبا ده
چه څه عمل ئې په ځوانی کړَی وِی　　　دَ هر عمل په پيری جزا ده

(١٠٣)

هيڅ نه پوهيږم چه لا به کله　　　بنديان آزاد کړې ځښتنه خپله
حاجت دَ خولې دَ عرضونو نشته　　　ته خود خبر يې ځما له دله

(١٠٤)

شيخه په ما باندِی دَ خدای دَپاره　　　نظر دَ مهر څه خو ګماره
عاجز يم توان دَ غمونو نلَرم　　　نور می غمونو وته مه سپاره

١.　ميشته نيولې ده.

(۱۰۵)
موړه ړانده یو، ځموږ فعلُونه   همسا څکونِی دِی ور پسی ځونه
که فعل ښه لرې اندوه هیڅ مکَوه   که لار کوهی لری یا ګړنګونه
(۱۰٦)
راشه که ګورې سړی بې پنده   بندی په لاسو په پښو بې بنده
په رَډُو سترګو ړانده نه وینی   شنوا غوږوُنه کاڼه له پنده
(۱۰۷)
په زړه می ستا نه اندیښنه ډیره ده   واړه خوښی می له دله هیره ده
هر چا ته تیره ده دنیا بود نلَری   اوس پرې ښه پوه شوم چه تحقیق تیره ده
(۱۰۸)
نه ما څه کړی دِی نه به څه کړمه   چه راکوې ئې هغه کوَمه
نوم دَ ژوندون می نوم د علم دی   مړ یم عالمه، مړ یم، مړ یمه

(ی)
(۱۰۹)
چه ښه وی خلق ورته ښه نه وایی   ښه دی چه بد وِی ورته ښه ووایی
نظر په خدای کړه خلق مه ګوره   که درته بد وایی که درته ښه وایی
(۱۱۰)
وخت دَ سحر شو پریونه تَلې   له کښیه لوریه راوختلې
دَ یار دَ راغلُو وعده شوه تیره   په ډیر کتل می سترګی وتلې
(۱۱۱)
چه به ترې نه وه ګلوُنه لاندی   خوب به ئې نشو په پالنګ باندی
اوس په لحد کښې پراته په خاورو دی   پرې زرغونه شول ګنډیری سپاندی
(۱۱۲)
دَ عارفانو دَ خولې کلام دی   چه ترې عبرت واخلی پرې می سلام دی
عیش و عشرت دَ دنیا کل واړه   بنیاد هیڅ نلَری تش احتلام دی
(۱۱۳)
زویه په کور کښې وچ ټوک په ژوئی   زوی ئې له لوړی کویلی[1] کوئی
رشتیا متَل دَی هوښیار وَیَلیِ:   دنیا خوړه ده تر ځان تر زوئی

۱. یعنی کویړی او کوکو لَری.

(۱۱٤)

یار می هر څو و سر ته لوری　　قهر و ستم کا همیش می زوری
لا تر دا زیات می واړه قبول دی　　خو یَو دِ نورُو وته نه گوری

(۱۱٥)

غافله وخورې دا سترگی توری　　زه تا ته گورم ته بل سر گورې
ځما دَ مینی لافی هاله وهَه　　که زړه له غیرو مینو وَژغورې

(۱۱٦)

که هغه یار می ظاهر په بیارته دی　　خیال ئې راغلَی ځما کنار ته دی
ځای به دِ پاسه پخپل تندی کوَم　　گله چه رنگ دِ ځما و یار ته دی

(۱۱۷)

څو شکر خوری خاوری خوری شولې　　ډیری ئې ځښی دَ خیال خپرې شولې
چه تل سپرلی ئې په عراقیانو وه　　اوس توری خاوری پرې پاس سپرې شولې

(۱۱۸)

چه پکښی یښی ښه صورتونه دِی　　ځکه په مځکه ښکاره گلونه دِی
قدم پرې ورو ورو په احتیاط ږده　　دا توری خاوری کښلی مخونه دِی

(۱۱۹)

تقدیر دریاب دَی موږه خسرِی　　په حال هیڅ نه یُو چا خبر کړی
چه دا دریاب مو به چرته بیائی　　هم ئې له کومه ځایه راوړی

(۱۲۰)

دَ غم لښکر می په زړه هر دم راځِی　　یو لښلی نه وِی، بل پرې پیهم راځی
په خوب کښ کله ښه ساعت لید شی　　اندیښنې ډیری شوې هغه هم کم راځی

(۱۲۱)

هر چه امیر دَ لښکر بیدل وِی　　یا پرې خبری دَ داد مشکل وِی
تل به رټلی شړلَی گرزِی　　په هر محفل کښ به منفعل وِی

(۱۲۲)

ځنی هَوس کا مینه په باغ لری　　څوک مَی پرسته حب دَ ایاغ لری
دا دواړه گروهه بوالهوسان دی　　عاشقان مینه دَ زړه په داغ لری

(۱۲۳)

په ونه سبری، په مخ گلزاری　　په دواړه زلفو عنبر نثاری
خوبی دَ حسن زیاته تر حد لرې　　عیب دِ دا دَی دَ ډیرُو یاری!

(۱۲٤)

دَ یار غمونه چه هومره نه دی　　چه ئې وَوایم خو هم پټ ښه دی
ناحق به نور کړم اخته په زړه کښ　　هم به ئې زه ساتم دَ نورُو څه دی

(۱۲٥)

په زړه مزَریه په سترګو بازی
سترګی منګل خونریز ته وازی
سازی ناسازی چاری په ما کوَه
په ما دواړه ناسازی سازی

(۱۲٦)

په زړه مزریه په سترګو بازی
سر تر قدمه له خوبۍ سازی
هر څه دِ ښه دَی عیب دِ دا دَی
چه له نیازمنو هر ګورې نیازی

(۱۲۷)

یار می که هر څو راته ناساز وائی
پرې خوشحالیږم چه ئې له ناز وائی
چه راته وکا ښرې ښکنځلی
وایم که تل ئې راته باز باز وائی

(۱۲۸)

باران ووریږی څڅواکی څاڅی
نسیم را والووت سنبل پرې ناڅی
اسباب دَ عیش واړه موجود دی
ساقی ته ګورُو که دَی را پاڅی

(۱۲۹)

دانا په مثل دَ شهسوار دی
پروت که په مځکه وِی هم قدر دار دی
ناپوه سړی په مثل غبار دی
لاړ که اسمان ته شی هورې هم خوار دی

(۱۳۰)

د ګل له غمه بلبل افغان لَرِی
ګل له خزانه خاطر پریشان لری
دا ګناه ستا دی دَ صبا باده
نه ئې ګلونه نه ئې خزان لری[1]

(۱۳۱)

سپین چه بدخوی وِی، ترې نیکخوی تور ښه دی
چه ستا په رای ځی، پردی تر ورور ښه دی
ښه هم هغه دَی چه ستا په ځان ښه وی
تر سرو ګلونو په ژمی اور ښه دی

(۱۳۲)

ښایست دِ لاړ شو په خوی ښه نه ئې
یا خو غځکی یې یا پړانګ لیوه یې
اوس له ما لیری په څنګ ګرزه
نه هغه زه یم، نه هغه ته یې

(۱۳۳)

مخ چه د حسن له غوړو سپور شی
عاشق ګرم ندَی که زړه ئې تور شی
ګل چه تازه وِی ځای ئې په سر کیږی
خزان وهلَی لایق دَ اور شی

(۱۳٤)

غم دِ که هر څو په خاطر ډیر شی
نه وِی چه زړه دِ پکښ تیربیر شی
لکه چه وار دَ ښادی ولاړ شه
هسی به وار دَ غمونو تیر شی

---

۱. نن ئې ګلونه سبا خزان لرې

(۱۳٥)

عام وَ هر چا ته څښتن دَ ساه وائی   په تخت چه کښینی ورته بادشاه وائی
ژوندی هغه دَی، بادشاه هغه دی   چه تل په زړه کښ الله الله وائی

(۱۳٦)

د عشق په کار کښ چه څوک صادق شی   دَ یار دَ مهر هاله لایق شی
دوئی دَ دواړُو تر منځه ووزی   عاشق معشوق شی، معشوق عاشق شی

(۱۳۷)

نن می په زړه کښ دَ کښلیو خیال راغَی   په خوله وایه نشِی، یَو هسی خیال راغی
مگر یار راشی چه می ترې خلاص کا   گنه پوهیږم چه لوی جنجال راغی

(۱۳۸)

نن چه په حسن دَ کښلیو سر دَی   هم هغه کښلی ځما دلبر دَی
څېْ ئې تر مخه ښایسته تر دی   خدای ئې را پریږده عجب بشر دی

(۱۳۹)

که هر څو خوی او خصلت یو شان لرې   همیش فتنې کا عاشق پریشان لرې
راشه چه دواړه سترگې دِ کښل کړم   ځما دَ یاره څه خو ښبان لرې

(۱٤۰)

مخ که تر نمره هر څو رخشان لرې   شونډې سره لعل دَ بدخشان لرې
ستا له یارئِ ځموږ توبه شه   چه خوی خصلت دَ ځناور په شان لرې

(۱٤۱)

که ښې ښې ښځې ښه ښه پوښاک وی   که ښه آسونه که نور املاک وی
چندان نقصان ئې سړی ته نه رسی   ځان ته او دین ته بد ډیر خوراک وی

(۱٤۲)

آبشاره ولی دا هسی ژاړې   له چا فریاد کرې څوک پسی غواړې
که تل فریاد کړې له کانې سر وهې   بیا به را نشی اُوبه چه ولاړې

(۱٤۳)

زړه می تر هومره غمو پایمال شی   گمان می نشِی چه بیا خوشحال شی
و نامحرم ته احوال وایه نشی   محرم ته نه وایم چیری ملال شی

(۱٤٤)

کار کوَه کار، پکار هم کار دی   تاوان په ځان باندِی خالی گفتار دی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی   کوتره گنگه طوطا طرار دی

(۱٤٥)

که زر دوستان لَرِی یَو غلیم شوم لری   زړه ئې له غمه عاقل مغموم لری
که نور ځان روغ وِی یَو غاښ رنځور شی   په فراغت کښ به اندام کوم لری

(١٤٦)

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری   سیلاب تش لاسی سیند لَمن پر لری
دَ سیلاب گیډه له کاڼیو ډکه ده   بحر په گیډه کښې قیمتی دُر لری

(١٤٧)

که یاس له حقه تحقیق حرام دی   یاس له مخلوقه دَ حق انعام دی
اصیل بنده کا، خلاص شوی بند کا   طمع له خلقه دَ خلقو دام دی

(١٤٨)

سحر سحر چه نوبت غږیږی   دا رنگه ږغ کا که څوک پوهیږی
چه زه دَ بل وم، بیا به دَ بل شم   په ما ناحقه څوک هوسیږی

(١٤٩)

آورې بلبل دَ بهار څه وائی؟   چه همیش نه پائی مینه پرې نه ښائی
نن خو دَ گلو ښایست کمال دی   دریغه تر کانده پوری که وپائی

(١٥٠)

غمجن که گرزِی که کښینی پاڅی   آه و فریاد کا اُوښی ئې څاڅی
ورته ښکاریږی لکه ویرونه   که نور وگړی هوس کا، ناڅی

(١٥١)

یار می په مثل لکه آفتاب دی   هم بې حجابه هم په حجاب دی
دَ مخ شعلې ئې د مخ پرده دی   نور دَ آفتاب دَ آفتاب نقاب دی

(١٥٢)

چه کښته پورته قطار قطار درومی   نارې فریاد کا په اضطراب درومی
راځنی بیل شوی یاران را یاد کا   په مخ می اُوښکی لکه رودباد درومی

(١٥٣)

ته چه دا هسی له ما کنار کړې   کښینې هر چا ته له ما نه زار کړې
یا دروغجن وې منزل دِ لنډ وُ   لا دِ نیت بل شو، بل یَو به یار کړې

(١٥٤)

ته چه له ما نه کنار کنار گرزې   ځان نا آشنا کړې بیگانه وار گرزې
زه ښایسته یم مشتاق می ډیر دی   ته به بې یاره همیشه خوار گرزې

(١٥٥)

اې چه عیبونه دَ بل اکثر وینې   خپل ځان تر نورو خلقو بهتر وینې
سر دَ همه وُ عیبونو دا دَی   چه دَ بل عیب دَ ځان هنر وینې

(١٥٦)

دَ کرَلُو نه دِی دا دوې خبری   دواړه هر گوره له عقله لیری
په بدرنگ زویه چه نغارې وهی   بل په بدرنگی ناوی سندری

(۱۵۷)

چه عاقبت به له دنیا لیږدې ولی دا هونبره طولانی بلیږدې
چه وخورې وخورې چه ورکا یو سې نور به ئې یوسی چه زر دلې ږدې

(۱۵۸)

چه شجاعت کا دنیا په کف لَرِی نوم به دَ نیکو په هر طرف لَرِی
هر چه حاصل کا دا دواړه خویه هغه میرات دَ شاه نجف لَرِی

(۱۵۹)

چه نور وګړی لتا ویزار شی خپلوی دَ خپلو هاله په کار شی
کنه په ورځ دَ راحت تر خپلو بیګانه هم تر سړی ځار ځار شی

(۱۶۰)

هر څوک چه عقل دانائی هونښ لری راز به په زړه کښ همیش سرپونښ لری
تنها به هم نکا دَ راز خبری که هیڅوک نه وی دیوال هم ګوش لری

(۱۶۱)

روژې شوې تیری سبا به عید وی هوس به کاندی چه څوک سعید وی
سعید هغه دَی چه یار تر څنګ لری شقی هغه دَی چه ترې بعید وی

(۱۶۲)

خبر دَ تللو دَ کوم آشنا راغَی چه قاصد هسی دلګیره بیا راغَی
په وار وار واړه یاران روان شول اوس به زه درومم چه وار ځما راغَی

(۱۶۳)

که دَ عجم دی که دَ عرب دی هم بې ادب دی چه رد دَ رب دی
سیل می وکړ دَ کتابونو مقبول هغه دَی چه په ادب دی

(۱٦٤)

ادب په تله کښ دی ادب په ناست کښ دی هم په ولاړ کښ دی ادب په نماست کښ دی
ادب په هیڅ کښ له سړی نه درومی نور څه لا پریږده ادب په زغاست کښ دی

(۱٦٥)

که په دولت کښ په شان دَ جم درومی لا می تر جمه افزون حشم درومی
هیڅ به ښکاریږِی وَ دانایانو ته چه له سړیه په تله دَ دم درومی

(۱٦٦)

څوک چه بې خدایه غیر محبوب کاندی باطل اختیار کا واړه ناخوب کاندی
غیر به پریږدِی که دَ زړه فهم په ضعف الطالب و المطلوب کاندی

(۱٦۷)

دَ منی وخت وُ و می لیدلې یَو څو بلبلی چه ژړیدلې
خواری خسته وې، وې می سزا ئې چه بې ګلونو وَ پائیدلې

(۱٦۸)

لږده له نیکو نیکی چه څوکیږی　　نیکی له بدو، بدی له ښو کیږی
دَ امید تخم پرې باندی مه کَرَه　　له بدی مځکی به گل په څو کیږی؟

(۱٦۹)

یو دوې وینا می درته ساتلی دی　　چه پیر و ما ته تر خولې یستلی دی
مینه بې خدایه په هیچا مه کوَه　　بې خدایه مینی واړه باطلی دی

(۱۷۰)

چه ئې دَ سترگو شرم رقیب شی　　خلاص له اغیاره هاله حبیب شی
دَ گل لمن به پرې ککړه نه کا　　گل ته که هر څو اغزی قریب شی

(۱۷۱)

که دَ دنیا دی که د عقبا دی　　و ما راکړی نعمت مولا دی
شماره ئې ځکه کولَی نشم　　چه لایعدُّ او لایحُصٰی دی

(۱۷۲)

چه کښته پورته ځموږ نفس درومی　　هر څه ئې هیر دِی په یاد دَ نس درومی
حاصل دَ دین دَ چاری هیڅ نشته　　حیف صد حیف اوقات عبث درومی

(۱۷۳)

دا دوې خبری ځما په ځای دی　　پرې به پوهیږی چه روښن رای دی
مقبول دَ خلق مردود دَ حق گنه　　مردود دَ خلقو مقبول دَ خدای دی

(۱۷٤)

که دښمنان دِی که ئې خپلوان دی　　واړه آفت دَ سړی دَ ځان دی
دښنی خپلوی چه له هیچا نکا　　په دین دنیا کښ هغه کامران دی

(۱۷٥)

ځما شوې وچی دَ غمه لاړی　　هم می په زړه کښ چړکی وَلاړی
زه دِ په هسی احوال کښ پریښوم　　تا راته شا کړه را ځنی ولاړې

(۱۷٦)

چه پدا لاری سبا بیگا کړې　　تلنه، آهونه، فریاد ژړا کړې
کلی مالت به واړه خبر شی　　ما به خرابه ځان به رسوا کړې

(۱۷۷)

که سپین او سره ئې په کور کښ تل وی　　چه نه ئې علم نه ئې عمل وی
بنیاد ئې نشته آخر به خوار شی　　بخت به تر کومه ور سرَه مل وی

(۱۷۸)

تر هر څه بد دَ کجیٔ خطر دی　　کجی به نه کا چه دانشور دی
الف چه سم شی کجی ئې نشته　　ځکه تر نورُو حرفونو بر دی

(۱۷۹)

لمړی می مینه په مخ دَ یار شی   بیا ئې په طمعه دَ ښه گفتار شی
فکر ئې بیا دَ بوس و کنار شی   په عشق کښ کله صبروقرار شی

(۱۸۰)

از بس چه تل می جاری په خوله یې   یاد می دلبره هسی په زړه یې
چه څوک له ورایه راته ښکاره شی   خوشحال خوشحال شم وایم چه ته یې

(۱۸۱)

چه نوم ئې وشی دَ محرمۍ   خوب به په څو کا دَ بې غمۍ
په یَوَه ټکی محرم مجرم شی   ویره دِ کاندی دَ محرمۍ[1]

(۱۸۲)

دَ اُوښیو ډکی سترگی نظر کوې   دَ خپلو تللو راته خبر کوې
چه دَ جوگیانو جامې دِ واغوستې   پوهیږم لیری ملک ته سفر کوې

(۱۸۳)

په ډیر عالم کښ که زړه می چَوِی   هم به می اُوښی د سترگو نه وی
زه په تا ژاړم په هسی ځای کښ   چه یَو دِ غم وی دوهم می زړه وی

(۱۸٤)

چه خوښ له گله دلگیر له خاره دی   عشق له دو بیته بې اعتباره دی
نه شکایت کړم له چا نه شکر   درد می له یار درمان له یاره دی

(۱۸۵)

مست یم دعا کړم که ته هم مست شې   را سره کښینې باده پرست شې
پیاله دَ میو په لاس کښ واخلې   دَ نام و ننگ دَ ښیښې په شکست شې

(۱۸٦)

ډیر څه می وکړه وې می آشنا شوې   لکه زه ستا یم، ته هم ځما شوې
یا ته بدخوی یې یا می بخت بد دی   لا تر غلیمه په هغه خوا شوې

(۱۸۷)

بادشاه چه عدل انصاف تمیز لَرِی   خدای به ئې دلی هورې عزیز لَرِی
چه دا خویونه ور څخه نه وِی   آخر به خوار شی که نور هر څیز لَرِی

(۱۸۸)

چه هنرمند دَی هغه حاسد لری   اغزی گلونه، رقیب شاهد لری
کله به ښه یسی دَ بومو زاغو   باز چه مسکن دَ بادشاه ساعد لری

---

۱. د مجرمۍ یا د محرومۍ.

(۱۸۹)

څو له پرهاره زَوِی بهیږِی پرې می صحت شی زنځور ښه کیږی
همدرد می نشته چه ور سَره وژاړم له ډیره غریوه می حلق خوږیږی

(۱۹۰)

هر چه دَ هجر مزری داړلی دی که ساه پکښې وی په مړه شمارلی دی
لاری دَ تلَلو بندی شوې غائب دَ سترګو په خدای سپارلی دی

(۱۹۱)

څه شو که سپینی وِی دَ دواړو پیۍ دَ غوا دَ غوا دِی، دَ سپیۍ دَ سپیۍ
پاک څاڅکی بویه له پاکه ځایه چه واخلی حمل ځنی سیپیۍ[1]

(۱۹۲)

په درد می نور څوک بیمار دردمن ندی بې ما په غم کښې ځما غمجن ندی
که پلار که زوی دی که ورور که یار دی تر ما نه هیڅوک په ما مَیَن ندی

(۱۹۳)

زر ئې که هر څو په کور انبار وی چه ورکړه نکا، په خره زر بار وی
چه پکښې نه وِی اُوبه دَ رحم وریځه نه وِی یَو تش غبار وی

(۱۹٤)

اې چه په فکر دَ هیچا نه وی کړې زاړه به کله دَ خوارو نوی کړې
باران دَ رحم وربلندی وورہ چه بیا له مځکی زرغونه سوی کړې

(۱۹۵)

زاهد ولی را پوری خاندې مخلوق پخپله کله څه کاندی
چه ئې رابیل او چنبیل پیدا کړه هغه پیدا کړه ګنډیری سپاندی

(۱۹٦)

چه په ظاهر غوړوی په باطن سپوروی په ژبه خوږ وِی په زړه کښې شور وی
ور سَره مه کښینه تا به تباه کا سپین زر که سپین وی اثر ئې تور وی

(۱۹۷)

ګوره نن کانده روزګار په څو کیږِی نیکی له بدو، بدی له ښو کیږِی
هر چه بدخویه بد فعل کمذات وی دَ خلقو مینه هم په هغو کیږِی

(۱۹۸)

اې چه وَیَل کړې ما ته ښه نه یې ښه چه زه بد یم، ښه چه ته ښه ئې
زه به هغه کړم لکه چه زه یم ته هم هغه کړه لکه چه ته یې!

---

۱. دا کلمه په یوه نسخه کښې سپیۍ ده، دَ سیند خاوند سیپیۍ په معنا دَ کاچوغی لیکی، مګر له موقعه داسی ښکاریږِی، چه دا کلمه په معنا دَ صدف ده.

(۱۹۹)

که اشتها دَ سړی دَ سیر وِی　　خوراک ئې بویه چه کم نیم سیر وِی
چه ډیر خوری کله هغه تر ډیره خوری　　هر څوک چه لږ خوری خوراک ئې ډیر وی

(۲۰۰)

خوږ ئې په فقر معنوی حلق شی　　ځکه اطلس ئې بدل په دلق شی
نظر دَ عامو پرې باندِی بند وِی　　بنده دَ مینی بادشاه دَ خلق شی

(۲۰۱)

از بس چه تل می جاری په خوله یې　　نهال می دلبره هسی په زړه یې
چه څوک له ورایه راته ښکاریږی　　خوشحال خوشحال شم وایم چه ته یې

(۲۰۲)

دَ عاشقانو دَ خولې یَو بول دَی　　چه خال و خط دَ ښایسته پسول دی
خدای دِ دلګیر مکړه چه دلګیر نشې　　دَ مخ وینښته دِ دَ میاشتی شپول دی

(۲۰۳)

جوړ به تر کومه زیبا صوررت وی　　آخر به خاوری سَره لت پت وی
که نن مات نشو سبا ئې ګوره　　دَ خاورین لوښی ښکاره مدت وی

(۲۰٤)

دا سنبل ندی وینښته مشکبار دی　　دا لاله ندی کښلی رخسار دی
دا نرګس ندی سترګی د کښلیو دی　　چه خاوری شوی پخپل خپل وار دی

(۲۰۵)

که لب دِ لال کړم لال خو شیرین ندی　　که غاښ دِ دُر کړم دُر هسی سپین ندی
که مخ دِ نمر کړم دَ نمر کړه وړه نشته　　که دِ سنبل کړم سنبل مشکین ندی

(۲۰٦)

دَ باد فروشو په پوکو ډډ شې　　کښیني دَ ځان په ستاینه ګډ شې
خود به دِ هر څوک ثنا صفت کا　　که دَ همای غُندی قانع په هډ شې

(۲۰۷)

په خوشحالی کښې هوښیار غمجن اوسی　　چه سبا کیږِی بویه چه نن اوسی
درد ئې دمه وینم که درد ئې نه وی　　چه دَ دردمنو په درد دردمن اوسی

(۲۰۸)

لښکر په مثل لکه ښه آس دَی　　سردار ئې سپور دی چه سپور پرې آس دی
که هر څه جلد وی چست و چالاک وی　　چه سپور ئې تښتی دَ آس څه لاس دی

(۲۰۹)

چه فرمایلی دَ خدای رسولﷺ دی　　واړه په سترګوْ ځما قبول دی
په بل څه اَړه، ځموږ څه کار دی　　چه باندی کار لَری ظلوم جهول دی

(۲۱۰)

ربه زړگی می له غیرُو سوړ کړې	هر دم می خپله بندگۍ ته جوړ کړې
زړه می څه لاس می دواړه خالی دی	دَ قناعت په خزانو می موړ کړې

(۲۱۱)

چه محبت کا له چا چه تل نه وی	تر هغه هیڅوک کم عقل بل نه وی
څما څه کار دَی دَ خوشحالیو	خوښی هغه کا چه څوک ئې خپل نه وی

(۲۱۲)

دَ غم امان وشه چه په چا زور شی	روښان جهان ئې په سترگو تور شی
په ورځی غم په یارانو ویشم	په شپه یواځی په ما تندور شی

(۲۱۳)

راشه که گورې دَ عقل وړَی	وچ ئې له تندی دنَنه سړَی
گډ په دریاب شو اوُبه ئې نه څښې	ور ځنی راغَی هم هسی تږَی

(۲۱٤)

هغه چه ستا دی چه ئې ساتل نکړې	ویره می کیږِی چه ئې دَ بل نکړې
که دا دِ خوی دی دا دِ خصلت دی	خپل به پرَدِی کړې، پردی به خپل نکړې

(۲۱۵)

چه مخ په یار پسی دَ چا بدرنگ نه وی	مخ ئې ومه وینم چه هیڅ ئې رنگ نه وی
بالنبت په ډیرو ژړلو لُوند کړم	چه وینښ له خوبه شم یار می تر څنگ نه وی

(۲۱٦)

مردان په سوال کښ دَ سائل نعم لری	چه لن لما ولا و مالم لری
لکه په لن کښ الف محذور شو	هسی به ورک شی که ډیر نعم لری

(۲۱۷)

چه دروغجن دی له حقه لیری وی	هغو ته زهر رشتیا خبری وِی
مشک نجاست وِی و کناسانو ته	خاوری خورو ته خاوری شکری وی

(۲۱۸)

چه یار می لاړ شو په لویه لاری	را باندی راغلې ورَځی دشواری
لړمون می سوَځِی روغه عالمه	څه کړم چه نکړم بارې چیغاری

(۲۱۹)

عشق می خاطر دَی ځکه پسندلی	چه عشق کښ سپور وم، بې عشقه پلی
په عشق بادشاه وم پروا دَ چا نکړم	بې عشقه گرزم لکه نتلَی

(۲۲۰)

چه ډیر می کړی باندِی گناه دی	هر هر مقام می په گناه گواه دی
تور می دَ بِږیری و زړه ته پریواته	بِږیره می سپینه زړه می سیاه دی

(۲۲۱)

په زړه مې هومره غمونه ډېر دي　　چه مې وختونه دَ خوښۍ هېر دي
دردمنه روغ ته له دردونو مه وايه　　وايه و ما ته چه را بانِدې تېر دي

(۲۲۲)

چه پيدا شوی ظلوم جهول دی　　هوس ئې سود دی اندوه ئې نول دی[1]
چه عاقلان دِې پرې په پوهېږي　　نامعقول ندی، داقال معقول دی

(۲۲۳)

که ډېره سعی کوښښ کړې څه شی　　په وخت چه نکړې بې وخته څه شي؟
که هر څو مټ په بېړۍ ملاح کا　　په ټانک[2] چه کښېوزي پوري هاله شي

(۲۲٤)

صورت مې هر څو که ډېر زبون دی　　که مې دَ مځکې دَ لاندې يون دی
زه به په لور دَ اشنا روان شوم　　يون مې که هر څو په شواخون دی

(۲۲٥)

پسرلی خزان کړي، خزان بهار کړي　　مالدار نيست کار کړي، نيست کار مالدار کړي
دَ چا دارو کړي، دَ چا تير وار کړي　　څه څه کارونه پروردګار کړي

(۲۲٦)

که ورکړه خير دَی چه هير شي ګل شي　　که هر څو لږ وي چه ياد شي کل شي
چه باغوان تخم په خاورُو پټ کا　　پيدا ترې هاله ښايسته ګل شي

(۲۲۷)

چه کل همت ئې خوراک لباس وِي　　په تحقيق هغه ارذل الناس وِي
شرف په خوی دَی په ديانت دی　　که څوک شريف دی يا څوک کناس وِي

(۲۲۸)

دا ګمان مکړه چه ستا دی تل به وی　　د بل دی ستاسی، ستا دی د بل به وی
دَ زرو کالو سړی مرګ پرې ننښول　　ته که ډېر پايې نهايت سل به وی

(۲۲۹)

لکه عامل شول تر خاورُو لاندی　　عمل هم ورک شو په مځکه باندی
اوس په خبرو پړه ول وړه ول دی　　دا بيت بازئ دی، عالم ئې کاندی

(۲۳۰)

بيګاه نژدې شو دَ غرُونو سيوری　　په سم را پريوتې له سپيني توری
ډېر ډېر ويرېږم ياره نژدې شه　　چه ځير دِ ګورم هم مې ځير ګورې

---

۱. اندوه ئې سود دَی هوس ئې نول دی

۲. وخت، موقع.

(۲۳۱)

که په حکمت کښ تر هر چا پاس وی
اصیل نجیب وی چه خالی لاس وی
پروت به په خاورو لکه الماس وی
سپک په نظر دَ عوام الناس وی

(رباعیات تمام سوه)

(٣)

متفرقات

ترکيب بند

سخ دَ هغه زړه چه کا اشغال دَ محمدﷺ   بخت دَ هغی خولې چه لری قال دَ محمدﷺ
بې له يوه خدايه چه کمال دَی دَ ده علم   نور چا ته ښکاره نه دی کمال دَ محمدﷺ
خوت موسی په طور "فاخلع نعليک" حکم پر وشو   عرش هم مفخر شو په نعال دَ محمدﷺ
سر به ئې دَ فخر تر اُوه آسمانه تير شی   هر چه له اخلاصه شی پايمال دَ محمدﷺ
خدای چه څه دَ خدای دِی همگی واړه دَ ده وُ   څه شو په ظاهر که نه وُ مال دَ محمدﷺ
نور نبيان به واړه دَ ذرې په دود ځرگند شی   وَبرينبی چه نمر غُندی جمال دَ محمدﷺ
خال چه په مخ کښيږدی يو په سله حسن زيات شی   ځکه خال دَ حورُو شو بلال دَ محمدﷺ
په ورځ دَ قيامت چه خلايق واړه حاضر وی   هاله به ښکاره شی جاه جلال دَ محمدﷺ
وائی چه که حب دِ دَ خدای پريوزی په زړه کښ   حب په محمدﷺ کوَه په آل دَ محمدﷺ
خدای دَ ده له رويه تمامی خلق پيدا کړه
ده هم بې له خدايه همگی واړه تر شا کړه

خدای دَی صفت کړَی په قرآن دَ ابوبکرؓ   فرضه دَه ثنا پر انس و جان دَ ابوبکرؓ
بې له دې چه ځان او مال ئې ځار تر محمدﷺ کړی   نه وُ په خاطر کښ بَل ارمان دَ ابوبکرؓ
بوی به ئې له خولې دَ وريتو غوښو هميشه تله   تل دَ عشق په اور وُ زړه بريان دَ ابوبکرؓ
استاد دَ انبياؤ شو عالم دَ ده له روخه   ادب ئې در هميش په دل و جان دَ ابوبکرؓ
ځکه انبياؤ آرزدئی دَ ده امت کړه   چه ځير ئې کړ په لوح محفوظ شان دَ ابوبکرؓ
تل ئې په دوستانو باندی رحم دَ رحيم وی   ياد ئې دِی په لعن دښمنان دَ ابوبکرؓ
نور عالم مشتاق دی دَ جنت جنت دَ هغو   هر چه دِی له صدقه مشتاقان دَ ابوبکرؓ
فقر ئې موندلَی وُ دَ پاک نبی له فقره   ځکه بادشاهان شول گدايان دَ ابوبکرؓ
خلاصه ئې په روی دَ محمدﷺ له ما نه مکړه   لاس می لگَولی په دامان دَ ابوبکرؓ
هيڅ حاجت ئې نه غوښت دَه په خدای راوړ تصديق
ځکه سر دفتر دَ اولياؤ شو صديقؓ

پس چه له صديقَ په صفت دَ دره دار شه   هاله مسلمان سړی سنيانو سَره شمار شه
حب ئې په سړيو په پيريو باندی فرض دی   هر څوک چه ئې حب نلَری دلې هورې خوار شه
دين دَ اسلام بيا مونده قوت دَ ده له دينه   دا رنگه قوت به په قوت دَ کردگار شه
سخت په کافرانو وُ تر زړه دَ کافرانو   نازل په باب ئې ځکه "اَشِدّا عَلَی الکفار" شه
هسی رنگ آيت پرې جبرئيل له خدايه راوړ   هر چه به په وخت دَ مشورت دَ ده گفتار شه
کله چه به دَی دَ خدای دَپاره په غضب شو   شيطان به په کروهونو له هغه ځايه فرار شه

صدق دَ صادق که له صدیقَ مخ ښکاره کړ — عدل دَ عادل دَ ده په عدل کښې اظهار شه
عدل چه دَ ده لکه آفتاب په جهان وَخوت — پټ په سوراخونو کښې ظالم شوپرک وار شه
پاک نبیﷺ وَیَل چه پس له ما که پیغمبر وِی
روخ ده چه هغه هم دَ خطاب زویه عمرؓ وِی

فرض لکه په خلق باندی تفضیل دَی د شیخین — هسی رنګ واجب دَی محبت د ختنین
دوه ځله چه نور دَ نبوت باندی تابان شه — ځکه مخاطب شو په خطاب دَ ذی النورینؓ
بحر دَ سخا دَ عز و حلم، کان دَ شرم — یښې ئې قدم وُ دَ همت په فرقدین
تخمیر ئې دَ طینت وُ دَ جنت په شهد وشوی — تریخ ئې چا ته نه ویَل هر ګز له شفتین
ځیر به ئې له شرمه و هیچا ته کتی نشو — تل به ئې پخپل کنار نظر وُ د عینین
عمر ئې تمام په خوشنودی له خلقو تیر کړ — کړ به ئې په هر ساعت طاعت دَ ثقلین
خدای چه ''رحماءُ بینهم'' و ده ته ووې — ځکه ئې په خوی دَ رحمت بیا موند زیب و زین
یو ئې له دنیا نه واخست بل ئې له عقبا نه — بیا ئې موند وصال دَ خپل مطلوب په قدمین
لاړ که له دنیا نه په سرو وینو رنګوَلی — ګرزی په ګلزار کښې دَ جنت په شین شین
جمع دَ ضدین که پر هر چا دی محال
دین او دنیا جمع کړه وَ ده ته ذوالجلال

رفض ندَی خلقو محبت دَ مرتضیؓ — خدای دِ وما راکړه په حرمت دَ مرتضیؓ
لا به تر ده مینه په بوبکرؓ په عمرؓ کا — وِی ئې چه په زړه کښې محبت دَ مرتضی
هر چه ئې په زړه کښې بغض پروت وِی د شیخیونو — تل وِی په هغو باندِی لعنت دَ مرتضی
نشته هسی رنګه یَو بل ځوان لکه علیؓ وِ — دا رنګه خدای کړِی دَی صفت دَ مرتضی
خدای چه پرې خطاب اسدالله له لطفه کښیښود — تم پدا خطاب شو شجاعت دَ مرتضی
ځان ئې دَ هجرت په شپه ایثار تر محمدﷺ کړ — خدای ستایه فرښتو ته فتوت دَ مرتضی
کوټ ئې دَ خیبر په تنها ځان کړ دړی وړی — زیات دَی تر بیانه زور قوت دَ مرتضی
نبیﷺ دَ علم ښهر دَی، دَی وردَ هغه ښهر — ګوره چرته لاړ شو فضیلت دَ مرتضی
وبخښه خپل خدای عبدالقادر له ډیره فضله — په روی دَ مرتضی په ذریت دَ مرتضی
ستوری دَ هدٰی دِی د رسولﷺ واړه اصحاب
راضی دَی خدای له دیونه، رحمت ئې پر احباب

مخمس

رڼا ورځ په ما بې تا ده توره تمه[1] راته یَو شوه دَ غمونو غروُنه سَمه
اوښی وینی تویَوم دَ زړه له نمه یَو زمان می خلاصی نه وِی له اَلمه
زه دِ تل وینم دَ خوږو زړو مرهمه

فراق ډیر را باندِی زور شو نه سهیږم شپه او ورَځ لکه باران هسی وریږم
تود لوگی می له خولې ځی په زره وریتیږم په راتلو دِ لکه گل شگفته کیږم
بربړ رایشه اشنا صبا قدمه

چه خوراک ئې همیشه خون جگر وِی تل فریاد تل په ژړا په نارو سر وِی
تر مجنون او تر فرهاد ئې حال بتر وی دَ مهجور تر زندگی لا مرگ بهتر وِی
که ستیه ستیَ کیږی نده گرمه

که هر څو دَ خوښیَ ډکی پیالې شومی عاقبت به ئې له غمه وچ شی کومی
له دنیا به هوښیار څرنگ خوښی مومی چه دَ سترگو په ځنبل له سړی درومی
زړه تړل پرې پوری مه کوَه آدمه

دَ دنیا دَ مینی سخت زبون بنیاد دی په دنیا مَیَن بنده دَی، نه آزاد دی
دَ دنیا دولت په مثل لکه باد دَی په دنیا چه ئې زړه ښاد هغه ناښاد دی
کله مخ کا کله شټ کاندِی له همه

ستا مَیَن همیشه خوار گرزی په زوی تل په غم تل په آشوب کښ وِی څو ژوی
خوار خسته حیران پریشان به لکه زه وی تر هغه به بل ناپوه په جهان نه وی
چه به تا وته لَری دَ وفا تمه

څو عاشق دَ یار په مینه کښ خواریږی خپل پرَدِی ور ځنی عار کا ویزاریږی
لا ئې عشق و معشوقې ته اظهاریږی پخپل یار چه ستم نکړِی آزاریږی
چیری نه وی لاس کوتاه کړی له ستمه

که هر څو په جهان ډیری وِی نگاری هوسیَ سترگی، مو کمری، پریواری
مه جبینی، تن سیمینی، گل رخساری مخ نسرینی، سبر قدی، خوش رفتاری
دَ ښایست وینا په تا باندی شوه تمه

شرمنده دِ تر ښه مخه گلزار وینم چه بې ستا له مخه گل دَ بهار وینم
دَ هر گل پاڼی په ژړه لکه خار وینم دَ زلفینو تر حلقو دِ عذار وینم
که سمن دَی ستا په زلفو کښ صنمه

۱. دا مخمس دَ عبدالقادر خان پر خپله بدله جوړ شوی دَی.

راته څه وايې چه ويره دَ ځان مکړه　　دَ خپل يار په محبت کښ نقصان مکړه
هيڅ و ما ته له دې بابه بيان مکړه　　که مې سر ځی که مې مال ځی گمان مکړه
چه به مينه شی ځما له ياره کمه
که له عشقه شې سنگسار عبدالقادره　　دَ منصور غنُډی په دار عبدالقادره
په نارو سوځې په نار عبدالقادره　　مکړه بې عشقه بل کار عبدالقادره
د عشق چار په لاس کښ ونيسه محکمه

قصيده

که په تنِ دِ هر وينښته ژبه هزار کا　　بيا دَ ژبې ئې هزار هزار گفتار کا
که سيندُونه دَ جهان واړه سياهی شی　　قلمونه دَ جهان واړه اشجار کا
فرينښتې، سړی، پيريان و بله ټول شی　　په بيان په کښو هزار څله تکرار کا
دَ خپل خدای دَ نعمتونو په حساب شی　　گمان مکړه چه ئې يَو نعمت په شمار کا
دَ نور چا څه زور قوت چه اولوالعزم　　پخپل عجز کښ له دې بابه اقرار کا
هغه خدای چه برکمال دَی په قدرت کښ　　چه پخوا په خاطر نه وِی هسی چار کا
په اوبو باندی يَوه کربنه محال ده　　چه ئې وکا، ځان که هر څو استاکار کا
حکيمان که واړه جمعَ دَ عالم شی　　په هوا به يَو ورق کله قرار کا
ده اساس دَ درست عالم په اُوبو کښيښ　　دَ نور چا کله قدرت چه هسی کار کا
هم ئې بې ستنيوُ اسمان دَی درَولی　　حيرانيږی چه نظر ورته هوښيار کا
گران آسان دَ ده قدرت وته يکسان دی　　نه خلقت دَ چا آسان دَ چا دشوار کا
ورته يَو خلقت د ماشی دَ اسمان دی　　کاه او کوه په يَوه آن کښ پديدار کا
باد او خاوری اور اُوبه که هر څو ضد دی　　په يوه مکان کښ جمع هر څهار کا
که پخپله اور غالب وُ پر لرگيو　　تروئې ولی په لرگيو کښ حصار کا
که څلور دِی که پنځه که شپږ اُوه دی　　همگی په حکم کار دَ کردگار کا
حرکات دَ هيڅ اشيا نسی بې حکمه　　سکنات کله پخپله اختيار کا
جهان ډک کاندِی په ورځ دَ نمر له نوره　　بيا په شپه نابود دَ ده واړه انوار کا
ښايسته کاندِی اسمان په شپه په ستوريو　　په ورځ مځکه ښايسته په لاله زار کا
دَ خزان په وخت زينت له مځکی يوسی　　ښايسته ئې بيا په وخت دَ نو بهار کا
دَ اُوبو تفاوت هيڅ و بله نه وِی　　ترې پيدا رنگا رنگ گل الوان اثمار کا
نه دَ گلو رنگ و بوی په يَوه شان وِی　　نه لذت دَ سيبو ونه دَ انار کا
له يوه باغه ميوې له يوې مځکی　　تفاوت ئې دَ لذت تر منځ بسيار کا
په همه کاڼيو تابش دَ نمر يکسان دی　　ځنی کاڼی ځنی لال ياقوت آبدار کا
له يوه څاڅکی پيدا کا مرغچيچی　　له يوه څاڅکيه پيدا دُر شهوار کا

له یوه اصله نطفه پیدا انسان شِی
ځنی ځنی مسلمان ځنی کفار کا

څوک بدرنگ چه له لیدو ئې نفرت مومی
ځنی ځنی ښایسته کښلی نگار کا

څوک تونگر دَ قناعت په خزانو کا
څوک دَ طمع دَ حرص په خواری خوار کا

څوک توفیق دَ طاعت بیا مومی له ده نه
شپه او ورځ ئې خپل طاعت وته بیدار کا

چه توفیق دَ عبادت ور ځنی واخلی
مخ ئې تل په میخواری لا په قمار کا

له ازله چه طالع دَ چا تریخی وی
له حلالو ورته لا خواږه مردار کا

خزانې ئې لایعد او لایحصی دی
ولی ورکړه دَ هر چا پخپل مقدار کا

نیک و بد له ده هر چا وته رسیږی
خوار هغه شه چه په دا باندی انکار کا

په طلب ئې څوک په دَو څوک په ځغستا ځی
څوک په سر څوک په سینه پسی رفتار کا

دَ میږی دَ پښو آواز اَروِی بې غوږو
چه په توره شپه په تور کانړی گذار کا

نژدې لیری ئې لیدو ته برابر دی
دَ نظر حجاب ئې غرنه ئې دیوار کا

دَ نفس څښتن همه واړه هوهو کا
نه یواځی ذاکران دَ ده اذکار کا

تسبیحات ئې نه یواځی فرښتې وایی
تقدیسات همه اشیا دَ خپل دا دار کا

دَ دنیا عمارتونه چه لیدَل شی
دَ دوران په زلزلو به ئې مسمار کا

همیشه به ئې چیچی پرې به هړاند وی
په بخیل به دَ بخیل خزانه مار کا

چه دَ ظلم اور ئې بل کړ په عالم کښ
ظالمان به ځان سوخته په دغه نار کا

پخپل ځان باندِی ستم کا نه پوهیږی
چه ستم په بې وزلانو ستمگار کا

مکافات به یَو په سله ځنی واخلی
چه بې شرعی لږ دَ چا خاطر آزار کا

عاقبت به وږَی تږی ځنی درومی
که هر څو لئیم په کور کښ زر انبار کا

چه بې ځایه ظلم کا په مظلومانو
ځان ظالم په طوق دَ لعن گرفتار کا

حسنات به ځنی واړه خصمان یوسِی
پرې انبار به دَ خصمانو بد کردار کا

دا دنیا لکه مزرع دَ آخرت ده
پکښ کَر ځنی دَ گلو څوک دَ خار کا

دَ اخستو ورځ ئې ورځ دَ قیامت ده
هم هغه به وَریبی چه کښت و کار کا

دَ جهان ورکوَل کل په عاریت دی
تعلق به دانا څه په مستعار کا

چه ئې پسله ده نور تار په تار ولجه وړی
مرد هغه چه پخپل لاس ئې تار په تار کا

چه پر تله ترپلی لا دَ سپاره سخت دی
بډایی په پلی ولی شهسوار کا

چه په خدای باندی غنی، غنی هغه دی
دَ سبب په غنا څه څوک اعتبار کا

لایزال دَی سلطنت دَ گدایانو
دَ زوال ویره ئې نشته نه ئې ډار کا

دا دَ فقر لوئی څو ده نه پوهیږم
چه بهتر دَ موجودات پرې افتخار کا

ستا په ور کښ گدا پروت په تورُو خاورو
که دَ درست جهان بادشاه شِی ځنی عار کا

چه ئې زړه په معدوم تینگ دَی تر موجوده
ما دِ خدای تر هسی رنگ ځوانانو ځار کا

وُر کوَل په طمع ورکړه دَ رشوت دَه
ناپوهان به ورته وائی چه ایثار کا

که گنج غواړې رنځ کوَه عبدالقادره
مزدوری به ئې هم وومی چه کار کا

قصیده

که دِ نشته په یقین کښې درغلی[1] — دَ کوڅې دَ سپی ئې تلی څټه تلی
په مزریو ئې شرف دَی دَ سگانو — چه انکار کا دغائی دَی دغلی
که ئې سپی په شور دریاب کا ژبه تره — هغه دم به ئې اَوبه شی عسلی
دَ کمال ویره ئې هیڅ دَ زوال نشته — لایزال ئې دَی کمال لم یزلی
تمامی عالم درود ور باندِی وائی — ځنی ځنی په خفیه ځنی جلی
موجودات واړه لښکر د دې بادشاه دی — نمر سپوږمۍ ستوری ئې واړه مشعلی
انبیاء ئې دَ لښکر جماعت دار دِی — سپاه نه پریږدِی چه کا بد عملی
نقیبان دِی نقباء چه اهتمام کا — دا د تا دوئی خدمت ښه راولی
هم پدا امید ادریس‌ﷺ دِ زرگری کا — که ئې ساز دَ براق ځل کا بخملی
د صالحؑ ناقه تل سر وَهی له کانیه — چه ئې نشوم په لښکر کښې پرتلی
د خلیلؑ غُندِی به خلاص شې له نیرانه — که دَ ده په عشق کښې نه ئې خللی
عرش ئې تخت چه باندِی ناست دی عدالت کا — چه اودس پرې کا کرسی ئې صندلی
جبرائیلؑ ئې جلو دار زین پوښ په غاړه — په رفتار نکا یَو دم معطلی
میکائیلؑ مکیال په لاس خدمت ئې دا دی — چه غلې ئې و لښکر وَته تلی
اسرافیلؑ ئې نَی نواز حکم ته گوری — بې دې کاره په بَل ندی مشغلی
عزرائیل ئې دی شحنه، دوږخ ئې حبس — دَ دین غله ئې بې عزته وروِلی
و صدیقؓ ته ئې به وخت دَ رحلت ووې — نائب یې ځما په حکم ازلی
چه انکار کا څوک د تا له خلافته — دَ هغو په دین کښې پریوزی ارجلی
چه رانجه کا دَ صدیقؓ دَ قدم خاوری — هاله کشف غطا شِی دَ هر ولی
حق وَیل دَ توکل په قوت کیږِی — دَ عمرؓ غندِی بل څوک توکلی؟
چه حیا د عثمانؓ پر یو شی په خلق — په ایمان به درست جهان شی ممتلی
حد دَ چا دَی چه علیؓ سَره سیالی کا — ورته خدای وې "لافتٰی الِاعلی"
څلور واړه څلور رکنه دَ اسلام دی — دَ اسلام کوټه بې دوُی وه خللی
محبت دَ هر اصحاب په زړه کښې ځای کړه — چه حاصل دِ شی دَ خدای پیژندگلی
دَ اصحابو محبت قلب سلیم کا — نه هغه کا چه ئې زړه وِی عللی
که په چا دِ محبت په چا دِ نه وِی — رافضی شوې، خارجی، معتزلی
په حرمت دَ کربلا دَ شهیدانو — هم می لیری کړه له زړه طول املی

---

١. یعنی دروغ او کوټه والی.

یا الله عبدالقادر ور ځنی خلاص کړې
په حصار کښ دَ هوا دَی قبلی

قصیده

مرد هغه چې بخښښ لکه دریاب وی
په ښه بد باندِی مشفق لکه آفتاب وی
لکه مځکه هسی پست په تواضع وِی
دَ واړه عالم مرجع وِی هم مآب وی
په ثبات کښ تر غره لا ثابت قدم وی
په صفا او په نرمی کښ لکه آب وی
تل ئې وچولی دَ میاشتی غُندی ویل وی
دوست دښمن ئې له دیداره کامیاب وی
قناعت لکه همای په استخوان کا
نه ظالم نه حرصناک لکه عقاب وی
چه دَ ظلم لمبې بلی په عالم شی
پرې بریان دَ ده خاطر لکه کباب وی
په نعمت کښ شکر کا په محنت صبر
زړه ئې ټینګ په مسب نه په اسباب وی
په قضا دَ حق راضی خورم خورسند وی
ورته یَو جنت دوږخ ثواب عقاب وی
یو زمان ئې زړه خالی نه وِی له یادو
که په ناستی که په تللو که په خواب وی
اوامر لکه سنت ادا کوینه
پټ څرګند له نواهی په اجتناب وی
که اشیا ورته ښکاره کماهَی شی
مناجات ئې ''زِدنِی علماً'' یا وهاب وی
عام عالم ته ناست ښکاریږی په رفتار کښ
دَ وصال تر شېې لا تله دَ ده شتاب وی
له تأثیره ئې بد ښه، لکه مس زر شی
په لمبو دَ عشق سوخته لکه سیماب وی
څو چه ګرزی دَ دنیا په خرابات کښ
په باطن کښ آبادان ظاهر خراب وی
دَ ډک سیند غُندِی آواز نکا بهیږی
نه پرشوره پر غوغا لکه سیلاب وی
دَ دانا سوال ځواب په ادب ورکا
و احمق ته ئې په پټه خوله ځواب وی
دَ ښو بوی ئې په همه دیار پریشان وی
درست وجود ئې په معنا دَ مشکناب وی
په ظاهر جامه له خلقه سَره خلق
په باطن کښ تابعین وی یا اضحاب وی

هغه مرد ولی ګڼه عبدالقادره
چه عمل ئې په سنت او په کتاب وی

قصیده

شګفته په باغ او زاغ شول دَ بهار ګل
هم په بام هم په کوڅه هم په دیوار ګل
نه یواځی ګل دَ ګلو بوټی وینو
بادام ګل شفتالو ګل وینو انار ګل
هر اشیاء دَ مځکی ګل پروردګار کړه
جمادات ګل نباتات ګل کل اشجار ګل
کانِی بوټِی خار وخس په ګلو پټ شول
دَ همه واړو عیبونو شو ستار ګل
چه د سترګو نظر لګی واړه ګل وی
وړاندی ګل دَ وروستو ګل یمین یسار ګل
هیڅ یَو ځای خالی له ګلو پاتو نشو
په بازار ګل په صحرا ګل په کوهسار ګل
که اسمان په شپه په ستوریو ښایسته وی
لا ترې مځکه ښایسته کړه په بهار ګل

عندلیب نارې وهی چه سیل کاښې
بهار درومی ریژیدون کا په وار وار گل

لا تر کوره کوردید پروت په گور کښې ښه دی
چه به نه گوری سبز کال د دې گلزار گل

دَ بهار په سیل جونه زلمی کښیږدی
په اوربل گل په ټکی گل په دستار گل

دَ دلبر صورت تمام لکه گل روغ دی
پښې ئې گل لاسونه گل چهره رخسار گل

می گلگون، ساغر گلگون ښیښه گلگونه
ساقی گل حریفان واړه گل نگار گل

دَ بهار په سیل وخوځه له کوره
دَ راتلو دِ هرگور ډیر کا انتظار گل

چه گلونه بویوې احتیاط بویه
چه په شونډُو دِ و نکاندِی پرهار گل

چه دَ گلو هار په غاړه نازنین کا
په سینه باندی ئې څرخی لکه خار گل

خاص او عام ئې بهره من په ننداره شول
منتونه په هر چا باندی کړه بار گل

چه دَ یار له وصله ښاد وِی گل به گوری
دَ مهجور به هر گز هیڅ نه وی په کار گل

چه بې یاره دَ بهار په سیل درومم
په خاطر باندی می لگی لکه نار گل

په هزار رنگه گلونه شگفته شول
ولید نشو یَو په شان څما دَ یار گل

چه دا هسی ئې په ډکه خوله خندا کړه
مگر نه وُ له خزانه خبردار گل

په هوس په خوشحالی ئې آموخته وې
گل پروره مکړه ژر دَ ژره خوار گل

بلبل هیڅ نه وُ خبر دَ عشق له تاوه
په فریاد کړ، په نارو کړ، په چیغار گل

چه دَ سرای په مځکه وا دَ پسرلی گل شی
شرمنده کا دَ کشمیر دَ بل دیار گل

دا رنگ گل چه په سبز کال دَ غواص[1]وا شول
دَ چا یاد نشی پخوا هسی بسیار گل

چه ښبان دَ خپل اشنا ور ځنی مومی
ځکه یاد عبدالقادر کړ په تکرار گل

په بیاض کښې می دَ شعر ډَول ډَول
شگفته دی تر دا ښه هزار هزار گل

قصیده

د بقا بهبود ئې نشته فانی ده
په دنیا چه مینه کاندِی نادانی ده

دَ دنیا دَ خلقو کار راته ښکاره شو
دَ سیلاب په مخ ئې کړې ودانی ده

دا چه ته ئې ودانی گڼې ناپوهه
دَ عاقل تر فهم عین ویرانی ده

تارکان به ئې دلې هورې خوشحال وی
تر حاصل دَ راغبانو پښیمانی ده

جمعیت دَ زړه په بخره دَ یکبین شو
دَ دو بین په بخره شوې پریشانی ده

دَ محنت په لاری ځه که مراد غواړې
ستا دَ مراد تر منځ پرده تن آسانی ده

هندو هم په خوله وَیَل کا چه خدای یو دی
و قضا ته ځان سپارَل مسلمانی ده

نفسانی کارؤنه کفر ور ښکاریږی
چه ئې بخره له ازله روحانی ده

په پریښوَل به دَ مراد مراد حاصل کړې
گام په کام دَ پاسه کښیږده کامرانی ده

---

۱. ۱۰۹۷هـ کال.

چه په لهو په لعب ئې ضایع نکړې
دا ځو ورَځی غنیمت زندگانی ده
نورانی ئې په طاعت په عبادت کړه
کله شپه دَ بیدارانو ظلمانی ده
چه ماذون له حقه نه وِی شیخی کاندی
باور وکړه شیخی نده شیطانی ده
چه ئې صرفه دَ پیرانو په خدمت کړه
هم هغو بهره میندلې له ځوانی ده
خود پرست دِ عاشقیٖ ته هوس نکا
مرتبه دَ عشق اول جانفشانی ده
تحیر په موافق دَ معرفت دی
ځو ئې شناخت هومره ئې زیاته حیرانی ده
په یَوه دانه اُوه سو دانې اخلی
پدا شان دَ نیکو کارُو دهقانی ده
پاس دَ زړه په آس قدم، پاس دَ نفس کړه[1]
پاس په تخت کښینه شاهی دَه خاقانی ده
دَ مزری غُندِی سرکوز نه ځې په لاری
په هر لور دِ لکه سپَی نگرانی ده
پوښتیده به هر یَو شِی له رعیته
هر سړی ته ئې ورکړې سلطانی ده
حکومت ناستې په پل دَ جهنم دی
سهله کله دَ عالم حکمرانی ده
رعیت لکه رمه له لیوه ژغورِی
بادشاهی په حقیقت کښ شبانی ده
په ستم ئې تمامی جهان خراب کړ
څه عجب دَ اورنگزیب جهانبانی ده
که رستم غُندِی ځوان لاندِی کړې دا څه شی
دَ زیردستو جفا وړه پهلوانی ده
عالیشان به په نخوت په کبر نشې
کمینی کړه کمینی عالیشانی ده
پدا قول متفق دی هوښیار واړه
چه بلا تر هر څه سخته لسانی ده
که خبر په حقیقت یې دَ خبرُو
خاموشی کړه خاموشی سخندانی ده
خپله ژبه ئې په ځان باندِی بلا شوه
چه بلبله په قفس کښ زندانی ده

ځان تر هر چا کم گڼه عبدالقادره
که پوهیږې هم په دا کښ کلانی ده

قصیده

په زړگي باندِی می غم انبار انبار شی
په راتله دِ همه واړه تار په تار شی
همیشه را څخه ناست او سر په څنگ کښ
ستا په ناست مي زړه آرام نیسی قرار شی
ښایسته دَ چین ماچین که دَ بل ملک دی
همگی دِ ستا تر کښلیه مخه ځار شی
ستا له حاله به و تا وته څه وایم
پټ احوال به مو په مو درته آشکار شی
دا رشتیا وَیل ترخه په سړی لگی
چیری نه وِی چه خاطر دِ پرې آزار شی
په ترخو کښ نفعه زیاته تر خوږو ده
باندِی ځکه رغیدَنه دَ بیمار شی
چه وَیَل دَ نیکخواه نغوږی پرې عمل کا
هم هغه به پخپل عمر برخوردار شی
دَ زړه غوږ باسه و ما ته چه ووایم
ځو خبری چه گوهری ترې نثار شی
دَ صورت خوبی همه په عاریت دَه
څه خوبی به دَ دانا په مستعار شی

---

۱. پاس دَ زړه، پاس دَ قدم، پاس دَ نفس کړه.

ستا پخوا ښایسته هم وُ وار ئې تیر شو   پخپل حسن به ستا څرنګ اعتبار شی
دَ ښایست خو دِ یَو څو ورځی باقی دی   پژمرده به دِ دَ مخ تازه بهار شی
صباحت به دَ بدل په قباحت کا   چه دِ تور ویښته ښکاره په سپین عذار شی
دغه مخ چه دِ تر ګل ښایسته روغ دی   دَ ویښتو په ټوکیدل به لکه خار شی
دا چه اوس در پسی ګرزی ډلی ډلی   همګی به لتا بیارته په وار وار شی
دغه ناز به دِ بدل واړه په نیاز شی   څوک به نه وِی چه دَ ناز دِ خریدار شی
هم هغه چه اوس بلا د تا آخلی   تر بلا به ورته بد د تا دیدار شی
ستا ویښته به لکه خار ور باندی څرخی   چه په تا مَین لتا بوس و کنار شِی
دَ پټو په ځای به ناست یې په مجلس کښ   اوس دِ ناسته که په غیږ کښ دَ خپل یار شی
دا چه اوس دِ په لیدلَو نه مَړیږِی   هم هغه چه تا ته ګوری به ئې عار شی
ګه ګهی چه تیر ساعت درته زړه یاد کا   ستا به سرې اوُښکی روانی په رخسار شی
که دِ خوی خصلت دَ ښو وِی خوښ به اوسې   که خصلت دِ دَ بدی وی ستا به زار شی
دَ سیرت خوبی پیدا کړه چه باقی ده   په دنیا په آخرت به دِ په کار شی
مټ په علم په ادب به ښه خلقت کړه   چه دلې هورې دِ جوړ پرې کاروبار شی
خود به علم خوی ادب درته بیان کا   څو خویونه به ځما و تا ته شمار شی
نیک اندیش نیکو وَیُونکی نیک کردار شه   چه ممد دِ په هر کار پروردګار شی
کمینی کړه چه هر چا وَته عزیز وی   کبر مه کوَه آخر کبرجن خوار شی
همیشه خوله پټه اوسه په مجلس کښ   په ضرور دِ ستا دَ خولې وَیَل اظهار شی
که دِ سر درومی دروغ مکړه رشتیا کړه   دروغجن سړی بې قدره بې وقار شی
له هیچا نه غیبت مکَوه چه اور دی   کل طاعت به دِ سوخته په دغه نار شی
سخن چین مه شه نمام چه په قیامت به   دا دوه ګروهه په دوزخ کښ ګرفتار شی
چه وعده وکړې له چا نوره ئې مکړه   فرق پدا دَ مسلامان او دَ کفار شی
قناعت پخپل قسمت کړه حریص مشه   دَ ازل ویش به نه لَږ نه به بسیار شی
سخاوت کړه که په لږ وِی که په ډیر وی   پدا خوی سړی هر چا وته رویدار شی
شجاعت په موافق دَ شریعت کړه   بې له شرع به لتا که څوک آزار شی
بې قضا دِ نشته مرګ په غلیم مټ کړه   که په لاس دَ همه واړو ذوالفقار شی
فخر مکړه په دنیا دَ هندو هم وی   دَ مؤمن په ښو خویونو افتخار شی
له هغه مجلسه تښته په کروهونو   چه وَیَل پکښ دَ شر یا دَ اشرار شی
ناست وَلاړ دِ له هغه زلمیانو ستا وی   چه پټا کښ ئې ښکاره دَ ښو آثار شی
چه ئې مینه په شریر وِی دَی شریر شی   هر چه مینه په اخیارو کا اخیار شی
چیری نه چه و زنا وته زړه هسک کړې   څوانی مرګ به په دنیا کښ زنا کار شی
دَ دوزخ دَ عذابونو به لا سخت وی   په قیامت چه بوی روان دَ ده مردار شی
بنګ شراب مخوره چه ورځ دَ قیامت شی   خمر خور دَ بت پرستو په قطار شی

یو ذره خلاف دَ شرع قدم مږده — دَ کتاب په موافق دِ ستا رفتار شی
که پدا وَیَل عامل شې ځما ځانه — ستا مکان به دَ جنت تخت الانهار شی
ستا په شعر آفرین عبدالقادره
په پښتو خو به هم هسی رنګ ګفتار شی

قصیده

چه دلې نشوې په شرع مستقیم — دَ صراط په لار دِ وینم هورې بیم
که په اور دَ ریاضت خپسرو سوځې — لاله زار به درته اور شی دَ جحیم
دَ ګناه توری دَ سترګو په اُوبو ځی — له ژړا دِ قراری نکا اشیم
چه هیڅ زیرمه دَ عقبا دَ سفر نکړی — د دنیا په سرای کښ ځان ګنی مقیم
عاقبت به دَ ارمان اورغوی ژوی — دَ هغو چه شیطان یار شو، نس ندیم
دَ غلیم په وَیَل ولی کړې کارُونه — که ته نه یې دَ خپل ځان سَره غلیم
دَ دانا صحبت صحت دَ رنځور زړه دی — دَ ناپوه صحبت عذاب ګڼه الیم
چه راضی پخپل قسمت نه ئې حرص کړې — سکه پیدا کړه بې قدیم بل قسیم
مګر سترګی ئې دَ ګور خاوری مړې کا — موږ به نشی حرصناک په زر و سیم
غاښ مات شوَی په خوړل دَ کاڼیو ښه دی — نه یَوه نمړئ خوړلې دَ لئیم
دَ الله الف همسا ده پر تکیه که — په ملا خم مشه مخلوق ته لکه جیم
که په خوله کلمه لولې نمونځ روژه کا — دروغجن دَی منافق سَره سهیم
دَ دنیا کارُونه وهم خوب او خیال دی — تعلق به پوری څه کاندِی فهیم
چه بې حقه نور باطل ورته ښکاریږی — هم هغه سړی دانا بوله حکیم
چه موجود ئې موجودات کړه له عدمه — څه مشکل که ژوندَ وِی عظام رمیم
خوشحال کړی ئې هرڅوک پخپل خپل کاردی — په هر چا باندی ئې لطف دَی عمیم
نا امید ئې له درګاهه هیڅوک نه ځِی — تفاوت دَ نیک او بد نکا کریم
چه به چا ورسَره بد کړه ده به ښه کړه — مصطفیٰ ﷺ ته ورکړ خدای خلق عظیم
چه په خوی دَ خدای په خوی وُ صفت شوی — ځکه هسی رنګ زغمونی وُ حلیم
دَ نمرو د لمبې ئې ځکه باندِی باغ کړ — چه خلیل ﷺ شو و قضا وته تسلیم
په صفت دَ کمینیٔ آدم صفی شو — په صفت دَ تکبر شیطان رجیم
دَ ارشاد صابون اثر ور باندی نکا — سیه زړه دِی ازلی سیه ګلیم
په آزار ئې اسمانونه په لرزه شی — هر ظالم چه په ژړا کاندِی یتیم
چه دایم دَ مظلومانو وینی پشومی — ظالمان به پیالې وڅښی دَ حمیم
چه په حال دَ مسکینانو ترحم کا — په هغو باندی به رحم کا رحیم
چه ولاړ نشې په غفلت عبدالقادره
که پوهیږې غنیمت دَی دال و میم

قصیده

یاره ستا دَ هجر غم راته دریاب شو
تر نظر می د دنیا هوس سراب شو
ستا په تلو می دَ خوښۍ بساط ونغښت
مهیا راته دَ غم واړه اسباب شو
که پخوا مي ډیر دردونه وُ لیدلی
لا می ستا په جدائيِ زړه کباب شو
په معنی کښ خټکُ تیغ وُ ته ئې آب وې
غوڅوَل به اوس په څه کا چه بې آب شو
خدای له موړه لا پتا باندِی مَیَن وُ
چه رحلت دِ له دنیا پدا شتاب شو
دَ مخ آب ئې هر گور ډیر وُ بې حسابه
مستسقی به ئې په تش لیدو سیراب شو
زر ریزی ئې لکه گل په واجبین وه
نه به تر یو په وخت دَ داد لکه سحاب شو
دوست دښمن ئې له جماله بهره ور وُ
دَ هر چا دَ زړه ارمان دَ ده شباب شو
دُر گوهر به ئې له لعلو ریژیدُون کړ
چه گویا به په کلام با صواب شو
سپک وَیَل ئې هرگز نه وتَل له خولې نه
چه به چا وته په قهر و په عتاب شو
دَ ارمان دَ دانو ډک لکه انار ولاړ
دَ ژوندُون له باغه کله مزه یاب شو
له اندوهه رڼا ورځ لکه تیاره شوه
چه غروب دَ ده دَ کښلی مخ آفتاب شو
چه ئې خوب په پالنګ نه کیده بې گلو
په بستر دَ خاورُو څه رنگه په خواب شو
په هغو رخسارو پریوتلې خاوری
شماتت ئې چه په گلو دَ گلاب شو
چه دا هسی رنگ ځوانان پکښ پراته دی
په اسمان باندِی ډیر فخر دَ تراب شو
دَ رستم دَ اسفندیار دَ ځواب ځوان وُ
دَ قضا حکم پرې راغَی لا ځواب شو
عطارد ئې په اسمان مرثیه وایيِ
دَ زهره له لاسه مات چنگ و رباب شو
په بهانه دَ بارانه څه دَه وفات کړ
فلک هم دَ نوحه گرُو په حساب شو
غواصی کوم دَ اُوښیو په دریاب کښ
نه ئې مومم معظم[1] دُر نایاب شو
په ژړا په واویلا له موړه بیل شو
بیلتون هیڅ زړه سوځی نه وکړه قصاب شو
کله دَ خپلو په دعا جنت مونده شی
سکه بې شکه وا په ده دَ جنت باب شو
درویشت کاله دَ ده عمر زر اته نوی
دَ هجرت حساب په حکم دَ کتاب شو
چه دَ ښهر ودانی وُ ځنی وَوت
سرای ته څه عبدالقادر درومی خراب شو

قصیده

همیشه می ستا له غمه مشغولا دَه[2]
ستا له پسه راته پاتې ښادی دا ده
خپل پرَدِی را ځنی واړه کناره شول
چه تل ملَه دَه را سره اندیښنه ستا ده

---

۱. معظم دَ خوشحال خان خټک له اولادې څخه وُ، دا قصیده دَ ده مرثیه ده.

۲. دا قصیده د خوشحال خان پر وفات ژړا او مرثیه ده.

پہ بهانه دَ آه خپل دم را ځنی درومی | له همدمو بیهوده گله ځما ده
اُوښکی هم دَ وچیدو له ویری ولاړېِ | له تودېِ تیغنی می گرمه تېږ لا ده
نا آشنا همیشه خوښ گرزی هوس کا | پہ جهان کښ دَ غم بخره دَ اشنا ده
دَ غم تخم آشنایی دَه که ئې گورېِ | معتبره و هر چا ته دا وینا ده
دَ هجران غشی پہ هَره سینه لک دی | چه و هر لوری ته غوړ باسم زگروا ده
څوک چه وایی تر بلا بلا وِی سخته | کله سخته تر بیلتون بله بلا دَه؟
جدائی پہ نابودی سړی راضی کا | له ژوندونه پہ مرگ مینه دَ جدا ده
دا چه وائی بد ژوندوُن تر مرگ بتر دی | اوس پرېِ وپوهیدم دا ونیا رشتیا ده
مرثیه به دِ پہ هسی مضمون وایم | چه هیڅوک پرېِ نه پوهیږی چه دَ چا ده
د تا درد می پہ بې دردو پیرځو نشی | ستا دَ درد دَ درست جهان خوښی بها ده
دَ فراق پہ اور دِ وسوم نَو می وچ شو | اوس می تل پہ وچو سترگو ستا ژړا ده
چه هر څیز دِ یادَوَم پہ زړه وریتیږم | لا چه ډیر می ژړوِی د تا خندا ده
زه چه ستا پہ تلَنی بِږغ سَره تیر نشوم | که خواریږم پس له تا دا می سزا ده
پہ ارمان دَ ملاقات له موړه لاړېِ | ځموږ ستا دَ لیدو ژمنه پہ عقبا ده
خپل پرَدِی درباندی هیڅوک حاضر نشوه | نه دِ پاتو مال او ملک نه دِ دنیا ده
چه پیسه دِ پاتو نشوه و کفن ته | هم دا نخښنه ستا دَ جود او د سخا ده
له نا اهلو که دِ خپل وُ که پرَدِی وُ | ځنی تا لیدلې څو رنگه جفا ده
خپل شامت به ئې دلې هورېِ خراب کا | چه بدی کا دَ هغو بدی جزا ده
پہ وطن کښ مسافر غُندی وفات شو | خیلخانه ور ځنی واړه پسی شا ده
خپل دِ نه وُ چه دِ حال ورته بیان کړی | له فانی دنیا دِ وړېِ ډکه خوا ده
دَ دنیا خلقو خو واړه درته شا کړه | ستا تکیه پخپل څښتن پخپل پیشوا ده
بې له صبره له تسلیمه چاره نشته | موږ ور وړېِ پہ قضا دَ حق رضا ده
پہ حرمت دَ پاک رسولؐ چه پہ قران کښ | خدای پہ څو رنگه دَ ده کړېِ ثنا ده
دَ دوزخ له عذابونو پہ امان شې | بهشتی شې شپه او ورځ می دا دعا ده
تر دلې پہ هورېِ خوښ وېِ فال دِ ښه دی | خدای چه ینښې دَ خوشحال نامه پتا ده

نه یَوائی هجران لوټ عبدالقادر کړ
پہ هر ملک پہ هر دیار کښ دا غوغا ده

ترجیع بند

دریغه دریغه دَ دنیا خونه تالا کړَی | پہ ژوندونی ځان بتر تر خاورُو لا کړَی
دَ غرڅه غُندی له خلقه تښتیدلی | ځان له واړو آشنایانو نا آشنا کړَی
چه پہ مرگ سَره له ځانه جدا کیږِی | هغه واړه لا تر مرگ پخوا جدا کړَي

يَو ساعت مه وَى فارغ دَ ځان له غمه　　په هوس مى دَ همه خلقو خندا کړَي
ليونى شوَى چه چا نه پريښوى وَ ورته　　ودانى دَ جهان واړه پسى شا کړَى

مخ په بيدى بيديا ونيوَى ژړلى
دَ صحرا دَ ونو پاڼى پټ خوړلى

چه آخر دِ له فانى جهانه تله شته　　څه په کار که دِ په کور کښ سپين او سره شته
که په تخت دَ پاسه کښينې بادشاهى کړې　　عاقبت دِ بيا له تخته پريواته شته
که لښکر دِ تر حساب تر شماره تير شى　　گمان مکړه چه دِ بې عمله مله شته
جمادات دَ جدايۍ له غمه ژاړى　　ستا لا هيڅ کله نرمى دَ خاطر نه شته
ورَځ په ورځ شيرين ياران در ځنى درومى　　وچوې دله چه لا ستا خوب او خواړه شته

مخ په بيدى بيديا ونيوى ژړلَى
دَ صحرا دَ ونو پاڼى پټ خوړلَى

که هر څو وِى ښايسته په رنگ رنگينه　　لا له رويه، سنبل مويه، تن سيمينه
تر ښه مخ پورى دِ نور دَ سپوږمۍ هيڅ شى　　په سپوږمۍ چه پلَو واخلې و دَرينه
لطافت ئې زيات دَ گل تر لطافت دى　　په عالم ئې دَ خوبۍ خبرى شينه
کښلى مخ به ئې دَ گور خاورى بدرنگ کا　　نازک تن به ئې دَ گور چمجى وخورينه
چه دا هسى احوال دَى پدا دنيا کښ　　پخپل حسن به څوک څه دماغ کوينه

مخ په بيدى بيديا ونيوى ژړلَى
دَ صحرا دَ ونو پاڼى پټ خوړلَى

کشکى زه پدا جهان راغلَى نه وَى　　چه په داغ دَ بيلتانه داغلى نه وَى
يا مى مرگ دَ هلکوالى په ساعت وَى　　چه مى خپل پردى څوک پيژندلى نه وَى
يا زوولَى رُوند په سترگو وَى له ځايه　　چه مى مخ دَ هيڅ اشنا ليدلَى نه وَى
يا خبر په ښه بد مه وَى ليونَى وى　　چه دَ روغو په شماره شميرلَى نه وَى
يا هوښيار شوى تل دَ ځان فکر کولَى　　په فکرونو دَ جهان نيولاى نه وَى

مخ په بيدى بيديا ونيوَى ژړلَى
دَ صحرا دَ ونو پاڼى پټ خوړلَى

په زړگى مى دَ بيلتون لمبې بليږى　　ځکه اوښى مى دَ سترگو را تليږى
دا اسمان چه لکه ژرنده هسى څرخى　　دَ دانو په ځاى ياران پکښ دليږى
دَ دنيا په سراى کښ ځاى دَ مقام نشته　　کاروانونه په هر دم ځنى چليږى
غافلان به په دنيا کښ خوشحالى کا　　چه دا هسى ښه مَيَن ځبله بليږى
هر گز نور کارونه مه کړه په دنيا کښ　　چه دا هسى رنگ شيرين ياران بيليږى

مخ په بيدى بيديا ونيوَى ژړلَى
دَ صحرا دَ ونو پاڼى پټ خوړلَى

په ارمان به يک تنها ووزې له کوره　　خپل پردَى به درسره درومى تر گوره

پہ لحد کښې بہ دِ واچَوی یوائې
غورزَوِی بہ درتہ خاوری لور لہ لورہ
تا بہ پریږدِی دوی بہ وجار وزی کور تہ
پہ بیلتون بہ ئې نارې وهې پہ زورہ
کیر نکیر بہ پہ هیبت در لَرہ راشی
چہ ئې دواړہ سترگی ډکی وِی لہ اورہ
نور څہ مکړہ پہ ژوندون عبدالقادرہ
چہ دا حال دَی آې د زړہ پہ سترگو گورہ
مخ پہ بیدی بیدیا ونیوَی ژړلَی
دَ صحرا دَ ونو پاڼی پټ خوړلَی

مخمس

دا څما زړگی زبون دَی
دَی لہ عقلہ ډیر بیرون دَی
پہ دنیا پسی مجنون دَی
څہ امید پدا ژوندوُن دَی
نن لیدَل، کاندہ بیلتون دَی
خبر شہ دَ نوح علیہ السلام لہ حالہ
چہ ئې عمر وُ زر کالہ
نشو خلاص دَ مرگ لہ جالہ
پہ ارمان لاړ لہ عیالہ
نن لیدَل، کاندہ بیلتون دَی
کہ څوک سیل دَ گلزار کا
نندارہ دَ نو بهار کا
کہ پرې غوږ کاڼہ بیدار کا[1]
عندلیب هسی چیغار کا
نن لیدَل، کاندہ بیلتون دَی
پہ پسرلی گلونہ وا شی
پہ څو رنگ ئې تماشا شی
چہ خزان ور باندی راشی
توری خاوری دَ بیدیا شی
نن لیدَل، کاندہ بیلتون دَی
کہ دَ مرگ خواری تر زړہ کړې
کور بہ وران دَ دنیا تہ کړې
خوشحالی بہ نورہ نکړې
تل بہ دا ذکر پہ خولہ کړې
نن لیدَل، کاندہ بیلتون دَی
چہ جدا یاران تر زړہ کړم
پہ ژَړلُو لیمہ سَرہ کړم
څو ژوندَون پہ دنیا زہ کړم
آشنائی بہ نورہ نہ کړم
نن لیدَل، کاندہ بیلتون دَی
کہ هر څو نازک بدن شی[2]
سپین تر گلو دَ سمن شی
چہ لحد دَ دہ وطن شی
دَ چمجیو پہ خوردن شی
نن لیدَل، کاندہ بیلتون دَی

---

۱. کہ پرې غوږ دَ زړہ بیدار کا.

۲. لکہ گل هسی ئې تن شِی.

که څوک جوړ لوی عمارت کا   تر کسریٰ ئې زیات زینت کا
په مثال ئې دَ جنت کا   دَ مرگ سیند به ئې لت پت کا
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
اې چه خان او ملک نومې   په دماغ په کبر درومې
تل به دا خوښی نه مومې   بند به شې دَ مرگ په لومې
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
په دنیا کښ که قارون شې   لا تر ده به هم افزون شې
چه و قبر ته په یون شې   خالی لاس به ترې بیرون شې
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
که ته ټولی کړې نگاری   ښایسته پری رخساری
پس لتا به شی یا خواری   یا به شی دَ نورُو یاری
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
که سل زر دِ فرزندان شی   لا به دوی په مرگ طوفان شی
ستا زړگی به پرې بریان شی   لا به پاتو یتیمان شی
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
اې ځما ناپوهه دله   نصیحت له مړو آخله
څو دنیا ئې ټولَوَله   ولاړَل دوی دا ئې پریښوله
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
که ئې وړاندِې هاتیان ځی   پسې دَی په تخت روان ځی
لور په لوری ئې سپاهیان ځی   خو به گوښی له جهان ځی
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
که بادشاه دَ درست جهان شی   سلطنت ئې دَ سلیمان شی
چه په حکم ئې دیوان شی   ترې جدا به په ارمان شی
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
که هر څو ئې دولت ډیر شی   تر حساب تر شماره تیر شی
چه دَ مرگ استواځی ویر شی[1]   پرې به زهر یا گنډیر شی
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
هر چه نغته دَ خپل نس کا   دَ دنیا هوا هوس کا
بیهوده چاری عبث کا   فریاد هسی رنگ جرس کا
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی

---

۱. ویر شِی، دَ قندهار په محاوره وَر شِی.

چه به خواه ناخواه ترې ځینه　　نه دِ کا په دنیا مینه
ځان دِ تلُونَی وګڼینه　　دَ قیامت په غم دِ شینه
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
شپه او ورځ دِ عبادت کا　　ترک دِ واړه معصیت کا
ځان دِ جوړ په شریعت کا　　تل دِ زړه ته نصیحت کا
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
اې خوب وړیه زړه بیدار شه　　دَ خپل ځان په غم ګرفتار شه
له ګناهه توبه ګار شه　　تل په ذکر دَ قهار شه
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
ځبله مه تار په تاریږی　　یاران یَو تر بل ځاریږی
هیچیری مه ویزاریږی　　ویزار څه مه آزاریږی
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
چه وَوایې چا ته یاره　　نور دنیا کړه تر ده ځاره
سر ښنده دَ یار دَپاره　　زړه ساتَل غنیمت شماره
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
سترګی وخورې دواړه توری　　چه باقی په فانی پلورې
په دنیا پسې تل ښورې　　دې دنیا وته نه ګورې
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
اې چه ناست یې په تخت باندی　　په شا ځې په قهقه خاندې
ځای دِ دَی تر خاورُو لاندې　　مرګ تل دا ډنډوره کاندی
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
چه جدا له ما محرم شو　　یَو په سله می الَم شو
ځما زړه جونګړیَ دَ غم شو　　چه قائل پدا قلم شو
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
اې ځما دلبره راشه　　مانړی مه کَوه پخولا شه
وموسیږه په خندا شه　　خوا په خوا را سره بیا شه
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
ځی می اُوښی لهر لهر　　وران می شو دَ خاطر ښهر
ناست په غاړه وم دَ نهر　　دا آواز ئې کړ په جهر
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
څوک چه غوږ پدا بیان کا　　څه امید به په جهان کا
کور به دَی دَ دنیا وران کا　　دا وَیَل به هر زمان کا
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی

که په حسن لکه نمر شی	تر یوسف ښایسته تر شی
څو چه قبر لَره ور شی	توری خاوری ئې په سر شی
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی
زه عبدالقادر نه ښایم	چه خپل شعر چا ته نمایم
خو مَیَن پدا وینا یم	هر زمان ئې څکه وایم
نن لیدَل، کانده بیلتون دَی

قصیده

حاکمان او امیران دَ دې زمین	چه لیدَل شِی په دوران دَ محی الدین[۱]
هیڅ حاجت دَ عیان نشته و بیان ته	خود ئې حال دَی وَ هر چا وته مبین
همگی واړه مذموم په خوی خصلت دی	پکښ یَو نشته بادشاه ته دَ تحسین
زه به هم یَو څو خبری له دُوی وایم	چه نن عقل څما زړه ته کړې تلقین
علماؤ فضلاؤ ئې نفرت دَی	په مجلس کښ ئې ارذال کښیني مکین
دَ بل وار نه ورکوی په پوچ ویلو	غوږ کاږه کا چه مذکور کیږی دَ دین
دَ راجپوت دَ رافضی په استقبال ځی	عالمانو ته هسک نکاندی شرین
دَ مسجد په لوری شل شی نه ور درومی	تل ئې آس په پوچو چاړُو پسی زین
کله کله چه سر وَوهی په مځکه	سل منمته بږدِی په رب العالمین
څو دَ خلقو آزار ډیر کا دَ ده خپل وی	په نیک خواه دَ عالم تل وایی نفرین
دَ رشتیا خبره زهر څنی مرینه	خوش آمد دروغ تر شهدو پر شیرین
هم هغه چه خوشامد کا مصاحب وی	لا ترې وِی په بد وَیلوُ څنی خوړین
په میدان ئې شغالان په بریتو میږی	دَ قالین مزری مزری وی دَ قالین
تل ئې هجو دَ سخی دَ مَړَنی وِی	دَ ممسک دَ بیدلانو کا تحسین
همیشه دَ ځان صفت دَ بل غندنه	خود پسند وِی، خود نمای وی خویشتن بین
دَ محنت په ساعت ځِی تحت الثریٰ ته	دَ راحت به وخت قدم بږدِی په پروین
که دولت ئې لکه بحر بې پایان شِی	بیا ساتَل وته چین راوړی په جبین
چه فقیر ئې په وَر وَر سی ورکړه پریږده	په خواږه وَیَل ئې نکا زړه شیرین
یَو درم ئې په ځای نه درومی له کوره	تل بې ځایه ورکوَل دَ ده آئین
خرڅ ئې واړه په کالو او په گینه وی	لکه ښځی آرایش کاندِی تزئین
دَ یوې روپۍ په ځای چه لس آخلی	هم هغه په رعایا کاندِی امین
دَ دهقان په خواروَل ئې سترگی سرې سی	په پټی چه زراعت وَ وینی شین

---

۱. اورنگزیب عالمگیر مغولی پاچا.

پیشکاران ئې په ابرو اشارت وکا | چه څوک وَوینی اغوستی نمری سپین
رعیت چه داد خواهیٔ لَره ور ځینه | کهین واغوندی کوریږدی نمری مهین
ځان او مال ئې له کفارو په امان دی | دیو بدبختو تاخت تاراج کړه مؤمنین
دَ مجرم جرس لا نه وی ثابت شوی | براتیان ئې کار په کور باندې تعیین
رعیت دَ دُوی دښمن وِی دُوی دَ دیو | دوی و ده ته، دَی و دُوی ته کا کمین
هر ظالم چه تعدیٰ په رعیت کا | په قیامت به ئې مقام کاندې سبحین

که باور دِ پدا نشِې ورسه گوره
په قرآن کښ ''بئسَ مَثوَی الظالمِین''

قصیده

دا کارُونه چه نن کانده عیانی دی | هیڅ په خوا په خاطر نه وُ اسمانی دی
چه په وهم فهم نه هغه ښکاریږی | هوښیار ځکه همیشه په حیرانی دی
گهی هسی کار ښکاره شی چه غمجن شی | گاه کارُونه چه سبب دَ شادمانی دی
ساقی راوړه پیاله چه راته یَو شی | غم ښادی ثبات هیڅ نه لَرِی آنی دی
نن نسیم دَ پیښور له لیوری راغَی | څو وینا ئې راته کړی زبانی دی
چه نن شپه مهمندُو وَوَهلې توری | چه وَهلِی نه افغان نه تورانی دی
لیند و غښِ په غشیو وکړ کشاد کاښی | په سر تور توری وَهِی جانفشانی دی
چه لښکری دَ مظلومو اعانت کا | خدای ئې مل شه دا لښکری رحمانی دی
لاله زار ئې شگفته په سرَه اهاړ کړ | هر چه دا بهار نه گوری زندانی دی
دَ باړې اوُبه ئې سرې لکه شراب کړې | دَ سربند کاښی همه ارغوانی دی
یگانه زلمیو غښِ وَبَله وکړ | چه وهَه فلانی وهه هندوستانی دی
توره شپه په تورو ورځ لکه سبا شوه | ځلیدَل ئې لکه برق نیسانی دی
همیشه پښتون مهمندو دَی دروند کړی | که سبب ئې دَ خفت میر افغانی دی
چه په طمعه دَ دنیا کاندِی جنگونه | رنگ ئې ورک شه که رستم دستانی دی
یوسفزی چی زر ووینی ننگ پریږدی | حریفان دِی طامعان دِی نفسانی دی
په خوله هر پښتون دَ ننگ خبری کاندی | ننگ هغه کا چه نانی ندی جانی دی
زرنانی شه صدقه تر جانی ځوانه | پښتون ډیر دی اما څه په کار نانی دی
دا متل دی تیغ په اصل غوځوَل کا | دَ مهمندو توری اوس ندی کانی دی
افریدی شنواری جنگ په غرونو کاندی | غوریه خیل په میدان جنگ کا میدانی دی
مخ ئې ندَی دَ کتو رنځ دِ پرې ساز شی | چه نفاق کا همیشه په پښیمانی دی
فریفته ئې په وَیَل مشه نفاق دی | هغه څوک چه دَ لښکر په ویرانی دی
دَ مغل له دې لښکرو پروا مکړه | اتفاق ئې سَره نشته ځان ځانی دی
په قسم ئې مبادا چه باور وکړې | سوگندُونه ئې دامونه شیطانی دی

له بادشاه شاهزادگانو چه وسواس دی   اخته شوی دوی په جنګ سلطانی دی
دَ سرونو نردبان سازکړی باندی خېژی   مرتبې ته ختل نه په آسانی دی
نه له چا ئې طمع شِی نه له چا ویره
څو څبری رشتیا کړی کرلانې دی

قطعه

زه چه هسی پخپل ځان باندی مَیَن یم   دَ جانان دی په جانان باندِی مَیَن یم
دَ خزان میوه بهار دَ بهار دَی دَی   تر بهاره په خزان باندِی مَیَن یم

مه دِ وینم لباسی په سترګو تورُو   زه پټا باندِی مَیَن یم ته په نورُو
هیڅ حرمت ئې لکه حق وُ په ځای نکړ   میلمه شوَی وُ یوسف په کور دَ کورُو
چه ښهٔ خوی په څه پروا کړم له بدخویو   قیمت لَړِ نه شو دَ دُر په اُوبو شوروُ

دَ شیخ شعدی لاهوری خلیفه حضرت نبوی دَ وفات تاریخ:
شیخ شعدی قدوهٔ اهل یقین   چون منور گشت ازو زیر زمین
از خرد جستم رحلتش   در جوابم گفت ''شیخ مؤمنین''
(۱۰۰٦هـ)

تاریخ د وبا د کال:
په هر کاله کښ دَ مرګ ماتم دِی   وبا نیولَی اکثر عالم دی
ښه ښه یاران ئې ځله جدا کړل   تاریخ ئې راغلی چه ''کال دَ غم'' دی
(۱۰۹۵)

دَ مجنون په مخه سپَی په کوڅه راغی   چه په رنځ دَ پمن والی مبتلا وُ
هغه دم ئې تر پښو پریوت مخ ئې کښل کړ   چه په چم کښ ئې لیدلی د لیلا وُ

دا مثنوی دَ نصیحت نامې دَ کتاب له ابتدا څخه دی، دا نصیحت نامه ټول دَ تجنیس په صنعت ده.[۱]
که د رحم نظر وکړې ربه ما ته   د زړه مینه می به کړې له غیره ما ته
ربه ته ځما څښتن زه بنده ستا یم   تا به غواړم، تا به بولم تا به ستایم
ته قادر یې ښه صورت ورکړې و ما ته   توان د ښو خبرو غواړم را کړه ما ته

۱. افسوس چه دا نصیحت نامه موږ ته نده را رسیدلې، فقط دغه څو دَ سر بیتونه ئې په یَوه دیوان کښ لیکلی دی.

په نسیم دَ محبت لکه گل وایم
رساله به درته وایم په څو وره
په تجنیس په نصیحت پندونه وایم
و معنو ته ئې میړه شه قدم وره

مربع

(د خپل پلار خوشحال خان خټک په ستاینه او دعا کښ)

خدای ئې تل لکه خپل نوم لَره خوشحاله
خردمند نیکو سیرت نیکو مقاله
خوشحالی ئې په نصیب کړه لایزاله
خود پوهیږې هیڅ پښتون ئې نه وُ سیاله

ورکول ئې بې منته دَ حاتم وُ
وای په ځان دَ هغه چا چه په ده گرم وُ
ورته یَو سفال و سنگ دینار درم وُ
ورځ او شپه به ئې کاوه باندِی ارغاله

شرم و ننگ لکه دَ ده وُ دَ چا نه وُ
شور دَ ننگی ئې په سر کښ پروت په زړه وُ
شجاعت لکه رستم هسی دَ ده وُ
شان دَ ده دَی در ښکاره دَ ده تر قاله

حال دَ هر سړی ښکاره دَی تر مقاله
حد دَ چا چه ئې ځواب کاوه له قاله
حل دَ هر مشکل کاوه شی له امواله
حقیقت په مجاز نقل دَی محاله

خار دَ سترگو دَ دښمن پر خپل بهار وُ
خپل پردی له ده همه شکرگزار وُ
خاموشی حلم ئې ډیر درلود بردبار وُ
خټک درست دَ ده په دور وُ نهاله

اندیښنه ئې وه هر گوره ډیره لویه
افغان ده غُندِی چه وزیری بل بویه
اجنبی به ئې کم نه گاڼه تر زویه
آزاده وُ هیڅ ئې نه وړ مال مناله

نوم ئې لاړوُ تر دکن تر قندهاره
نیم درم ئې هم کور نه ساته له عاره
نه وُ بل هسی نامی له زمینداره
نور هیڅ نه وُ دَ ده بې توری بې ډاله

خپل خپلوان ور ځنی واړه وه خوشنوده
خاص او عام وه تل سودمن دَ ده له سوده
خوښ خورم وه همگی دَ ده له جوده
خوش کلام وُ خوش معاش وُ خوش خصاله

تواضع ئې دَ هر چا کړه بې مقداره
تل به ده کړ کبرجن په کبر خواره
تر اندازه کم زیات نه وُ د ده کاره
تکبر په کبرجنو دَی ملاله

کلام ډیر دَ ده شیرین وُ تر نباته
کم دَ ده تر خولې ترخه وتل و چاته
کار ئې د اوُترحیاته تر مماته
کرم وکړ په ده باندِی ذوالجلاله

اور دننه دَ عاشق په زړه بلیږِی
او رنگین شعر پسې ځنی ښکاریږی
ارمان دا دَی چه څوک لَږ پدا پوهیږی
اوس نور څه وایم دَ هسی حال احواله

لام او بې ئې دَ دلبرُو دِی ستایلی
لعل او دُر ئې دَ وینا په تار پییلی
لږ دَ ډیره ما دَ ده حال ویلی
لکه څوک چه دَ یار مخ کا نمر مثاله

(کتاب بشپړ شُو)

دَ ځنو کلماتُو املا

په دې کتاب کښې موږ دَ لغاتو او کلماتو په ليک کښې ډېر ځله د اصلي املا لحاظ کړَی دَی، په اصلي قلمي نسخو کښې ډېری کلمې يَو ځای يَو راز بل ځای بل راز راغلي دي، دَ مفغناتو املا کله په مغغن ډول او کله په اصلي ډول دَه، دغسي هم دَ ځنو کلماتو دَ مختلفو قومونو دَ محاورو اشکال پکښې شته، مثلاً مصلي کله پخپل عربي ډول او کله مفغنه مسله ليکلې، دغسي هم ويجاړ، اوجاړ – اوربل، وربل – بړغ، غبړ – محلت، مالت – اړاند، هړاند – دواړه ډَوله راغلي دِي.

په داسي کلماتو کښې موږ دَ اصل کتاب ډَول غوره کَی، ځکه چه دواړه ډولونه ئې صحيح دِي، نوره املا دَ اوسنۍ مشهوري املا سَره فرق نلَرِي، دَ مجهولي او معروفي ياءِ تميز شوی، او ضمير غائب (ئې) او ضمير مفرد د متلکم (يې) ليکل شوَی دَی.

دَ پښتو نادر لغات

الف

امته: محتاج، پاسدار

انند: خوشحالی، آرام

اسره: طمع، توقع

اوری: اوریږی

اټاله: ایسار، حمله

اوڅار: څرگند، ښکاره

اهاړ: د گرمی موده

ارجل: ماتل، ایسار

استوائی: ریبار، قاصد

آغله: ښکلی

ارغال: یرغل، حمله

ابلی: کاڼیزه مځکه

ب

بورجل: کوڅه

بړبړ: هر کله

بډایی: فخر، غرور

بډی: رشوت

بلوسل: تعرض کول

بڼ: باغ، ځنگل

بړی: ډیر کم مقدار

بید بیدیا: ویجاړ بیابان

بړبوگی: گردباد

بدر: مکمله سپوږمی، چنار

بشر: بنده

بلیږدی: تاوول، نغښتل

بول: قول، وعده

برند: نیغ کتونکی

بکس: لړ، زره

بنبره: مچۍ، غالبوزه

بور: پړانگ

پ

پیچومی: لوړتیا، بلندی

پخښو: ازاد، خوشی شوی، آرام

پوټی: لړ شان

پهوټه: یو ډول هندی خټکی

پخساک: کړاو، زړه چاودون

پهی: پټۍ

پت: غیرت، ننگ

پاړو: منافق، بدچلن

پیرل: اخستل

پړیونه: پروین

پرتلی: بارگیر

پشومی: څښل

پهوړه: خیرنه

پټی: د مځکی یوه برخه

پلور: خرڅول

ت

تالا: تاراج

تکړ: مظبوط، چست، بهادر

تورتم: تاریکی

تنې: د چا عزت ساتل

ټروټ: تاوان
ټنکی: نازک، تروتازه
ټروړی: قرچه
ټلیږی: په غوړو کی اشیدل
ټربخ: پانه
ټلې: غولی، میدان
ټیغنه: نوی بټی
ټرو: تر هغه وخته

ټ

ټګی: فریب، مکر
ټپکی: غار، خندق
ټمیږی: غپیدل، عبث خبری کول
ټانګ: آوازه
ټوکیدل: د فصل سر وهل

ج

جند: اصل، زړه وهلی
جګی جګی: مرحبا
جونګړی: کوډله
جړیږ: د باران اونی، زهر موره
جوک: وزن

چ

چر: طرز، عادت، د چوغکی نارې
چم: کوڅه، محله
چومی: د لیروک مرض
چوړا: خراب، برباد

څ

څله: یقین، اعتبار
څربښت: د غټ والی، شلنډ والی عمل
څاروی: چارپای
څوکه: جانب، طرف
څړه: مجرد، د سپی حمله
څرخیدل: څرخ وهل
څکړل: ټرلی
څڅواکی: قطره

ځ

ځله: پاتی، مضطرب
ځور: رنځ، تکلیف
ځیر: تیز بین، دقیق

خ

خلقې: قدرتی، ازلی
خیر: خجل، شرمنده
خویږی: خوږیږی
خځله: خس
خرخښه: فتنه، وسوه
خیال: فخر او مباهات، آرایش کول
خت: کمیس
خوشی: بیهوده، عبث، بیجا
خرغڅکی: کینه لرونګی
خپسر: آزاد، سربخود

د

داند: جنجال، غوبل
درنګ: معطلی، مکث
دوک: حسد، عناد
دمه: مکث، آرام
دښنه: دښمن
درغلول: محصور کول

دوند: غبار آلود
دړی وړی: پارچه پارچه کول
دلیری: اوریدل
دربشت: یو ډول لوبه

ډ

ډیران: د انبارو ځای
ډنډوره: جارچی
ډاډ: اطمینان، تسلی
ډال: سپر

ر

راغله: راتلل
رسۍ: ریسمان
ربړل: په عذابول
روخ: مقابله
روک: اختلاس

ز

زار: قربان، فدا
زباد: ثابت، پایدار
زرځی: کبړې سترگی
زیار: زحمت کش
زغمونی: جازب

ړ

ړنگ: خراب،ویران

ژ

ژمنه: وعده
ژواک: ژوند، حیات
ژوی: جاندار، حیوان

س

سوبه: فتح، ظفر
سته: ثروت، هستی
سیاره: نفس تنگی
سیند: رود
سپور: سوار، راکب
سیال: همسر
سخ: بخت، سعادت
سمخ: بی حیا
ستۍ: په عشق کی سوځیدلی
ستنه: شا ته کیدل
سروب: بالکل، عیناً
ستون: معطل
سیلۍ: طوفان باد
سوړه: غار، سوری
سیپۍ: صدف
سکه: چهره، قیافه

ش

شند: شاهین (مرغه)
شپیلۍ: د نی تولکه
شیتۍ: پیکان
شارونۍ: مینا (مرغه)
شلانډه: خادمه، سمسره
شین شین: ښکلیا
شومی: جرعه کول

ښ

ښانک: د لرگی طبق

غ

غاښی: کوتل

غاړه غړی: بغل گیری

غړی: زور، طاقت

غنه: نازک اغزی، لون

غوڅ: پرې، قطع

ک

کانده: وروسته، پسته

کاختی: قحطی

کوگل: سینه

کوکه: چغه، فریاد

کروری: ریز مریز

کاسیر: بدکار

کنبل: ایستل، لیکل

کاړ: کان، معدن

کوټ: حصار، انبار

کهنه: گنجایش

کوپارونه: د کفر کارونه

کویلی کوئی: یعنی کویږی او کوکو لری

کړه وړه: شکل او شباهت

کاڼی: تیگی، ډبری

گ

گند: خس او خاشاک

گرزاند: گرځندوکی

گرت: د گوتو په مینځ کی فاصله

گړنگ: لوړ دیوال

گوښی: یوائی، علیحده

گوټ: کنج، زاویه

گړی: یو ساعت

ق

قست: د کار کولو اراده

قبلی: منل

ل

لونل: شیندل

لال: یو ډول شیرین انگور

لگیا: مصروف

لنبل: سفر کول، کوچ کول

لیږدی: کوچ کول

لولۍ: ډمه، بدکاره ښځه

لوړل: قسم خوړل

للیږی: شاهدی ورکول

م

مانه: شکوه، گیله

مخی: مقابل، سیال

مرجوڼا: غواص، غوټه وهونکی

منبود: کوشش، سعی

مله: پرندگان

منگور: مار

میزر: د غله گدام

منبلی: زوړ

مشال: رڼا، شمع، چراغ

مهال: موقع، محل

مټ: قوت، سرعت

مرغچچی: خرمهره

مکیز: ناز، عشو

ن

نشت: سپک، حقیر

نمنځن: محترم، عزتمند

نمنځنه: عزت کول

ناتار: ظلم، جبر

نمری: لباس، جامې

نولیږی: غمگین کیدل

نبات: وابښه،، ترکاری

نتلی: وهل، ټکول

نغته: راپارونه، تحریک

نڅا: گډا، رقص

نخول: زغمل، نولول

نالې: د اوبو ایستلو لار

نومړی: مشهور، نامتو

نڅور: خلاصه، انجام، نتیجه

نمړۍ: لقمه، نواله

و

ورټ ورټ: ژړیدنه

وگړی: انسان، خلق، عالم

وچولی: تندی

ویل: یو قسم کالی

ولجه: لوټ، مال، غنیمت

ول ول: گنجی گنجی

ورخونه: ناله، د اوبو بند، اړخ

ونه: درخته، د قسم کلمه

ویاند: ویونکی، گویا

وزله: بهانه،چاره، سبب

هـ

هواد: وطن، ملک، په فاصله

هراند: بوخت، لگیا

هرگور: خامخا، البته

هیداد: دړکه، بخرداری

هل: یوې، د فقیر آواز

هوډیالی: د عرادې او عزم خاوند

ی

یو: په ټوله، متحد

یون: رفتار، سفر، تلنه